بسم الله

# یو سړی او موټر سایکل


لیکواله: **بېټې دم**

ژباړه: **آغا محمد قریشي**

چاپکال: **۱۳۹۳ل/ ۲۰۱۴ز**

چاپشمېر: **۳۰۰۰ ټوکه**

بیه: **۳۰۰ ؋**


Ketabton.com


................................ ۵

................................ ۸

................................ ۱۱

................................ ۱۲

................................ ۲۰

................................ ۲۸

................................ ۲۸

................................ ۳٦

................................ ۳٦

................................ ۵۱

ې باوري او شکونه ............ ۵۱

................................ ٦۰

................................ ٦۰

................................ ٦٦

ر موټل سایکل تېرېدل ....... ٦٦

................................ ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (دورجې) نښته، - له طالبانو سره لومړۍ جګړه ........................... ۸۰
اتم څپرکی ..................................................................... ۹۸
نهم څپرکی ..................................................................... ۱۱۳
د ترینکوټ سقوط ........................................................ ۱۱۳
لسم څپرکی ..................................................................... ۱۳۰
په بُن کنفرانس کې ناڅاپي ږغ ............................................ ۱۳۰
یوولسم څپرکی .................................................................. ۱۴۴
د کندهار سفر، - د طالبانو له وروستي مرچل سره مقابله .............. ۱۴۴
د پای خبرې ..................................................................... ۱۶۱



# د ژباړن خبرې

په ۲۰۰۱ز کال کې یو ځل بیا دافغانانو هیلې ژوندۍ شوې، د ولسمشر کرزي راتګ ته ډېرو افغانانو او آن ځینو طالبانو هرکلی ووایه، خو بیا هم ځینو افغانانو پر نړیوالو په ځانګړې توګه امریکایانو باور نه لاره، په وینا یې چې د روسانو تر ماتې وروسته یې افغانستان د څو جنګسالارانو په منګلو کې پرېښود. د امریکا د یرغل پر مهال د ۲۰۰۱ز کال په پای کې، د ژمې په سړو شپو  او ورځو کې امریکایانو په سویل کې له حامد کرزي پرته کوم پیاوړی ملاتړی نه لاره، هغه د خپلو افغان پلویانو په مرسته د اروزګان په کلیو او غرونو کې شپې ورځې سبا کولې. په یوه لاس کې یې د یادابنت کتابچه او په بل لاس کې یې سټلایټ تلیفون و، چې پرمټ به یې له رومه نیولې تر شمالې ټلوالې امریکایانو  او نورو انډیوالانو سره اړیکې نیولې. چې مخې ته یې له ټولو ننګونو او سونزو څخه روغ ووت او بلاخره یې د بُن کنفرانس کې هم بریا خپله کړه. هغه د یو ډیپلومات په توګه ارګ ته په دوه لاسه ننوت او د جنګسالارانو په منځ کې را ایسار شو. نه ورسره ښه کاري ټیم و، نه ورسره ښه طرحه وه، او نه هم ورسره دهغه خپل ساتونکي.

حامد کرزي چیري زده کړې کړي؟ هغه د جهاد او مقاومت پر مهال چیري و او په کومه څوکۍ یې کار کاوه؟ هغه په خپله کورنۍ کې کوم دریځ لاره؟ د طالبانو له راپیدا کېدو سره یې دریځ څه ډول و؟ ایا په ربنتیا هم هغه غوښتل چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرو ملتونو کې طالبانو د رژیم استازیتوب وکړي؟ ولي کرزی له طالبانو سره په اختلافاتو بوخت شو، او ولي یې د خپل ډیپلوماتیک پاسپورټ پرمټ بهر ته دوامداره سفرونه کول؟ هغه ولي له امریکا او نورو لویدیځو هیوادونو له استازو، په پاکستان کې د غرب په سفارتونو کې د افغانستان د راتلونکي په اړه همکاري غوښتل؟ ولي امریکا ته د اوسېدو په موخه نه تلی؟ د هغه له اعلیحضرت محمدظاهر شاه، شمالي ټلوالي، د طالبانو مخالفو قومي مشرانو او پخوانیو جهادي مشرانو سره اړیکې څنګه وې؟ هغه څنګه افغانستان ته راغی او څنګه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د ارزوګان په سرو غرونو کې په فرض روژه کې د ګوتو په شمار ملګرو سره وګرځېدل شو؟ هغه څنګه تر ارګه ورسېد او بیا یې له نړیوالو سره د خپلو ملګرو پر لانجې تر کومه ورسېدې؟ هغه ته طالبان تسلیم شوي وو، بیا ولي د هغه د سولې ژمنه چې د کندهار له طالبانو سره یې کړې وه، له خاور سره خاوري شوه؟

دا او دې ته ورته نورې پوښتنې د اغلي (بیټې ډام) په دې تحقیقاتي اثر کې ځوابېدلای شي. ما د ولسمشر کرزي په اړه ډېر کتابونه، مقالې او آن پر انټرنیټ ډېر څه لوستي، خو په دې کتاب کې مې ډېر داسي څه ولیدل چې له وړاندي مې نه و لوستي، او فکر کوم چې ددې کتاب ډېر معلومات به د لومړي لاس معلومات وي، ځکه د کتاب لیکوالې اوه میاشتې له افغان ولسمشر حامد کرزي سره مرکې کولو ته انتظار ایستلی، هغې اروزګان ته هم سفرونه کړې، لنډه دا چې پر څېړنو سربیره یې د ولسمشر کرزي د ۲۰۰۱ز کال د مقاومت د وخت له ملګرو سره مستقیمې مرکې کړې او دا اثر یې چمتو کړی. زه دې اثر ته یواځې د یو څېړنیز اثر په سترګه نه، بلکې د یو پیاوړي ژوندي تاریخ په سترګه ګوم.

په کتاب کې ځیني داسي خبرې هم شته چې لیکل یې زما په اند مناسب نه و، خو مسئولیت به یې ټول د کتاب د لیکوالې تر غاړه وي، زما مسئولیت یواځې تر پښتو ژباړې محدود دی. ما د خپلې پښتو لپاره دومره چوپړ کول غوښتل چې افغان ولس په ځانګړې توګه ځوان کهول ته د بهرنیانو په عینکو کې انعکاس



شوي کړنښې په پښتو وژباړم او هغوی یې ولولي. ما کتاب د لیکوالې له اجازې پرته ژباړلی و، د هغې د غبرګون پر اساس مې د کتاب د پښتو ژباړل شوي اثر واک هغې ته ورکړ، چې په هره خپرندویه ټولنه کې او هر چیري خپروي، کولای شي. زما خدمت د پیسو لپاره نه، د خپلې ژبې د بډاینې په موخه دی. پر نورو هغو ځوانانو چې بهرنۍ ژبې یې زده دي، ږغ کوم چې د پښتو ژبې د بډاینې او افغان ځوانانو د وېښتابه لپاره دې په هره برخه کې اثارو ژباړي.

اوس راځم له ټولو هغو خواخوږو ملګرو مننه کوم چې ددې کتاب د ژباړې پر مهال یې له ما سره په مستقیمه او یا هم غیري مستقیم توګه مرسته کړې وي. ډاکټر فیض محمد ځلاند، شریف الله دوست سرواني، استاد محمد اصف صمیم، عبدالحمید ناصري، اغلې بېټې دم- دهمدې اثر لیکواله، ډاکټر هدایت الله زرمت، الحاج عبدالغفور توخی، احمد جاوید خپلواک، عبدالصمد رحماني، مجیب صافی، محمد خالد نجم، او نورو هغو ملګرو څخه مننه کوم چې له ماسره یې ددې کتاب د ژباړې په برخه کې مرسته کړې وي، او له ما څخه یې نوم له لیکلو پاته شوی وي.

درناوی

آغامحمد قریشي

کابل، نوی ښار

سپټمبر ۲۹مه، ۲۰۱۴ز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کلیدي کسان

**جان محمد (پوپلزی):** په اروزګان کې د کرزي ځانګړی ملګری و، نوموړی طالبانو په ۲۰۰۰ز کال هغه مهال بندي کړ چې هغوی پوه شول جان محمد له کرزي سره د طالبانو پر وړاندې د بلوا او پاڅون پلان جوړ کړی. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته د کرزي ډېره تکیه د جان محمد پر شبکې او ملګرو وه.

**احمد ولي کرزی (پوپلزی):** احمد ولي د کرزي ناسکه ورور او د هغه د لوژستیک مسوول و. هغه له (سي ای اې) څخه تر کرزي پورې ډوډۍ، پیسې او سټلایټ ټلیفونونه رسول.

**سید رحیم (پوپلزی):** دا کس د کرزي پیغام رسوونکی و، هغه ځوان و، تر ډېره په روانو سیاسي چارو نه پوهېده، چې څه روان و او ولې د کرزي لپاره ملاتړي ګومارېدل.

**محمد شاه (پوپلزی):** دا کس د کرزي د ځانګړي ګارډ مشر و، هغه د کرزي د امنیت په موخه سویل ته تر هغه وړاندې لېږل شوی و.

**حاجي مومند (پوپلزی):** دا کس د کرزي دویم ساتونکی و، هغه ته دا دنده ور تر غاړې وه، چې له پاکستان څخه تر ارزګان پورې د کرزي امنیت وساتي.

**حاجي فیض الله (پوپلزی):** دا کس د کرزي درېیم ساتونکی و، د دې کس دنده هم همدا وه، چې له پاکستان څخه تر اروزګان پورې د کرزي امنیت خوندي کړي.



**احمد کرزی (پوپلزی):** احمد د کرزي وراره و، هغه خپل کاکا (کرزی) پر موټر سایکل له ډیورنډ کرښې د افغانستان خواته را واړوی.

**عبدالرحیم اخندزاده (پوپلزی):** دا کس د طالبانو ښوونکی (مولوي) و، کور یې په ترین کوټ کې د کرزي د خوندیتوب لپاره تر ټولو لومړی خوندي ځای و.

**عبدالغني ماما (پوپلزی):** دا کس د حاجي جان محمد غښتلی ملګری و او د سید رحیم په مرسته استخدام شوی و. د دې کس کور په ترین کوټ کې د کرزي لپاره دویم پټن ځای و.

**عبدالعزیز صاحبزاده (دا کس په ختېه الکوزی او په عزیز اغا پیر جان هم مشهور و):** د طالبانو له واکمنۍ څخه مخکې دا کس د حاجي جان محمد تر مشرۍ لاندې د اروزګان د پولیسو قومندان و. هغه د کرزي کلک ملاتړی و، هغه مهال چې ګمان یې کاوه کرزی به ولسمشر نه شي، سخت په غوسه و.

**معلم رحمت الله ( پوپلزی):** دا کس د پوپلزیو لوی قومي مشر و، کله چې حاجي جان محمد په زندان کې و هغه وخت هم دی قومي مشر و، کله چې کرزي ترې د ملاتړ غوښتنه وکړه، هغه رد کړه.

**روزي خان:** په اروزګان کې د بارکزیو مخکښ مشر و، د هغه د قوم ځینو کسانو په نویمه لسیزه کې غوښتل کرزی و وژني، خو په ۲۰۰۱ز کال کې روزي خان د کرزي له خوځښت سره یو ځای شو.

**هاشم خان (غلجی):** دا کس د نورو قومونو پر وړاندې د کرزي ټینګ ملګری و، که څه هم هغه پوپلزی نه و، خو له کرزي څخه یې ټینګ ملاتړ کاوه.

**ابراهیم اخندزاده (پوپلزی):** دې کس په دهراوت کې د کرزي لپاره دویم نوم غوره کړ، که څه هم هغه پوهېده چې د کرزي خوځښت خطرناک و، خو له طالبانو سره د اړیکو له امله د کرزي د خوځښت د بریا لپاره اغیزناک و.

**ملا نقیب الله (الکوزی):** هغه په ۱۹۹۴ز کال کې طالبانو ته تسلیم شو، خو د طالبانو ملګرتیا یې ونه کړه. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته یې د کرزي په استازیتوب له طالبانو سره خبرې پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګل اغا شیرزی (بارکزی):** په اصل کې د کندهار دی، هغه د طالبانو له واکمنۍ وړاندې هم د کندهار والي و. شیرزي د طالبانو د رژیم پر مهال له کرزي سره ګډ کار کاوه، خو د سپټمبر له ۱۱مې وروسته یې له کرزي څخه د خپل فعالیت لاره جلا کړه.

**ملا محمد عمر (هوتک- غلجی):** هغه د ځوانۍ پر مهال په اروزګان کې و. نوموړی د طالبانو د رژیم مشر و، او تر پایه د همدې تحریک مشر پاتې شو.

**ملا عبدالغني برادر (پوپلزی):** په اصل کې دې دهراوت و، او د طالبانو یو پیاوړی قومندان شمېرل کېده.

**ملا شفیق (کاکړ):** دا کس په اروزګان کې د میراباد تنګي سیمې اوسېدونکی او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د هغوی یو پیاوړی قومندان و. ملا شفیق د حاجي جان محمد سخت مخالف و.

**ګریګ (امریکایی):** دا کس د سي ای اې مامور او دکرزي د خوځښت ملاتړی او مرستندوی و.

**جاسن امیراین (امریکایی):** دا کس د امریکا د پوځ یو کاپټن و، هغه په اروزګان کې د کرزي د ساتنې لپاره د ګمارل شویو ځانګړو امریکایي ځواکونو د یوې ډلګۍ مشري پر غاړه لرله.

**جیمز ډابن ( امریکایی):** د امریکا د ولسمشر بوش ځانګړی استازی و، او د افغانستان لپاره یې یوه نوې اداره جوړه کړه.

**عبدالستار سیرت (ازبیک):** سیرت هغه کوله چې د ملګرو ملتونو د بُن په کنفرانس کې کرزی واک ته ونه رسیږي.



# سرچینې

دا کتاب له هغو ۱۵۰ مرکو څخه سرچینه اخلي، چې د ۲۰۰۷زکال د منې او د ۲۰۰۸زکال د ژمي ترمنځ د افغان، امریکایي، پاکستاني او اروپایي ګډونوالو په شتون کې ترسره شوې دي. د کتاب لیکوالې په ۲۰۱۳ز او ۲۰۱۴ز کلونو کې د دویم ځل لپاره له ځینو کسانو سره مرکې وکړې او کتاب یې د دویم ځل لپاره اصلاح او ځینې برخې یې ور زیاتې کړې. ځانګړې مرکې او یا هم عمومي مرکې ترسره شوې. د کتاب ځینې مواد له هغو مرکو اخیستل شوي، چې پېژندنه یې په ټوله کې نه ده وړاندې شوې، بلخوا کتاب له اړینو اسنادو، ژورنالیستانو او د څېړونکو له کړنو او معلوماتو سرچینه اخلي. که څه هم په ۲۰۰۱زکال کې چې د افغانستان په سویل کې څه پیښ شوي، کافي څه نه دي وړاندې شوي، خو کوم څه چې له مرکو لاسته راغلي ډېر اړین او ګټور معلومات ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

کله مې چې له افغان ولسمشر سره د لومړي ځل لپاره وکتل، هغه زما وړه ډالۍ په ورین تندي ومنله. له هغه سره مې د ۲۰۰۸ز کال په مارچ کې وکتل. تر دغې کتنې یوازې یوه میاشت وروسته په یوه ځانمرګي برید کې سل کسان و وژل شول، او له همدې کتنې یوه یا دوې اوونۍ وړاندې پر ولسمشر کرزي هم د افغان سرتېرو د رسم ګذشت د مراسمو پر مهال د وسله والو له لوري برید شوی و، خو هغه تړې روغ وتلی و.

ولسمشر ته مې یو پټو د ډالۍ په توګه ور وړی و، پټو (څادر) د افغانستان په سویل کې نارینه ډېر په اوږو کوي. ولسمشر د ډالۍ په لیدو په تکرار راته وویل، چې ښکلې ډالۍ ده. کرزی سهار مهال اته نیمې بجې په خپل تور زغروال موټر کې چې د ساتونکو تعقیبي موټر هم ورسره وو، راغی. هغه دا شېبه له ډاکټر څخه راستون شوی و، سرتېري یې هم حیران او اندېښمن ښکارېدل، د ولسمشرۍ ماڼۍ تر دروازې یې د هغه پالنه او ساتنه کوله. ولسمشر د یوې پوښتنې له ځواب څخه مخکې په خندا راته وویل: "ډاکټر ته تللی وم، د یوې معمولي کتنې لپاره."

په ولسمشرۍ ماڼۍ کې پر کرزي څلور – پنځه ملایان او د هغه مامورین ور وڅرخېدل، هر یوه یې جلا غوښتنه لرله. ځینو یې توري دربشۍ کړې وې او په وېښتانو یې جېل هم وهلي و. کرزی یواځنی کس و، چې په ولسي جامو کې و. له هغو کسانو سره یې چې ترې چاپیر وو وکتل، ځینو ته یې لارښوونې وکړې، ځینو ته یې کاغذونه لاسلیک کړل، څو شېبې وروسته یې ګرځند (مبایل) غوږ ته نیولی و د تشریفاتو رییس ته یې لارښوونې کولې.

ما ته یې د سهار ناري پر مهال شل دقیقې وخت راکړ، چې د هغه د ۲۰۰۱ز کال د خوځښت او هڅو په اړ ور سره وغږېږم. هغه څنګه د افغانستان ولسمشر شو؟ د مرکې وخت ډېر لنډ و، ولسمشر د افغانستان په روانو حالاتو ډېر بوخت و.



زه په دې تمه وم، چې د ولسمشر څخه څه وخت د هغه له مهالوېش سره سم وموم. ایله په اوو میاشتو کې وتوانېدم چې د ولسمشرۍ ماڼۍ وره ته ورشم. په لومړیو کې راته د ولسمشر لهویاند سره هم د مرکې کولو فرصت نه برابرېده. زه به هر کله هلته په تمه وم، خو ماته به ویل کېدل چې باید په تمه نه شم. له څو میاشتو وروسته په شمال کې یوه بمي چاودنه وشوه. دا یوه ناوړه پېښه وه چې پکې یو شمېر سیاستوال او ماشومان و وژل شول. طالبانو د دې چاودنې پړه پر غاړه وانه خیسته. دا زړه بوږنوونکې وه. د ولسمشر ستومان ویاند راته وویل: "ولسمشر به ستاسو پوښتنو ته لیکني ځوابونه ووایي." له هغه وروسته کرزی له هېواده بهر په سفرونو زیات بوخت شو.

له ډېرو هڅو او انتظار وروسته مې د ولسمشر د ویاند له مرستیال سره د خبرو وخت وموندلی شو. هغه په انګریزي کمزورې خبرې کولې، او یوازې د کورنیو رسنیو په برخه کې یې مسوولیت درلود. ما له هغه وغوښتل چې ولسمشر ته زما د هغو مرکو او خلکو په اړه ووایي، چې ما ورسره کړې وې. ما د هغو کسانو نوملړ لیکلي وو، چې دکندهار او اروزګان وو او په ۲۰۰۱ز کال کې مې د ولسمشر کرزي د سفر په اړه له هغوی سره مرکې کړې وې. دا هغه کسان و چې له ولسمشر سره یې واک ته په رسېدو کې مرسته کړې وه، ما یې یو لنډ لیست برابر کړی و.

د کتاب لپاره د دې خلکو له لوري د ولسمشر په اړه کره معلوماتو ته اړتیا وه. د ولسمشر د ویاند مرستیال زما په خبره پوه نشو، او رډ - رډ یې راته کتل، خو زه ډاډه وم چې د ولسمشر کرزي له ملګرو څخه متاثره شوی و. هغه راته وویل: "تاسې خپل هوټل ته ولاړه شئ، موږ بیا درسره اړیکه ټینګوو او را و به مو غواړو." دوه ورځې وروسته ټیلفون راغی، مقابل غږ کې راته وویل شول، چې موږ له جلالتماب ولسمشر سره ستاسې په اړه خبرې کړې او ستاسې لیدنه له هغه سره شونې ده. یوه ورځ وروسته هر څه سم وو. راته وویل شول: "ولسمشر ستاسې لپاره شل دقیقې وخت لري، تاسې باید یو نیم ساعت له ټاکلي وخت وړاندې راشئ، ځکه امنیتي پلټنې وخت نیسي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشرۍ ماڼۍ د کابل په زړه کې ده، له دوښمن څخه لرې پرته ده. زما ژباړن ولسمشرۍ ماڼۍ ته په يوه وړه کرولا ټويوټا موټر کې بوتلم. موټر ډېر کرار تګ کاوه، لار کې د ټرافيکو ګڼه ګوڼه وه. د سړکونو ترڅنګ رېړۍ له ميوو ډکې وې، يو مسجد چې شنه ګمبده يې وه ښکاره شو، ډېرې ميرمنې مې په شنو برقو (چادريو) کې وليدې چې سوال يې کاوه. موږ يوه دنګ دېوال ته ورسېدو چې ترمخې يې له ريګو ډکې بوجۍ پرتې وې، له سوريو د کلاشنکوفونو ميلونه راوتلي وو. د دې دنګو دېوالونو دننه يواځې ولسمشر کرزي ژوند نه کاوه، بلکې د (سي ای اې) کارکوونکو، د ملګرو ملتونو او امريکا ډيپلوماتانو هم ژوند کاوه. زموږ له کرولا موټر سره نور نظامي موټرونه چې پکې نظامي کسان وو يو ځای شول. په ښار کې زغروال جيپ موټرونه نه تم کېږي، د موټرونو په سر کې د مبايل سګنال بندونکې الې وې چې د ريموټ کنټرول بمونو د چاودنې مخه ونيسي.

د امنيت ساتونکو زموږ موټر وپلاټه، زما ژباړن ورته وويل چې دا (بيټای ډوم) ده. هغه سترګې غټې کړې له کړکۍ يې راته وکتل ويې ويل: "اه! شنې سترګې!" اجازه يې راکړه موږ مخته ولاړو. زما نوم يې په مخابره کې ورته ووايه، له څو امنيتي تلاشيو تېر شوو، چې بالاخره ماڼۍ ته ننوتو.

د تلاشۍ په اخري پوسته کې حالت ترينګلی و. موږ ماڼۍ ته نږدې و، ژباړن مې وپوښتل:" ايا زه نشم ورسره تللای؟" نه؛ ما ژباړن ته اړتيا نه لرله، ځکه ولسمشر په انګريزي ژبه خبرې کولی شوی. له ما څخه يې په دې تلاشي پوسته کې زما قلمونه او بسته واخيستل، يوازې يې د ثبت ماشين راته پرېښود. يوه محافظ راته د چای ست وکړ، زه ورته مسکی شوم، د چای ست کول افغان دود او مېلمه پالنه ده.

زموږ لومړی ليدنه د ولسمشرۍ ماڼۍ په يوه لوی تالاره کې وشوه. دا ودانۍ د (ګل خانې ماڼۍ) په نوم يادېده. زه خاموشه وم، د ودانۍ ګمبدې د مامورينو د تګ پر مهال د هغوی د بوټونو د ږغ ازانګه او انعکاس کاوه. په ودانۍ کې امنيتي ساتونکي يوې خوا بلې خوا ته غلي تېرېدل، زه د زينو تر څنګ څو شېبې تمه



شوم، وروسته د زينو تر څنګ مخته ولاړم، په برنډه کې سره غالۍ هواره وه. په لار کې د (باکنګم) ماڼۍ په څېر دوه ساتونکي د احترام په توګه ولاړ وو. زينو ته مې ور پام شو، دې زينو ته د کابل د ظلمونو شاهدي ورکوله.

د افغانستان وينه تويونکې جګړيزې کيسې، د مشرانو ترمنځ زړه بوږنوونکې جګړې او په اړه يې معلومات دلته ليکل کېږي. په ۱۹۷۸ز کال کې همدلته په همدې ماڼۍ کې د افغانستان تر ټولو لومړی ولسمشر داود خان او د هغه کورنۍ کمونستانو و وژل. دهغوی جسدونه د زينو ترڅنګ پراته وو، چېرې چې اوس غالۍ پرې هوارې وې. د داود خان قاتلينو يو کال وروسته افغانستان ته د شورويانو د راتګ لار پرانيسته، او له دې سره د يوې اوږدې جګړې ور پرانيستل شو. کله چې شورويان له هېواد څخه ووتل، افغانانو په خپلو کې جګړه پيل کړه، ولسمشر نجيب الله هم نوره ګزاره نشولی کولای. له هغه وروسته د جګړو پر مهال، ولسمشرۍ ماڼۍ به په وار – وار محاصره کېده. په ۱۹۹٦ز کال کله چې طالبان واک ته ورسېدل، پخوانی ولسمشر ډاکټر نجيب الله يې ونيو، په موټر پسې يې وتاړه، شکنجه يې کړ، ويې ويشت او بالاخره يې د ولسمشرۍ ماڼۍ مختې ته په څلور لارې کې را ځوړند کړ. د هغه جسد هلته د څو ورځو لپاره ځوړوند و، رسۍ يې غاړه نيمه ور غوڅه کړې وه.

کله چې ولسمشر کرزي د سهار ليدنې پای ته ورسولې، زه يې د مجلسونو يوې ښکلې کوټې ته ور وغوښتم، د کوټې دېوالونه سپين او چت يې ډېر ښکلی جوړ شوی و. ولسمشرۍ ماڼۍ ټوله له سره د پخوا په څېر رغول شوې وه. خو له ماڼۍ بهر له خښتو او دېوالونو لا هم د ورانيو او تېر تاريخ ورې نښې ښکارېدې. موږ د يوه نري ميز په سر کې کېښناستو، دې ميز ته دېرش څوکۍ پرتې وې. د ميز په سرکې دوې څوکۍ ځانګړې شوې وې.

ولسمشر د خبرو په پيل کې راته وويل:"ښه نو له اروزګانه يې پيل کړم." ورته مې وويل:"هو" هغه شېبه به ښايي هغه ته هم دا بل ډول ښکارېده چې يوه غربۍ په افغانستان کې د ولسمشر کيسه ليکي. زه څوک وم چې د دې ټولنې په اړه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکم او په اړه یې سمه پوه شمه؟ خو ما ولسمشر ته څرګنده کړه چې د هغه د ۲۰۰۱ز کال د خوځښت په اړه د لومړي لاس له شاهدانو سره د مرکو او خبرو پر بنسټ غواړم څه ولیکم. یو ځل بیا مې د هغو کسانو نومونه مخې ته کړل چې ما ورسره له وړاندې مرکې کړې وې. ولسمشر زما د مرکو په خبرېدو هېښ او خوښ شو، هغه راته وویل: "څه؟ رښتیا؟ تاسې له هغو ټولو خلکو سره خبرې کړې؟" داسې راته ښکارېدل چې ولسمشر به د بوختیاوو له کبله ما پرېږدي، او ولاړ به شي. زموږ تر شا ولاړ ساتونکي په توره دریشۍ کې و، هغه نېغ کتل او شا وخوا یې څار کاوه چې داسې نه کومه بلا پېښه شي. ولسمشر یو ځل بیا په خبرو شو، راته ویې ویل:" ته پوهېږې؟ دا کار تر اوسه کوم بل کس نه دی کړی." زه پوه شوم چې د ولسمشر پام مې ځان ته واړاوه، هغه راته وویل:"تمه شه، راځه چې چای له عسل سره وڅښو بیا به خبرې وکړو. ډوډۍ او نور هر څه شته." ولسمشر راته په مېلمه پال ډول وکتل، له ما یې وپوښتل چې قهوه، چای او که نور څه د ناشتې لپاره خوښوم؟ ولسمشر د ساتونکي ترڅنګ ولاړ کارکوونکی راغوښت، له دې سره ولسمشر یو ځل بیا په خوښۍ په خبرو شو:" په اروزګان کې به مې داسې پټو پر اوړو کاوه چې تاسو راته ډالۍ کړ، امریکایانو راته یو کوټ راکړی و، هغه به مې اغوستی و، بیټې! هماغه کوټ مې تر اوسه له ځان سره ساتلی دی. که څه هم هوا ډېره سړه وه، خو له ماسره کافي جامې نه وې، دا چې هوا سړه وه نو امریکایانو کوټ راکړ. "ولسمشر یو ځل بیا د خپل خوځښت د پیل شېبو ته ور ستون شو، ښایي ټولې ترخې خاطرې یې یادې شوې وې. هغه وویل:"زما کسان هماغلته وو، هغه کسان چې له ماسره یې له وخته پېژندګلوي لرله، بیټې! په رښتیا سره اروزګان زما د مقاومت او خوځښت مرکز و." په حقیقت کې په ارزوګان کې د کرزي ملګري د کرزي اتلان وو، او کلکه یې د هغه ملتیا وکړله.

ولسمشر ږغ وکړ چې قدیر را وبلئ، زه پوه شوم چې هغه له قدیر سره خبرې کول غواړي، ما له وړاندې ورته وویل چې زه قدیر پېژنم. او غوښتل مې ولسمشر پوه کړم چې ما له وړاندې له قدیر سره مرکه کړې وه. ما غوښتل یوازې اوس له ولسمشر



سره وږغېږم، ځکه زما وخت هم تنګ و، خو ولسمشر زما خبرو ته ور پام نه شو. قدیر د ولسمشر د لومړي مقاومت او خوځښت ملګری دی، هغه د ارزوګان د لویدیځ لوري دې دهراوت دی. کله چې ولسمشر کرزی واک ته ورسېد، هغه قدیر له ځان سره ولسمشرۍ ماڼۍ ته راویست. ولسمشر وویل چې قدیر د لسم ریاست مشر و، له لسم ریاست څخه یې هدف د افغانستان د ملي امنیت له څانګې و، چې د بهرنیو استازو، د هغوی د دفترونو، استوګنځایونو، او په کابل کې د سرینا هوټل د ساتنې دنده ور تر غاړې وه. د قدیر دفتر هم ولسمشرۍ ماڼۍ په حریم کې دننه و، قدیر زموږ د ناشتې پر مهال را څرګند شو. ولسمشر پرې ږغ کړل:"وګوره، دا بیټي نومېږي، دا زموږ د لومړي مقاومت او خوځښت په اړه څېړنه کوي." ما او قدیر په اشاره کې روغبر وکړ. ولسمشر یو ځل بیا په خبرو پیل وکړ:"بیټي! دا جنرال دی، زما نږدې ملګری دی." ښوک چي د چا هڅو ته درناوی وکړي، ګټونکي کېدای شي"، دا هغه کسان دي چې زما هڅې یې راسره پاللې او باید دوی هم وستایل شي. ایا تاسې حاجي حفیظ الله پېژنئ؟ تاسې باید له هغه سره هم وګورئ. هغه له ماسره پر موټر سایکل و چې موږ له پاکستان څخه افغان خاورې ته واوښتو، اوس هغه په عرب امارت کې د افغانستان په سفارت کې کار کوي. "ښایي کرزی پوهېدی چې زه په دې پوهه وم چې حفیظ الله د هغه د مقاومت پر مهال په ۲۰۰۱ز کال کې یو ساتونکی و. ولسمشر په دې اړه وویل:" هو، حفیظ الله زما ساتونکی و، خو هغه له وړاندې اقتصاد لوستی و، هغه په ابو زبۍ کې زموږ په سفارت کې اول او یا دویم سکرتر دی. ماته ولې پر وخت نه ویل کېدل چې بیټي په افغانستان کې ده؟" ولسمشر خپل ویاند ته مخ ور واړوی، هغه وارخطا ښکاره شو، زه پوه شوم چې د هغه زما انتظار ور یاد شو. ولسمشر رانه وپوښتل:" تاسې د څومره وخت لپاره دلې یاست؟ وخت لرئ؟ ایا محمد شاه سره بلده یاست؟ شاه د کندهار په هوایي ډګر کې دی، ما وسره خبرې کړې، هغه راځې دلته، دوه اونۍ وړاندې زما د امنیت مشر ټاکل شوی. "محمدشاه ځیرک او وېښ انسان دی. ولسمشر ته مې وویل چې له هغه سره بلده یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او ولسمشر د ۲۰۰۱ز کال د مقاومت د ګډونوالو نومونو ته ولاړو، له هغو څخه یې ډېر اوس د کرزي په اداره کې په دندو ګمال شوي وو. له دې کسانو څخه یې ځینې د هلمند او کندهار هم وو، خو د هېواد له نورو سیمو هم کسان پکې و، او دا لړلیک لوی لیست جوړېده. دا هغه کسان و چې د ولسمشر کرزي سره یې واک ته په رسېدو کې همکاري کړې وه، او کرزی به یې هېڅکله هېر نه کړي. ولسمشر وویل:"دا زما کلیدي کسان وو." له ولسمشر څخه د هغه د ملاتړو امریکایانو نومونه هېر و، وروسته یې یاد شول چې ورسره کاپټن جاسن امیراین ملګری شوی و.

کله چې مې له ولسمشر کرزي څخه د (سي ای اې) په اړه وپوښتل، ولسمشر د سي ای اې موجودیت رد کړ، او ویې ویل: له ما سره د سي ای اې کسان نه وو. ما په دې اړه ډېره پلټنه وکړه، اروزګان ته مې هم سفرونه وکړل، د کرزي له ملګرو مې هم معلومات واخیستل، په پایله کې دا راته جوته شوه چې له کرزي سره د سي ای اې کسان و، که څه هم هغه نه غوښتل دا خبره بربنډه کړي. څه موده وروسته یو ځل بیا له ولسمشر سره د یوې اوږدې مرکې په موخه مخ شوم، له هغه مې وپوښتل چې (ګریګ) پېژنې؟ ولسمشر کرزی شېبه خاموش شو، راته څرګنده شوه چې ولسمشر کرزی نه غواړي د سي ای اې پر کردار او رول وږغېږي. وروسته یې راته وویل:"ګریګ!، ګریګ خو زما ملګری دی، ته یې څه پېژنې؟" ولسمشر کرزي خبرې کولې، خو د موضوع په بل اړخ وغږېدو، اصل هدف یې راته روښانه نه کړ. کله چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو پر مهال ما د خپلې څېړنې لپاره مرکې کولې، ګریګ په افغانستان کې د سي ای اې مشر و، هغه د ولسمشر کرزي نږدې ملګری هم و. او هر کله به یې له ولسمشر سره د هغه په دفتر کې کتل. ولسمشر ولاړ شو، له ما یې وپوښتل چې ایا د ولسمشر او ګریګ د اروزګان د وخت ګډ انځور غواړې؟ ما په بیړه ور غبرګه کړه چې هو غواړم یې!

ولسمشر کرزي د اروزګان ستاینه راته وکړه، هغه راته وویل:"اروزګان ته ولاړه شه، هغه ډېر ښکلی ځای دی. ښه مېلمه پالنه، خوندورې مستې او د میوو باغونه یې نوم لري." دا دی اته کلونه په تېرېدو و، خو د ولسمشر لا له اروزګان سره ټینګه



مینه وه، اروزګان ورته بریا ورکړې وه.

اروزګان ته د تلو مختلفې لارې او فرصتونه موجود و، که مې غوښتي وای د جان محمد خان په چورلکه کې تلی شوی، که مې غوښتي وای د جان محمد د کورنۍ د نږدې کس مطیع الله سره د موټر په کاروان کې تلی شوی، او یا مې غوښتي وای د کرزي له یوه ملګري چې اوس سناتور و، له هغه سره ګډه ولاړه شمه هم شونې وه. مطیع الله د اروزګان دی، او له ولسمشر کرزي سره یې هم همکاري کړې، هغه له کندهاره تر ترینکوټه د ناټو د کاروانونو د امنیت په برخه ډېرې پیسې پیدا کړې. په پایله کې مې دا خوښه کړه چې خپله ترینګوټ ته لاړه شم، هلته له عزیز سره تمه شوم، هغه هم له ولسمشر کرزي سره په ۲۰۰۱ز کال کې همکاري کړې وه. وروسته هغه هند تللی و، هلته یې د زړه درملنه کوله، چې لګښت یې هم ولسمشر په غاړه اخیستی و.

ولسمشر کرزي ته معلومات و چې زه چېرې اوسېدم، دا د ولسمشر کرزي خاصیت دی چې هغه له خپلو افغانانو سره اړیکې ساتي او ملګرتیا پالي. که کوم څوک د ولسمشر کرزي له ډلې وي، نو جوته ده چې له هغه سره به په تماس کې وي. هغوی به ولسمشر ته د هر څه په اړه معلومات ورکول. دا چې د ولسمشر کرزي په اړه څه لیکم، نو اړینه ده دا ووایم چې د ولسمشر کرزي ډېره تکیه پر خپلو کسانو وه، په دې کتاب کې به تاسې د ولسمشر کرزي د ملګرو په اړه معلومات ترلاسه کړئ، د هغوی په اړه چې ځانونه یې لوړو منصبونو ته ورسول او پیسې یې هم پیدا کړې. والیان یې میلیونران کړل، د پولیسو قومندانان یې ډیکټاټوران کړل، او په حکومت کې له همدې کړښو فساد پیل شو. له بل لوري همدې کړنو هم جګړه وزېږوله، مخالفې ډلې راپیدا شوې. د ولسمشر کرزي کسان که څه هم په رسمي میز نه ښکارېدل، خو د هغه د کور په شاوخوا کې به چاپیر وو. د شپې له اړخه چې ورته ښې ډوډۍ هم برابرولې. په خپلو چارو، قومي مسایلو او نورو دې ته ورته کارونو غږېدل. دا هغه څه دي چې افغان سیاست څنګه چلېږي، دا ډول قوم ته غیرې رسمي لېوالتیا ښودل د افغانانو د سیاست لوری او کړنلاره رابښیئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

کرزي خپل ساتونکي ته غږ کړ: "سید ته خبر ورکړئ چې راشي." دا وخت د سپټمبر د ۱۱مې له پېښې دوې اونۍ تېرې نه وې. کرزي یو ځوان په بېړه ور وغوښت. هغه د روزګان له یوه واړه کلي راغلی و، اوس یې د مشر ورته اړتیا وه. ځوان د کوېټې په ککړو کوڅو کې د مشر د کتلو په موخه روان شو. کوېټه د بلوچستان مرکز دی او له افغانستان سره پوله لري. رسمي ارقام ښیي چې ددې ښار اوسېدونکي تر یو نیم میلیون وګړو رسي. په دې وروستیو لسیزو کې کوېټه د افغانانو په کور بدله شوې وه، په ځانګړې توګه د هغو افغانانو لپاره چې په خپل هېواد کې یې ځانونه خوندي نه احساسول. په دې ښار کې د نشه یي توکیو کاروباریان، سوداګر، مشران او د هېواد دېرش کلنې جګړې ځپلي افغانان په کمپونو او نورو ځایونو کې مېشت وو. دا د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر وروستۍ اونۍ وه. سید له کوڅو، له ګنې ګونې ډکو سړکونو  او مارکیټونو تېر شو.

کرزي په مېلمستون کې ډېر مېلمانه لرل، د هغه کور د کوېټې ښار په یوه لمن کې و. (سټلایټ ټاون- ژباړن). سید د ډېرو خلکو په لیدو حیران شو، هغه به له ځان سره ویلي وي: " څه خبره به وي؟" حالات بدل ول، امنیت هم د ډاډ وړ نه و، نو ځکه ساتونکي ورته ګومارل شوي وو. د کوېټې ښار په دې څنډه کې د نورو افغان مشرانو کورونه هم ول، د کرزي کور ته به یو په بل پسې ولسي افغانان، ډیپلوماټان او ژورنالیستان ورتلل او له هغه سره به یې لیدل. هغوی له یوې پوښتنې سره راتلل، پوښتنه دا وه: "څه پېښېدونکي دي؟" د کرزي په څېر ډېری نورو افغانانو هم د طالبانو له لاسه په پاکستان کې د جلاوطنۍ شپې- ورځې تېرولې. په ټول ښارګوټي کې خلکو ټلوېزیونونه کتل، هغوی غوښتل په رسنیو کې د خپل هېواد په اړه څه وګوري. ځینې یې په غوسه ول، چې ګنې افغانستان د نړیوالې ټولنې له



پامه لوېدلی او د هغوی د مېز د سر په پاڼو کې نشته. دا چې اوس د نړیوالو پام وراوښتی و، نو ټول خلک د امریکا د غبرګون په تمه ول. ټول مېلمانه په کوټه کې په توشکو ناست ول، هغوی دېوالو ته ډډې وهلې وې، کله به یې هم پرلترۍ ووهلې او خپلې لوڅې پښې به یې له ځانونو لاندې کړې. ځینو به یې په خپلو کې مجلس کاوه او ځینو نورو به یې بیا په لوړ غږ ټولو ناستو کسانو ته خبرې کولې.

دوې ورځې کېدې، چې سید د روزګان له مرکز ترین کوټ څخه کوېټې ته راغلی و، هغه د هېواد د راتلونکي په اړه روانو تودو خبرو ته غوږ شو. هغه د سپټمبر د ۱۱مې په پېښه خبر نه و، ځکه په افغانستان کې ټلوېزیونونه نه ول او هغه هم پر لار تر کوېټې له چا نه وو اورېدلي چې په امریکا بریدونه شوي. سید چې د خپل مشر امر ته حاضر و، په دې پوهېده، چې هغه د کرزي په بېړه په کار و. د دروازې ساتونکي په منډه سید د کرزي ځانګړې کوټې ته ورووست. هغه په بېړه په لار کې له څو تنو سره د لاس روغبړ وکړ. ځینو ترې د روغبړ پر مهال پوښتنې پیل کړې. دا یو لنډ وخت و، بیا هم له هغه څخه په نه شناخت کې خلکو پوښتنې کولې. سید په لنډو کې له ټولو سره سترې مشې وکړه، هغه له اوږد دودیز روغبړ تېر شو. د کوټې په کونج کې د چای مېز ایښی و، تر څنګ یې ټلوېزیون چالان و. د ټلوېزیون پر پرده د امریکا د دنګو ورانو شویو ودانیو انځورونه بیابیا خپرېدل. ټلوېزیون ته ناستو خلکو په خپلو کې پر بریدونو تبصرې کولې. د امریکا پر دنګو ودانیو د بریدونو فلم له هر لوري اخیستل شوی و. کامره د منهټان پر دوړو او خاورو ور برابره شوه، بل ځل کامره د وارخطا او وېرېدلیو خلکو پر لور برابره شوه چې له بریدونو څخه د تېښتې په حال کې وو. خو د سید لا پر ېلوېزیون خپرېدونکیو انځورونو ته پام نه و.

سید د کرزي په لیدو د هغه د احترام په موخه ورته ټیټ شو، کرزی ورسره په (السلام علیکم!) باندې روغبر وکړ، سید هم ورته د (وعلیکم السلام!) په بڼه ځواب ووایه. کرزی له څو کلونو په ولسي هڅو بوخت و، هغه ولسي جامې اغوستې چې لویه لمن او لویه پای جامه (پرتوګ) به یې وه، خو پګړی به یې کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله پر سر کوله. د طالبانو په ټوله کې پګړۍ پر سرونو وې. ځینې وختونه به د کرزي یوه خولۍ هم پر سر وه، خولۍ له پګړۍ سره هم پر سر کېږي. د کرزي پر سر خولۍ ورته له پلاره په میراث پاتې شوې وه. د کرزي مخې ته پر مېز ټلیفونونه، کاغذونه او لیسټونه پراته ول. کرزي به ټولو مېلمنو ته له افغاني دود سره سم ښه راغلاست وایه او له هغوی سره به یې ولسي روغبړ کاوه: "څنګه یاست؟ په خیر راورسېدلاست؟ ورونه او کورنۍ مو څنګه ده؟" هر مېلمه ته به یې د روغبړ پر مهال لاس هم ورکاوه. سید د روزګان و، او له حامد کرزي سره یې چې په انګرېزي یې ښې خبرې کولای شوای، راشه درشه درلوده. سید کرزي ته په څېره کې ورته و، خو د سید لویه ږیره وه، هغه ږیره چې طالبانو پرې په زور پرېښې وه. دوی دواړو په خپلو خبرو کې یو بل ته د زړه ډاډ ورکاوه: "شکر دی ربه! شکر دی ربه! الله دې وساته" له خبرو وروسته کرزي سید ته د پلان یوه برخه وویله، هغه ته یې ټول پلان تشریح نه کړ، هغه فکر کاوه داسې نه چې کومه بلا پېښه شي. سید ته یې وویل چې باید بېرته روزګان ته ولاړ شي: "تاسې بېرته خپل ځای ته ولاړ شئ او زما پیغام ور ورسوئ." بې له دې چې سید ته د نورو خبرو په اړه معلومات ورکړل شوي وای، یوازې دومره ورته وویل شول چې په رزوګان کې په کلیو او بانډو وګرځي او هغه کسان خبر چې کرزي ورته په ګوته کړي دي، چې یو ځل دې کوښتې ښار ته ژر ورشي او له حامد کرزي سره دې وګوري.

سید په کلیو او بانډو او دروازه په دروازه کرځېدلو ته اړ و، ځکه د اړیکو اسانتیاوې نه وې، هغه باید د پخوا د خلکو په څېر زیار ایستی وای. د طالبانو د واکمنۍ پرمهال په افغانستان کې د اړیکو لپاره تلیفونونه نه وو. نړیوالو مرستندویه کارکوونکو سټلایټ تلیفونونه کارول، چې په پایله کې د طالبانو له لوري پرې فشارونه زیات شول او هغوی یې له هېواد څخه بهر تلو ته مجبور کړي وو. د نړیوالو مرستندویه کارکوونکو له دفترونو تلیفونونه غلا شول، ځینې وختونه به تلیفونونه غلا کېدل، او ځینې نور وختونه به طالبانو د لا ډېرو معلوماتو په



موخه له ځانونه سره وړل چې پیدا کړي کوم چا خو به پرې جاسوسي نه کوله. په عمومي توګه په افغانستان کې دولتي کسانو وړې مخابرې کارولې. دا چې کرزی پر سید پوره باوري و، او له بل لوري یې غوښتل پیغام یې سم تر اړوند ملګرو ورسي، نو ځکه یې سید د همدې دندې لپاره غوره کړ. افغانان په بدو حالاتو کې نابلدو کسانو ته د خپلو کورونو دروازې نه پرانیزي، نو ځکه باید کوم شناخته کس د ځانګړو پیغامونو د وړلو لپاره غوره شي، ځینې وختونه په کلیو او بانډو کې د ملا امام په مرسته پیغامونه لېږل کېږي، او د ملا امام پیغامونه د اعتبار وړ هم وي. کرزي سید د همدې درندې دندې لپاره غوره کړ، یوازې په دې خاطر نه چې سید د کرزي له قوم څخه و، بلکې هغه له هغو کسانو سره بلد او د قوم سړی یې و چې پیغام یې ور رساوه.

سید اروزګان ته په ټکسي موټر کې د کرزي په لګښت روان شو، له کرښې افغان خاورې ته واوښت، په اوږده سړک یې د کندهار پر لور سفر پیل کړ.کندهار د افغانستان د سویل تر ټولو لوی ښار او د طالبانو د راپیدا کېدو اصلي مرکز و. د کندهار د کورونو شا وخوا ختېین دېوالونه وو. دې سړک چې خورا پرې ګټه ګوټه وي، پېړۍ وړاندې له هند، ایران او مرکزي اسیا هېوادونو سره لار نښلوله. کندهار د همدې اړینې لار پر سر پروت ښار دی، چې پکې ډېر وګړي مېشت دي. واړه او لوی موټرونه، بار وړونکي ټرک موټرونه، موټر سایکلونه هغه څه دي چې په ښار کې یې ګټه ګوټه زیاته کړې وه. ځینې خلک پر بایسکلونو د خپلې کورنۍ د شیانو د لېږد چارې ترسره کوي. پر همدې ښار له مېلاد څخه ۳۰۰ کاله وړاندې د لوی سکندر د لښکرو د چپاو یادول اړین دي. له هغه وروسته ډېرو قومي جوړښتونو همدا لار تعقیب کړه چې د واکمنۍ هڅې یې تر همالیا غرونو پورې وغزول شوې. له هغه وروسته  چنایانو، عربو، مغلو، ازبکو او پارسیانو د سلګونو کلونو لپاره پر همدې سیمه جګړې روانې کړې. پښتنو له اتلسمې پېړۍ څخه د خپلې واکمنۍ هڅې پیل کړې، چې په پایله کې یې پر دې خاوره د افغانستان نوم کېښود. د سید پر لار هغه له کوچیانو سره هم مخ شو، خو کوچیانو د وخت حالات نشول

(c) ketabton.com: The Digital Library



درکولای، کوچیان په افغانستان کې له یوه ځایه بل ځای کوچ کوي، له خپلو مالونو، اوښانو او سپیو سره له یوه ځایه بل ځای ته ځي، هغوی لویې جامې او لوی پرتوګونه اغوندي. هغوی لویو دښتو ته کوچ کوي.

کندهار لا د طالبانو په واک کې و، د طالبانو تحریک د افغانستان په اکثریت ځمکه کنترول لاره. د هغوی واکمني له ۱۹۹۴ز کال څخه تر ۲۰۰۱ز کال پورې له کوم جدي غبرګون سره نه وه مخ شوې، په ځانګړې توګه د هېواد په سویل کې. که څه هم له کلونو راهیسې کابل د افغانستان رسمي پایتخت و، خو طالبانو له کندهار څخه واکمني چلوله. د طالبانو د رهبر ملا محمد عمر دفتر په همدې ښار کې و، هغه له همدې ځایه پر مخابرو د جګړیزو کړښو له قوماندانانو سره په اړیکه کې و. طالبانو له پښتنو څخه سرچینه اخیسته، په افغانستان کې ۱۳ میلیونه پښتانه اوسي، چې ډېر یې د همدې هېواد په سویل کې مېشت دي، او په پاکستان کې ۲۵ ملیونه پښتانه اوسي چې ډېر یې کرښې ته نږدې مېشت دي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ډیورنډ پوله په ۱۹مه پېړۍ کې د انګریزانو له لوري کش کړای شه، اکثریت پښتانه دا پوله نه مني. تر ننه یو څه پښتانه هڅه کوي، چې د پښتونستان تر نامه لاندې سره ژوند وکړي.

پښتانه په سلګونو وړو او لویو قومونو او کورنیو وېشل شوي. دا قومونه د افغانستان د نفوسو لوی رقم جوړوي، چې له مرکزي حکومت سره یې اړیکې هم حساسې وي. له لسیزو افغان باچاهان او ولسمشران د همدې پښتنو له منځه پورته کېږي، او بیا پر همدې خپلو خلکو حکومتونه کوي. د پښتنو په منځ کې واړه قومونه او طایفې هغه څه دي چې هغوی پرې پېژندل کېږي او پرې سیالۍ یو له بل سره لري. هغوی ډېر وختونه په خپلو کې چارې پر همدې قومونو مخته وړي. هغوی  د خپلو کورنیو او ځمکو د ساتنې په موخه سرونو ورکولو ته هم حاضر دي. د پښتنو په منځ کې وړې طایفې او قومونه هغه څه دي چې تل یې بهرنی په پېژندلو کې له ستونزو سره مخ کېږي. د کورنیو ترمنځ تربګنۍ تر ډېره په وژنو اوړي او د انتقام سلسله یې تر نسلونو غزېږي. خاموشه شوې دوښمنۍ



په بار بار بیا ژوندی او تازه کېږي.

بهرني ځواکونه هم په افغانستان کې له دې ډول ستونزمن ټولنیز جوړښت سره د پېژندګلوی په برخه کې ستونزې لري. د طالبانو د واکمنۍ یو پخواني قومندان یو وخت ویلي وو :" افغانستان ته داخلېدل اسان کار دی، خو ترې وتل ستونزمن دي." د بهرنیو ځواکونو کلیو او بانډو ته ننوتل اسان خو ځان خلاصول بیا ستونزمن کار دی، له دې ستونزې سره طالبان هم مخ و، چې کله به کوم ځای ته ورتلل په قومي خلکو به یې باور ځکه نشو کولای چې هغوی به پرې راپورته شول او په مخالفت به یې ودرېدل. د ټولنیزو جوړښتونو پېژندل د خلاصون په برخه کې مرسته کوي. که څه هم پښتنو تلیفونونه، تلویزیونونه او نورې ورته اسانتیاوې نه لرلې، خو بیا یې هم په خپلو کې د یو بل په اړه ښه معلومات اخیستل.

اوس مخکنۍ خبرې ته راځو له کندهار څخه تر تېرېدو وروسته ارزوګان ته ورسېد، هغه ځای ته چېرې چې ورته کرزي خپل ملګري په نښه کړي و. ځینې وایي چې په ۱۹٦۰ز لسیزه کې داسې وخت هم راغلی و، چې یوه ورځ وروسته شپه هم ورځ وه. په پخوا کې د افغانستان سویل په ولایتونو نه وېشل شوی، بلکې یوه مشر به یې مشرې په غاړه لرله، دا سیمه د لوی کندهار په نوم یادېدله. په ۱۹٦۰زکال په کابل کې مرکزي حکومت پرېکړه وکړه چې دا سیمه په ولایتونو و وېشي تر څو د مشرانو واک مات کړي. که څه هم دا کار وشو، خو په ارزوګان کې په قومي او اقتصادي لحاظ سیاست تر اوسه په کندهار پورې تړاو لري. همدا اوس هم په کندهار کې مشران د سویل په اړه فکر کوي.

کله چې سید د ۲۰۰۱زکال په ورستیو ورځو کې د ارزوګان مرکز ترین کوټ ته ورسېد، خلکو په عادي توګه د خپل کاروبار او ژوندانه چارې پر مخ وړې. په اروزګان کې ډېرو خلکو بګړۍ تړلې، تر ډېره تورې او سپینې بګړۍ (پاچ په نوم ، ژباړن) رواج وې ، بل رنګ بګړۍ ته په بده سترګه کتل کېدل. طالبانو به په پیک اپ موټرو کې په عادي جامو کې ګزمې کولې. ورې مدرسې له ماشومو هلکانو ډکې وې، هغوی هم د طالبانو په څېر ورې بګړۍ تړلې، هغوی ته یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکریم زده کړې (حفظ او قرائت ، ژباړن) ورکول کېدې، ریاضي، جغرافیه، او نور ښوونیز مضامین له پامه غوځول شوي وو. د ماسپښنین پر مهال به د مدرسو زده کوونکو په بازارونو کې د خپلو کورنیو لپاره پیسې ګټلې، ځینو په خیاطیو (درزیانو) کې، ځینو په عادي هټیو او نورو برخو کې کارونه کول. اروزګان د افغانستان تر ټولو وروسته پاتې او غریب ولایت دی. په دې ولایت کې د سواد کچه ټیټه ده، خلک د خپلو مشرانو له لارښوونو سره سم ژوند کوي. هغوی ډېر رواجي او محافظه کار دي. په کابل کې هم خلک پوهېږي چې دا سیمه له پامه غورځول شوې او د هېواد یو وروسته پاتې کونج دی.

"سید" نه و اړ چې په ترین کوټ کې پاتې شي، هغه ټکسي چلوونکي ته وویل چې سیده د سیند تر څنګ د شمال طرف ته تر کوټوال کلي ولاړ شي، دا هغه ځای و چې کرزي ورته د لومړي ادرس په توګه ښوولی و. ټکسي په خامه سړک روان و، تر څو له پټې سره سم کلا پیدا کړي، په اروزګان کې لږ تر لږه د کلاګانو دېوالونه اته فوټه لوړ وي. د کلا له بهر څخه سید هېڅ هم نشي کتلای. د لویو دېوالونو تر شا کورونه وي، هر څوک هڅه کوي چې د خپلو کورونو دېوالونه دنګ جوړ کړي. په دې سره خلک خپلې کورنۍ په ځانګړې توګه میرمنې او عزت له مخالفینو، غلو او نورو خطرونو ژغوري.

دلته د افغانستان د سویل د نورو سیمو په څېر پښتنانه ځانګړی لیکلی قانون نه لري، هغوی د پښتونولۍ په نوم دودیز(عُرفي) قانون لري، چې د درناوي قانون ورته ویلای شو. بدل (غچ) هغه څه دي چې پرې خپل عزت ساتي، مېلمه پالنه بیا د اصلاحاتو او اړیکو د ښه والي په موخه ترسره کېږي. هره کورنۍ یو مشر لري، او په کلا کې تر ټولو مهم ځای کوټه دې مېلمنو لپاره وي. حجره د پښتنو د سیاست د پیل ځای دی. دا هغه ځای دی چې پکې د کورنیو او کلیو مشران پرېکړې کوي. دلته محاکمه هم کېدای شي، د مشورو، قرض، کاروبار او نورو ورته کارونو لپاره هم مناسب ځای دی. کوټه یا مېلمستون د مسافرو د اوږدمهالې او لنډمهالې مېشتېدا لپاره هم مناسب ځای ګڼل کېږي. پایله کې



ویلای شو چې کوټې د قومي ټولنو د حکومتدارۍ مرکزونه دي، او په تېر کې هم همداسې و. نو له همدې کبله پښتانه تر بل هر څه لومړی کوټه (حجره یا مېلمستون) جوړوي. په مېلمستون کې څرګندېږي چې د کور خانوند په خپل قوم کې کوم موقف او صلاحیت لري.

سید په دې ټولو خبرو پوه و، هغه کوټوال کلي ته کرزي په عبدالغني ماما پسې رالېږلی و. دا کس د سید ماما و، سید ورسره کوټې ته ولاړ او هلته یې په موضوع پوه کړ. عبدالغني ماما د سید په خبره حیران نه شو، ځکه دا لومړی ځل نه و چې کرزي هغه کویټې ته ور غوښت. په تېرو څو کلونو کې د کرزي کور د ارزوګان د ولسي مېلمستون په څېر و. سید به هم د کرزي کور ته ورتله. داسې وختونه هم پېښ ښوي وو چې محلي طالبانو به یې له ځمکې راشه (غله دانه) ترې وړې وه. په داسې حالاتو کې کرزی اړ و چې غبرګون ونښيي او د خپلو خلکو لپاره یو څه وکړي. سید خپله یو عادي بزګر و، هغه له چا سره شخړې نه شوی کولی. هغه له کرزي څخه مرسته غوښته، ان د هغه د تګ راتګ لګښتونه به یې هم ورکول. سید د کرزي د پیغام رسونکي په توګه باور پوخ کړی و.

عبدالغني ماما ته چې د کرزي خبره ور ورسېده هغه هم ومنله. هغه پوهېده چې کرزی د خپل پلار روزلی شخص دی، او د کرزي پلار دې خلکو ته منلی او محترم مشر و. که څه هم کویټې ته تګ خطرناک و، خو بیا هم د کلاګانو لویو دېوالونو د هغوی کړنې نه شوی پټولی، ځکه د محل خلکو هڅه کوله چې د نورو په کارونو ځانونه پوه کړي. که به په کلي کې څوک نه و، نو خلکو به یې پوښتنې کولې چې چېرته دی. کوم کسان چې کویټې ته ور غوښتل شوي وو، یوه یې هم نه غوښتل خپل کلیوال پوه کړي، چې هغوی کویټې ته د کرزي لیدنې ته ځي، ځکه کرزی د طالبانو د مخالف په توګه پېژندل کېده.

په پایله کې سید، عبدالغني ماما او اووه نور قومي مشران قانع کړل چې کویټې ته د کرزي د کتنې لپاره ولاړ شي. ډېرو به یې له کرزي سره په کویټه کې د شپې کتل، تر څو ورسره په اصلي خبره سر خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## د سپټمبر ۱۱مه او نوي فرصتونه

د سپټمبر په ۱۱مه کرزی د پاکستان په پلازمینه اسلام اباد کې و. هغه په همدې ورځ د امریکا سفارت ته هم تللی و. ورور یې احمدولي چې تازه له امریکا څخه پاکستان راغلی و، اړیکه ورسره ټینګه کړه. کرزي ته یې پر تلویزیون د کتلې ښېښې خبره وکړه:"یوه الوتکه د نیویارک په نړیوال سوداګریز مرکز کې ولګېده."

کرزی د پېښې په خبرېدو حیران شو. دا مهال کرزی د ماښام د تفریح بوخت و، څو شېبې وروسته هغه مسجد ته په لار کې و چې ورور یې یو ځل ورسره اړیکه ټینګه کړه، هغه ورته د امریکا په دنګو ودانیو کې د بلې الوتکې د لګېدو خبره وکړه. کرزي په لوړ غږ ورته وویل:"دا د القاعده برید دی، دا پر امریکا برید دی!" د څو شېبو لپاره دواړو له یو بل سره خبرې وکړې:"زړه ته مې نه لوېږي، حیرانوونکې ده." احمد ولي ترې وپوښتل:" دا څنګه ممکنه ده چې پر امریکا په دومره استخباراتي قوت سربېره دا ډول بریدونه کېږي؟" دواړه ورونه ډاډه و چې له دې سره نور د طالبانو د نسکورېدو وخت راغلی و. کرزي په تلیفون واورېدل چې ورور یې پر خپل امنیتي ساتونکي غږ وکړ:" د طالبانو کار نور خلاص دی." کرزی او احمدولي پوهېدل چې په افغانستان کې لوی بدلونونه راتلونکي وو،



ویې ویل:"اوس موږ د طالبانو پر وړاندې درېدلی شو، ځکه اوس موږ تر شاه یو قوت لرو."

کرزي پېښور ته د تلو پلان ایسته کړ، پر ځای یې راتلونکې ورځ کویټې ښار ته ولاړ، پېښور بل لوی ښار دی چې د کرښې تر څنګ پروت دی او پکې ډېر افغانان اوسي. کور ته له رسېدو سره یې وکتل چې ډېر پلویان یې راغلی و او هغوی تمه لرله چې له کرزي هم څه واوري. هغوی پوهېدل چې کرزی نه یوازې د افغانستان په سیاست پوهېږي، بلکې د لویدیځ د پرمختګونو او نورو چارو په اړه هم معلومات لري.

راتلونکو ورځو کې د کرزي په کوټه کې مجلسونه او ناستې زیاتې شوې، اوس د هغه مېلمستون ته نه یوازې افغانان راتلل، بلکې بهرني ډیپلوماتان، د (سي ای اې) مامورین، بریتانویان او لویدیځوال ژورنالستان ورتلل. هغوی ټولو غوښتل پوه شي، چې پر امریکا د بریدونو پایلې به د افغانستان لپاره څه وي. کرزي هم د خپلو مېلمنو پالنه کوله او هم یې په سړه سینه مرکې کولې. هغه له ژورنالستانو نه یوه ته په مرکه کې وویل:" ما امریکایانو ته د دې ډول خطرونو په اړه له وړاندې ویلي و، که یې پر وخت اقدام کړی وای، نن ورځ به امریکایي میندو او ماشومانو د خپلو کورنیو نږدې او خواږه غړي له لاسه نه وای ورکړي." په همدې وخت کې هغه د خپلو خلکو پر برخلیک خبرې وکړې، چې د طالبانو په منګولو کې وو، هغه وویل:"افغانان بې وزله خلک دي، هېچا ورته تر دې دمه پام نه دی کړی."

ژورنالیستان د کرزي او نورو افغان مشرانو په کورونو کرځېدل، هغوی غوښتل معلومات واخلي چې څه پېښېدونکي دي. په همدې مهال ځینې هغه طالبان هم راتلل چې کرزي ورسره اړیکې درلودې، هغوی غوښتل حالات له نږدې و څاري. سید لا نه و توانېدلی چې ټول هغه کسان کویټې ته ور وغواړي چې کرزي یې غوښتنه کړې وه، له ځینو سره خو یې مخامخ کتلې هم نه و، د کرزي پیغام یې ورته د نورو کسانو پر مټ رسولی و. کرزي ته له ورغوښتل شوو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه اووه تنه یې کویټې ښار ته ورغلل، په داسې حال کې چې ځانوه یې خطر ته ورکړي و. په دې کسانو کې یو هم ملا امام و، چې خپلو مقتدیانو ته یې په مسجد کې ویلي و چې ګني هغه د پښې له درده د کویټې ښار مشهور ډاکټر (وردګ) ته ورځي.

کرزي په څرګندو ټکو د اروزګان څخه ورغلو اوو کسانو ته وویل چې په امریکا کې څه پېښ شوي او پر افغانستان به یې اغیز څه وي. د اروزګان خلکو پر امریکا د بریدونو انځورونه نه و کتلي. کرزي ورته وویل:" په اروزګان کې طالبان ځواکمن دي، خو زه پوهېږم، دا هر څه به بدلون وکړي. موږ نور یوازې نه یو، لویدیځ به ملاتړ راسره وکړي. ما تاسې ته ویلي و چې یو څه پېښېدونکي دي، دا دی هغه وخت راغلی او موږ باید پکې ونډه واخلو." له اروزګان څخه راغلو خلکو ورته غوږ ایښی و، د کرزي خبرې ورته مناسبې او په زړه پورې وې، هغوی ټولو په خپلو ږېرو کې ګوتې کشولې. د یوه رهبر یوه ښه ځانګړنه باید د روانو خبرو کول وي، چې د خلکو پام ځان ته ور واړوي. په کرزي کې دا توان و چې ښه وغږېږي او د خلکو پام ور خپل کړي. کرزي ورته د هغو کسانو، ملګرو، طالبانو او د طالبانو د پخوانیو ملګرو لېستونه ورکړل چې باید ورسره وګوري او هغوی خبر کړي چې کرزي په کوم ډول خوځښت لاس پورې کړی.

هغوی له وړاندې هم له کرزي څخه اورېدلي و چې په سویل کې به یو څه پېښ شي. هغه ورته ویلي و چې هغه به له کویټې څخه اروزګان ته ولاړ شي، او هلته به د طالبانو پر وړاندې ملېشه جوړه او جګړه وکړي، سم دم د یوه جنګسالار په څېر به مقاومت وکړي. کرزي له هغو خلکو سره هم اړیکې ساتلې چې فکر یې کاوه له ده سره د طالبانو پر وړاندې درېږي. پر هماغه مهال یې د امریکا د ملاتړ د تنظیم په اړه هم فکر کاوه. د کرزي له ډلې د یوه تر اوسه یاد دي چې کرزي به د لویدیځوالو څخه د الوتکې غوښتنه کوله چې د طالبانو رژیم پرې په څو بمونو ختم کړي. دا خبرې هغه مهال شوې وې چې په ۱۹۹۸ز کال کې القاعدې په افریقا کې د امریکا پر سفارتونو بریدونه وکړل.



د طالبانو د رژیم د بدلون نظریه د اروزګان خلکو ته د کرزي په خپله کوټه کې ورکول کېده. د طالبانو د واکمنی- ۱۹۹۴ز کال څخه مخکې د کرزي ملګرو په سیاست کې لاس لاره، ځینې یې قومي مشران، ځینې یې پولیس او ځینې یې ملیشه قومندانان وو. هغوی له خپلو مېلمستونونو یا دېرو څخه کولی شوی، په سیاست کې رول ولري.

پښتنو پر افغانستان واکمني لرله، خو د شوروي له ماتې- ۱۹۸۹زکال وروسته یې په واکمنۍ کې ستونزې را ولاړې شوې وې، برهان الدین رباني چې په خټه تاجک و، واک ته ورسېد. پښتون رهبر ګلبدین حکمتیار چې د حزب اسلامي مشر او بنسټګر و، له شمالي ټلوالې سره سخت مخالفت وښود چې پکې تاجک، ازبیک او هزاره دخیل و، رباني هم د خپلې څوکۍ ننګه کوله. د پاکستان په مرسته حکمتیار په کابل کې ارګ تر سلګونو راکټونو لاندې ونیو، له دې سره افغانستان د کورنۍ جګړې خولې ته ولوېد. یو له بل سره په جګړه بوخت شول، د یو مرکزي حکومت د جوړېدو فکر له چا سره نه و. ډېرو افغانانو یو ځل بیا هغه حالتونه ولیدل چې دکابل په کوڅو کې له سپیو پرته عوام خلک نه ښکارېدل.

د دې هرج و مرج په ترڅ کې جان محمد خان په اروزګان کې واک ته ورسېد، هغه د شورویانو پر وړاندې سخته جګړه کړې وه. ځکه نو په اروزګان کې د والي په توګه په ځای ټینګ و. جان محمد خان له هغو کورنیو څخه نه و چې د شوروي د یرغل پر وړاندې یې څوکۍ په خپلو کې سره وېشلې وې. د اروزګان ځینې خلک وایي چې هغه پخوا یو عادي لیکونکی و، خو په اصل کې جان محمد خان یو بډای سړی و. هغه په خپل کور کې وسلې هم لرلې چې هم یې له امریکایانو اخیستې وې او هم له روسانو ورپاتې وې. هغه له ترینکوټه روسان ایستلي وو، او د هغوی پاتې شونې ټولې وسلې د هغه په واک کې وې، نو ځکه یې خپلو ملګرو ته په ورین تندي هر څه ورکول. هغه مهال چې جان محمد خان د ارزوګان والي شو، د نورو قومي مشرانو پرې دا څوکۍ نه لورېده. هغوی جان محمد خان ته په درنه سترګه نه کتل، او نه یې هم هغه ته د خان په نامه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم هغه په خپل زور او وسلو واک ته ورسېد، خو ګنګوسې داسې وې چې هغه د امریکایانو او د کرزي د کورنۍ پر مټ د اروزګان والي شو.
د نویمې لسیزې تر لومړیو د جان محمد خان قدرت ډېر محدود و، هغه یوازې د قدرت او پیسو په لټه کې و، نو ځکه یې د نورو قومونو ترمنځ انډول نه شو ساتلی. قومونو په خپلو کې واک لاره او پر خپل واک یې تکیه کوله، ولایتي حکومت ته یې پام نه کاوه. په دې ولایت کې ګرځېدل ځکه ستونزمن و، چې پر هره لاره به ستونزې او ګواښونه موجود و. د قومونو ترمنځ د کینې او بنې خبرې زیاتې شوې وې، او جان محمد خان د غچ لوری ګرځېدلی و. ډېرې وژنې د دې لامل شوې چې د جان محمد او د بارکزیو د قوم له خلکو سره مخالفتونه پیدا شول. بارکزي د اروزګان په مرکز ترین کوټ کې زیات دي. د قومي اختلافونو پر مهال ډېر کسان و وژل شول، چې پکې یو هم د جان محمد خان ورور و.هغه د نا معلومو وسله والو کسانو له لوري و وژل شو. په دهراوت کې هم د دوو قومونو پر قدرت جګړه وه. د بابوزیو د قوم د دوو کسانو ترمنځ هم جګړه شوې وه. د یوه راکیټ موټر وسلې پر سر د حاجي ودود او حاجي هاشم خان ترمنځ د ترینکوټ په شمال دیهرشان سیمه کې جګړه شوې وه. او د اروزګان په شمال کې د هزارګانو او پښتنو ترمنځ شخړې روانې وې.
له اروزګان څخه لرلرې په کندهار کې د طالبانو یوه ډله سره یو ځای شوه، او په ۱۹۹۴زکال کې یې مقاومت پیل کړ. طالبانو هغه وخت ډېر پرمختګ وکړ، چې په سپین بولدک کې یې د وسلو زیرمتون و موند. دویم دا چې له پاکستان سره یې د سوداګرۍ لار پرانیستله. د شاوخوا ولایتونو قومي مشرانو به کندهار ته سفرونه کول، چې پوه شي طالبان څوک او څه کوي؟ څه غواړي او څومره ځواک لري؟ د ارزوګان ولایت د پولیسو مشر عزیز صاحب زاده دوه ځله کندهار ته د حالاتو د معلومولو په موخه تللی و. هغه پوه شو چې طالبان په رښتیا سره په کندهار او شاوخوا سیمو کې یو ځواکمن قدرت کېدونکي وو. د بېلګې په توګه د الکوزیو د قوم مشر ملا نقیب چې په اصل کې د کندهار د شمال و، له طالبانو



سره ملګری شو. ملا نقیب الله یو پخوانی نظامي قومندان و، هغه خپلې ټولې وسلې او تجهیزات طالبانو ته وسپارل. جان محمد خان کویټې ته پر لار و، چې عزیز ولیدل نور کسان هم له طالبانو سره یو ځای کېدل.
عزیز ډېر مشران پېژندل، او هغه پوهېدلو چې له هغو څخه ډېر یې داسې وو چې تر شا یې قومونه نه وو ولاړ، په طالبانو کې هم ډېر کسان داسې وو، چې د قومي قوت پر اساس نه و رامنځته شوي. عزیز په خپله ملا محمد عمر هم یو تهدید نه باله. د عزیز په وینا چې ملا محمد عمر په قوم هوتک و او تر واک ته رسېدو وړاندې خلکو نه پېژاند. هغه په کندهار کې زېږېدلی و، خو په اروزګان کې یې هم ژوند کړی و. کله چې د ملا محمد عمر پلار و مړ، هغوی د ارزوګان لویدځو سیمو دهراوت ته کډه شول. عزیز ملا محمد عمر ته په درنه سترګه نه کتل او نه یې هم وېره ترې احساسوله، ځکه هغه فکر کاوه چې ملا محمد عمر له ځواکمن قوم څخه نه دی. د عزیز په وینا چې په دهراوت کې تر ټولو لږه مځکه د هوتکو د قوم ده. په دهراوت کې د خلکو زړه ته نه لوېدل چې ملامحمد عمر دې له خپل نوم سره د ملا کلمه ور اضافه کړې وي او واک ته دې رسېدلی وي. ملا محمد عمر په خپل قوم کې درنښت لاره، ځکه هغه د روسانو سره جګړه کړې وه او د جګړې پر مهال یې یوه سترګه هم له لاسه ورکړې وه. عزیز او د هغه ملګرو بیا شک کاوه چې ښایي د هغه سترګه د جهاد پر مهال نه وي ژوبله شوې.
میاشتې لا نه وې تېرې چې طالبانو اروزګان هم تر خپل کنټرول لاندې ونیو. د شوروي له ماتې وروسته په نورو ولایتونو کې خلکو ته دا پوره جوته هم نه وه، چې د اروزګان اصلي واکمنان څوک وو. پخواني خلک تنبېدلي وو، او ځوانانو له جګړې پرته بل څه نه پېژندل. په همداسې وخت ټېټو خلکو هم کولای شول وزیران او یا هم رییسان شوي وای. هغه چا کولای شوای واک ته ورسي چې یا به له امریکایانو سره جوړ و، او یا به یې له پاکستان سره اړیکې سمې وې.
ملا محمد عمر یواځنی کس نه و چې له اروزګان څخه د طالبانو په کرښو کې یو ځای شوی و، بلکې نور کسان هم وو چې له همدې ولایت څخه یې په طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ونډه اخیستې وه. د طالبانو د وخت د روغیتا او عدلیې وزیران، د کندهار والي او نور ډېر قومندانان په اصل کې د اروزګان وو. ملا داد الله هم د اروزګان و، هغه د روسانو د جهاد پر مهال پښه بایللې وه، او کله نا کله به پر آس سپرېده. هغه په اصل کې د اروزګان د چهار چینو اوسېدونکی و. نوموړي د طالبانو د واکمنۍ له لسو پیاوړو مشرانو څخه یو و. د جان محمد وراره مطیع الله به د هغه تر لارښوونې لاندې کار کاوه. د ملا داد الله ورور هم د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یو پیاوړی قومندان و. ملا شفیق اخند هم د ملامحمد عمر له قوم څخه و او اروزګان ولایت د ختیځ اوسېدونکی و. هغه د ترینکوټ له پنځو پیاوړو مشرانو څخه یو و. په ترینکوټ کې خلکو داسې ویل چې هغه د امریکایانو لخوا ډالۍ شوي څلور سټنګرونه خوندي کړي وو. دا سټنګر وسلې امریکایانو له روسانو سره د جګړې لپاره ورکړې وې. د ملا شفیق او جان محمد خان ترمنځ لوی اختلاف و، ځکه نو شفیق د طالبانو ملګرتیا خپله کړه.

دا د طالبانو لپاره ستونزمنه نه وه چې ارزوګان ونیسي. جان محمد خان ته هم بله لار نه وه پاتې او نه هم چا ورسره ملاتړ کاوه. د کرزي کورنۍ د پیغام له لارې پر هغه فشار راوړی و چې باید تسلیم شي، ځکه بله لار ورته پاتې نه وه. هغه خپل څاروي او هتۍ د طالبانو په واک کې ورکړې او خپله کور ته ولاړ. د جان محمد د پولیسو مشر هم د طالبانو پر وړاندې څه نه شوی کولای، تر دې چې طالبان یې دفتر ته ور غلي و. هغوی ترې وسلې او د پولیسو موټر بیولي وو. د پولیسو د مشر زوی غوښتل له دفتره یو پسه بهر وباسي، خو طالبانو پرې نه ښود چې دا کار وکړي.

په لومړیو کې طالبانو احتیاط کاوه، هغوی له خلکو سره دوستانه چلن کاوه، او د مذاکرې او خبرو له لارې یې پرمختګ کاوه. اروزګان یې د خبرو له لارې ترلاسه کړ. په ترینکوټ کې یې د خپل قدرت اعلان د مسجد له لوډسپیکرونو وکړ. په مسجدونو کې یې جلسې هم ونیولې چې په ترڅ کې یې خلکو ته د سولې ډاډ ورکړ. هغوی وویل چې باید د اسلام لار تعقیب شي، رشوت، فساد، وژنې او نورې



ورته ناوړه کړنې پای ته ورسېږي. موږ له جنګسالارانو او قومي مشرانو سره کوم څه کول په پام کې نه لرو، ولې تاسې باید خپل هېواد ته خدمت وکړئ. طالبانو هم د کرزي په څېر خپل استازي د قومي مشرانو او ولسي خلکو منځ ته ولېږل او خپل پیغام یې تر هغه ځایه ورساوه. د هغوی خبرې دوستانه او لنډې وې. د طالبانو پیغام وړونکو خلکو ته د هر څه په اړه ډاډ او ژمنې ورکړې. د خلکو په وینا چې د طالبانو له ورتګ سره د کوم چا پوزه هم نه ده وینې شوې. دوو کسانو له طالبانو سره مخالفت وکړ او له ترینکوټه ووتل، خو په پایله کې طالبانو ورته ښښنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

## د جنگسالارانو په منځ کې ډیپلومات

کله چې طالبان په ۱۹۹۴زکال را پورته شول، کرزی په کویټه ښار کې پر خپل کور و. یو کال وړاندې یې له ولسمشر برهان الدین رباني او د ملي امنیت له رییس محمد قسیم فهیم سره تر شخړې وروسته له بهرنیو چارو وزارت څخه استعفا ورکړې وه. پر کرزي تور لگول شوی و، چې گني له حزب اسلامي سره یې اړیکې نیولې وې، او تر ښار لاندې و. ویل کېږي چې هغه په کابل کې د څېړنو په یوه خونه کې و، چې پر هماغه ودانۍ راکټ وتوغول شو، په همدې ترڅ کې کرزي هڅه وکړه او له هماغه ځایه وتښتېد، څه ژوبل شوی هم و، او پاکستان ته د گلبدین حکمتیار په مرسته اوښتی و. له دې پېښې وروسته هغه کویټې ښار ته ولاړ، او هلته یې له خپل پلار سره ژوند پیل کړ. هغه دېرش کلن و، که څه هم په پښتنو کې ځوانان په کم عمر ودونه کوي، خو کرزي لا واده نه و کړی. په بهرنیو چارو وزارت کې د کرزي د دندې پر مهال هغه ډیپلوماتیک پاسپورت اخیستی و، نو په راتلونکو وختونو کې یې هم له هماغه پاسپورت گټه پورته کولای شوی، او د نړۍ گوټ گوټ ته یې سفرونه کول.

حامد کرزي ته ځینو نږدې خلکو حامد جان هم ویل. هغه ډېرو خلکو نه پېژانده، خو په اسلام اباد کې د امریکا سفیر پېژاند. کرزي په خپله شبکه کې ځینې



طالبان هم ساتلي و. ملا غوث چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د بهرنیو چارو وزیر شو، د کرزي ملگری و. همدا ډول کرزي له ملا خیر الله خیرخوا سره اړیکې لرلې. هغه د هرات والي و. وروسته بیا په گوانتنامو کې زنداني شو او دیارلس کاله وروسته له زندانه خوشي شو. کرزي د طالبانو له لومړي وزیر ملا محمد رباني سره هم پېژندل. ولسمشر نجیب الله هم د طالبانو د واکمنۍ پر مهال و وژل شو. د کرزي په وینا چې ملا رباني په طالبانو کې یو لوستی او عصري مشر و، خو بیا یې هم په موجودیت کې ولسمشر نجیب الله و وژل شو.

په ۱۹۹۴زکال په پاکستان کې کرزي لویدیځوال ډیپلوماتان هېښ کړي و، هغه به ډېر وخت سفارتونو ته تللو او هلته به یې د خپل هېواد د لانجې په اړه خبرې کولې، تر ډېره به هغوی ورته زیات وخت هم نه لاره. جرمني ډیپلومات (نوربرټ هول) چې د سیمې لپاره د ملگروملتونو د استازو مشر و، د کرزي خبرې اورېدې. حامد کرزي به د خپل هېواد د سولې په برخه کې خبرې کولې، هول به په ټوکو کې ویل چې د خبرو میز به تاریخي بڼه غوره کړي، چې د افغانستان د سولې خبرې پرې وکړو، ځکه د تاریخ په اوږدو کې دا کار نه دی شوی. ډېر ډیپلوماتان وایي چې کرزي په دې برخه کې ډېرې هڅې کولې، خو نورو افغانانو هم د لویدیځ د ملاتړ غوښتنه کوله. نوربرټ هال د کرزي په اړه وایي:"هغه کس چې محدود توان یې لاره، بیا یې هم هره ورځ د نویو نوښتونو لپاره هڅه کوله."

په ۱۹۹۴زکال کې د کرزي دریځ د طالبانو په اړه بل ډول و، هغه پر هماغه مهال له ډیپلوماتانو غوښتل چې له هغوی سره همکاري وکړي. امریکایي ډیپلومات ریچارډ سمیت چې په پېښور کې د امریکا عمومي کونسل و، په یاد لري چې کرزی یې دفتر ته ورتللو، په وینا یې چې کرزي به ویل:" هغوی منظم دي، هغوی څرگند لید لوری لري، د هغوی تکیه پر ډلو ټپلو نه ده، لکه اوس چې څه روان دي. زه فکر کوم کرزي فکر کاوه چې همدا سیستم به کار ورته وکړي. تاسې چې هر ډول رهبر اوسئ، خو ستاسې هېواد درته اړتیا لري. کرزی د هېواد د ښې راتلونکې په هیله و." زه فکر کوم چې سمیت پر کرزي بد گمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، نو ځکه یې له هغه غوښتنه کړې وه چې له طالبانو سره ورته یو مجلس برابر کړي. په دې اړه سمیت وایي:"څه وخت وروسته کرزي له طالبانو سره مجلس برابر کړای شو." د سمیت په وینا چې طالبانو ورنه د مرستې غوښتنه کړې وه، خو هغه ورته ویلي و چې موږ طرف نه واقع کېږو. کرزی په دې اړه بل ګام هم مخته تللی و، له خپل ملګري نوربرټ هول سره یې کتلي و، له هغه یې هم له طالبانو سره د مرستې غوښتنه کړې وه. هول د کرزي د رول په اړه وایي:"هغه ډېر ځله روم ته سفرونه وکړل، چې له اعلیحضرت محمد ظاهر شاه سره وګوري، هغه به د خلیج په هېوادونو کې له طالبانو سره هم کتل. دې دوه ډوله کردار د هغه پرستیژ ته زیان لاره." کرزي دې ډول مشورو ته تر ۱۹۹۶ز کاله پام نه کاوه.

حامد کرزی په ۱۹۵۷زکال په یوې شتمنې کورنۍ کې زېږېدلی. هغه درې مشران ورونه (عبدالاحمد، قیوم، او محمود) او یوه مشره خور یې د فوزیې په نوم لري. د کرزي پلار عبدالاحد کرزی دپوپلزیو د قوم یو درونډ مشر و، هغه پر کندهار سربېره په اروزګان کې هم نفوذ لاره. د لنډې مودې لپاره د کندهار او اروزګان ترمنځ د یوې ولسوالۍ ولسوال هم تېر شوی و. خو په شپېتمو کلونو کې هغه کندهار خوشې کړ او کابل کې مېشت شو او هلته یې د سناتور په توګه کار پیل کړ. د حامد کرزي مور د کابل د پروان اوسېدونکې وه، هغه خدای بښلې هم په خټه پوپلزۍ او له شتمنې کورنۍ څخه وه. د ولسمشر کرزي پلار په شپېتمو کلونو کې له یوې بلې میرمنې سره واده وکړ، هغه میرمن یې په اصل کې د ارغنداب ولسوالۍ اوسېدونکې وه. د حامد کرزي د خدای بښلې مور او خدای بښلې پلار ترمنځ د دویم واده پر سر څه زړه بدي شتون لاره. د حامد کرزي پلار د هغه له زېږون لږ وخت وروسته بل واده وکړ. کرزی خپل پلار ته ګران و.

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له ۱۹۳۰لسیزې په افغانستان کې واک ته رسېدلی و. د هغه ښه هنري ذوق خاوند و، که پاچاهي یې نه وای، نو ښایې د هنري ډګر لار یې تعقیب کړې وای. خو کله چې د اعلیحضرت پلار په



۱۹۳۳زکال د هغه پر وړاندې و وژل شو، نوموړي د اړتیا له مخې پاچاهي ته ملا وتړله. هغه لا کشر و، خو حکومت هغه وخت نوموړي د اړیتا له مخې په اتلس کلنۍ د خپل پلار ځای ناستی اعلان کړ. په افغانستان کې نوي پاچا ته هغه مهال پام ور واښت چې هغه یو عصري سړی و، په ښه موټر کې ګرځېد او د میرمنو پر سر ورته وړوکی پړون هم نادوده نه ښکارېده. محافظه کار و، افغانانو ته له همدې کبله هغه بې دینه ښکارېده.

اعلیحضرت پرېکنده کس نه و، ځینو افغانانو یې د دې کار ستاینه کوله. په داسې یوه هېواد کې چې مختلف قومونه او د مختلفو ژبو ویونکي اوسي، انډول پکې ساتل اړین کار دی. ډیپلوماتانو به هم د اعلیحضرت د نه پرېکنده دریځ څخه سرونه ټکول. هغه اصلاحات چې پاچا غوښتل پر ځای یې کړي سست روان و. پر دې سربېره چې اعلیحضرت د فیصلو په کولو کې پرېکنده دریځ نه لاره، خو د هغه دوره یوه سوله ییزه او له امن څخه ډکه دوره وه. دا هغه دوره وه چې ځوان لویدیځوال به د کابل په کوڅو کې په خپلو جامو او وړو پوړونیو کې ګرځېدل. خو پر هماغه مهال یو کمونیست تحریک په وده کې و، چې رهبرانو ته یې هر چېرې د روسیې له لوري اوبه ور کول کېدې. په پایله کې اعلیحضرت په ۱۹۷۳زکال د واک له ګدۍ څخه خپل د کاکا زوی هغه مهال لرې کړ، چې هغه روم ته په یو سفر تللی و. اعلیحضرت پرېکړه وکړه چې په ایټالیا کې مېشت شي، په دې کار سره یې پلویان په غوسه وو. د اعلیحضرت د کاکا د زوی (سردار محمد داود خان-ژباړن) تر واک لاندې افغانستان یو جمهوري نظام اعلان کړ او له همدې سره پخوانۍ نسبتې سوله پای ته ورسېده.

د حکومت او خلکو هغه مستریح ژوند چې لاره یې پای ته ورسېد، او د کرزي کورنۍ هم له دې کار سره لاس او ګرېوان وه. ویل کېږي چې د حامد کرزي پلار زنداني شوی و. کله چې سره پوځ په ۱۹۷۹زکال پر هېواد یرغل وکړ، ډېرو مخکښو کورنیو هېواد پرېښود، او د کرزي پلار کویټې ښار ته ولاړ. له کرزي پرته ټوله کورنۍ یې امریکا ته ولاړه، کرزي هېڅکله په امریکا کې ژوند کولو ته زړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ښه کړی، خو په دې خبره هغه کسان چې کرزي ته د امريکا ګوډاګی وايي، باور نه کوي. د مهاجرت د هغو اسنادو له مخې چې د کتاب ليکوالې ته ښودل شوي وو، کرزي دوه ځلې په ۱۹۸۰ز او ۱۹۸۲زکلونو کې د کډوال په توګه د اوسېدو غوښته کړې وه، نه د دايمي تبعه په توګه. هغه د هندوستان په پلازمينه ډېلي کې دوه ځلې د امريکا سفارت ته ور غوښتل شوی و، چې پر همدې موضوع ورسره وغږېږي. خو داسې شواهد نشته چې هغه دې د امريکا کوم پاسپورت ترلاسه کړی وي. د هغه کورنۍ په ځانګړې توګه محمود کرزی حيران و چې ولې حامد کرزي له سفارت سره اړوند ملاقاتونه ونه کړل. محمود له کرزي غوښتنه کړې وه چې په امريکا کې و اوسي، خو هغه ورسره نه وه منلې.

په ۱۹۷۷زکال کرزی هندوستان ته ولاړ. د کرزي په پېژندنه کې ۱۹۷۸زکال ليکل شوي، چې غلط تاريخ ښيي. هغه پر هماغه کال طب پوهنځی پيل کړ، خو په دې برخه کې يې کار ونه شو کړای. هغه د ۱۹۹۸زکال د دوبي په ازموينو کې ګډون ونه کړ او پاکستان ته ولاړ، ځکه يې لومړی کال تحصيل له ستونزو سره مخ شو.

د کرزي ټوله کورنۍ له هغه سره خوښه نه وه، چې هغه دې بېرته په ۱۹۹۸زکال کې هند ته د سياست د پوهنځی د لوستو لپاره ولاړ شي. حامد کرزي په اړه له خپلې کورنۍ سره مشورې نه کولې، پرېکړه يې په خپله کوله. هغه هند ته د سفر په اړه له محمود سره هم خبرې نه وې کړې، که څه هم هغه ورته د ژوند کولو لګښت هم لېږلی و. محمود ورته ويلي و چې د طب له لارې به وکړی شي چې د افغانانو لپاره خدمت وکړي او په امريکا کې پرې ښه تنخوا اخيستلی شي.

حامد کرزي امريکا ته د تګ پر ځای په هند کې په (هماشيل پرديش) پوهنتون کې د سياست پوهنځی پيل کړ، هماغلته يې انګريزي ژبه هم زده کړه. د همدې پوهنځی په لومړيو ورځو کې يې پاکستان ته سفرونه کول، نو ځکه به ډېره غير حاضري ترې کېده. د کرزي کورنۍ ويل چې هغه د افغانستان روانو سياسي حالاتو ته پام کاوه، چېرې چې کمونستان پر واک و او د کرزي پلار يې هم يو



ځل زنداني کړی و. ډېرو ځوانانو د کمونيستانو پر وړاندې مبارزه پيل کړې وه، د کرزي کورنۍ هم فکر کاوه چې هغه به هم د دې ځوانانو ترڅنګ ودرېږي. ورونو به يې ورته ويل چې د لګښتونو په برخه کې بايد له تدبير څخه کار واخلي، ځکه هغوی ورته ډېرې پيسې نه شوی چمتو کولای. د کرزي ورور محمود چې د ولسمشر کرزي د ادارې پر مهال ډېر بدنامه شو، وويل:" ما به کرزي ته ويل چې زه ډېر لګښت نه شم چمتو کولای."

د محمود له طب پوهنځی سره جوړه وه، خو کافي پيسې يې نه لرلې چې لګښتونه يې پرې کړي. پر هماغه مهال هغه هڅه کوله چې د خپلو نورو ورونو سره په ګډه په امريکا کې سم ژوند جوړ کړي. په ۱۹۸۰زکال ولسمشر کرزي غوښتل له يوې نجلۍ سره په خپله خوښه واده وکړي، خو په دې اړه لا کره شواهد او معلومات نشته. د کتاب ليکوالې ته د کرزي د ليسانس درجې سند او د ماسټرۍ د څلورم سمستر اسناد ښودل شوي وو.

کرزی د خپل پلار ښی مټ و، هغه په ۱۹۸۳زکال کې په نابره توګه کويټې ته ولاړ. پر هماغه مهال د کرزي ورور قيوم پاکستان ته ورغلی و او غوښتل يې له جهاد سره مل شي. په ۱۹۸۲زکال کې قيوم د کرزي لپاره هند ته يو ليک ور لېږلی و، پکې ليکلي يې و چې فکر يې نه کاوه چې امريکا دې افغانستان پرېږدي، ځکه امريکا په افغانستان کې خپلې ګټې لرلې. د قيوم په وينا چې په جهاد کې ډېر کسان ولاړ و چې په خپله خوښه يې جهاد کاوه. خو په دې برخه کې د کرزي د کورنۍ رول پيکه و. له روسيې سره د مقاومت پر مهال نوي مشران را پيدا شوي وو، چې له پاکستان او امريکا څخه يې پيسې، وسلې او امکانات اخيستل. ګلبدين حکمتيار چې د پاکستان له لوري تمويليدی، د افغانستان ډېره برخه تر خپل واک لاندې درلوده. مولوي محمدنبي محمدي چې د اعليحضرت د واکمنۍ پر مهال د ولسي جرګې غړی و، هم د جهاد پر مهال وسله واخيسته او ډېرو پښتنو يې ملاتړ وکړ. يونس خالص بل مشر و چې د اعليحضرت له واکمنۍ تښتېدلی و، او اوس يې د جهاد په کرښو کې فعاليت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره، هغه په ۱۹۹٦زکال افغانستان ته د بن لادن  په راتګ کې هم لاس لاره.

کله چې کرزی له هند څخه بېرته راغی، هغه له خپل پلار سره د جهاد په برخه کې مرسته پیل کړه. دا چې خپل لګښتونه یې باید پرې کړي وای، هغه په پېښور کې په ای ار سي انګریزي ژبې ښوونیز مرکز کې د ښوونکي په توګه دنده پیل کړه. د ځینو سرچینو په حواله هغه په کویټه کې هم په امریکایي ښوونیز مرکز (امریکن سنټر) کې د ښوونکي په توګه دنده لرله. پر هماغه مهال هغه یو عام ځوان ښکارېده، چې په کویټې ښار کې به پر بایسکل ګرځېده. د ژبني مهارتونو او د پلار د سیاسي پیاوړتیا له کبله هغه د جهاد په لیکو کې اړین ځای پیدا کړ. هغه به د افغانستان اړوند په پاکستان کې په لویدیځو سفارتونو کې د ژباړن په توګه کار کاوه، له ژورنالستانو سره به یې مرکې، او ورته کارونه هم سمبالول. دا طبعي وه چې هغه باید له سیاسي ډلو سره په پاکستان کې فعالیتونه پیل کړي وای. هغه د دوو هغو وړو سیاسي ډلو ترمنځ راغلی و، چې امریکا ته یې ډېر تمایل لاره.

پاکستان او امریکا جهادي ډلو ته پیسې او وسلې ورکولې، او هغوی د شوروي پر ضد جهاد کاوه. په حقیقت کې کرزي د شوروي پر ضد د جهاد لپاره د بهرنیو مرستو په برخه کې ډېر اړین کردار ادا کاوه. هغه په کویټه کې خپل دفتر پرانستی و. د هېواد په ختیځ کې جګړې زور اخیستی و، او کرزي ته د کندهار او ارزوګان په برخه کې مرستې ورکول کېدې تر څو جهاد پرې تقویه کړي. هغه د جهاد پر مهال جګړیزو کرښو ته هم سفرونه کول، د جان محمد خان په څېر خلکو سره به یې کتل، تر هغه چې دومره ملګري یې ومونډل چې په ۲۰۰۱زکال کې په ښه ورغلل. هغه به په موټرو کې کندهار او ترینکوټ ته غذایي توکي ور لېږل. دا چې د کرزي له غرب سره اړیکې جوړې وې، نو ځکه یې د جهادي مشرانو ملاتړ هم خپل کړی و، ان حزب اسلامي هم څه کوله چې له کرزي سره یې اړیکې ښې وي. هغه همدارنګه له ژوبلو مجاهدینو هم مرسته کوله چې بهر ته یې د درملنې لپاره ولېږي.



بیا هم د کرزي کورنۍ د شوروي ضد جهاد پر مهال ډېره نه وه مشهوره. کله چې په ۱۹۸۹زکال سره پوځ افغانستان پرېښود، د پوپلزیو په قوم کې د څوکۍ طلبۍ هڅې پیل شوې، دا چې کرزی حاضر نه و، نو ځکه امیر لالي په کندهار کې لوړه دنده واخیسته. امیر لالي د کرزي نږدې کس د پیسو او وسلو په خاطر په څېرېږه وواهه. په افغاني کولتور کې دا ډول کړنه یو ډول سپکاوی دی. د کرزي کورنۍ  واک ته د رسېدو د هڅو په لړ کې ډېره تکیه پر ارزوګان ولایت او خپل قوم کوله، چېرې چې د کرزي ملګری جان محمد خان په واک کې و. د کرزي او جان محمد خان له هماغه مهاله ملګرتیا پیل شوې وه. هغه مهال یې ملګرتیا نوره هم ټینګه شوه، کله چې په اتیایمو کلونو کې جان محمد خان کرزی له مرګه وژغوری. د دې دوو کسانو ترمنځ ملګرتیا په اصل کې د امیر لالي له څپېړې سره نوره هم ټینګه شوه. کله چې جان محمد خان په ۲۰۰۰زکال د طالبانو له زندانه خوشې شو، کرزي ورسره یو ځل بیا له نږدې کار پیل کړ.

که څه هم له کندهاره ډېرو خلکو هڅه کوله چې په واک ته ورسېږي، خو یوازې کرزي په پلازمینه کابل کې په کابینه کې ځان ته دنده پیدا کړه. دا مهال د هغه دنده د شمالي ټلوالې تر رهبرۍ لاندې وه، هغوی خپله رهبري له افغانستان څخه د شورویانو له وتو وروسته اعلان کړه. که څه هم د حامد کرزي د پلار له موجوده رهبرانو سره نه وه جوړه او د کرزي له دندې سره یې مخالفت ښوولی و، خو بیا هم حامد کرزي په افغان کابینه کې دنده واخیسته. هغه د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین و. که څه هم په کابینه کې یوه کلیدي څوکۍ نه شو ورته ویلای، خو کرزي یې پرمټ یو ډیپلوماتیک پاسپورټ اخیستلای شو. د هغه دندې ډېر دوام ونه کړای شو، ځکه د هغه له برهان الدین رباني سره ورانه شوه. کله چې په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل شوه، هغه د خپلې واکمنۍ چاره په اوبو کې کتله.

کله چې طالبان په ۱۹۹۴زکال د افغانستان د سیاست پر دریځ راڅرګند شول، د کرزي ورته نوې هیلې پیدا شوې. له بله اړخه د کرزي کورنۍ د طالبانو نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحریک ته ځکه لبیک وایه چې ګیي پر مټ به یې امیر لالی ووهي، ځکه هغه د طالبانو پر وړاندې ولاړ و. کله چې امیر لالي کندهار ښار ته نږدې جګړه بايلله، او طالبانو یې ورته یو ملګری هم ځوړوند کړی و، هغه نور ایران ته په تېښته بریالی شو. د امیر لالي ځینې ملګري او پلویان د کرزي له ملګرو او کورنۍ سره یو ځای شول. هغوی فکر کاوه چې د کرزي کورنۍ به د طالبانو په واکمنۍ کې ښه رول ولري. کرزي خپلې وسلې، تجهیزات او پنځوس زره امریکايي ډالر نویو رهبرانو ته ورکړل.

دا چې کرزي له طالبانو ملاتړ کړی و، د هغه په بدل کې طالبانو کرزی ملګروملتونو سازمان ته د هغوی د استازي په توګه معرف کړ. دا نو د هغه د نیکۍ په بدل کې د طالبانو ورسره نیکي وه. د حامد کرزي پلار عبدالاحد کرزي هم په کویټه او هم کندهار کې د مجلسونو او غونډو له لارې د خپل قوم اړوند طالبانو ملاتړ کاوه. د طالبانو په لیکو کې د پوپلزیو د قوم مشرانو له ملګروملتونو وغوښتل چې کرزي ته د طالبانو د استازي دنده ورکړي، خو کرزي لا د ملا محمد عمر او نورو طالب مشرانو اعتبار لاسته نه و راوړی. کرزي خپل ورور احمدولي کندهار ته ولېږه او هغه هلته له ملا یار محمد ( پوپلزي) او ملا غوث (پوپلزي) سره وکتل. له هغوی یې غوښتنه وکړه چې کرزي ته اجازه ورکړي چې په ملګروملتونو کې د طالبانو استازیتوب وکړي. دواړو ورته وویل چې د ملا محمدعمر دا کار خوښ نه و. بل په همدې اړه ملا غوث ورته وویل چې د ملامحمد عمر تر کرزي د طالبانو له کرښو کوم بل څوک خوښ دی. خو بیا هم په کابل کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د کرزي په اړه یو لیک تیار کړای شو، تر څو یې پر مټ حامد کرزی ملګرو ملتونو ته معرفي کړای شي. په دې اړه د بهرنیو چارو د هغه مهال، هغه مامور راته وویل چې لیک یې لیکلی و:" هغه لیک تر پایه نیویارک ته ونه لېږل شو، ملامحمد عمر پر کرزي اعتماد نه لاره، ځکه کرزي له بهرنیانو سره ډېرې اړیکې لرلې." له بل لوري د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د بهرنیو چارو وزارت چارواکو هم پر کرزي باور نه لاره. هغوی فکر کاوه چې کرزي



له د سي ای اې لپاره کار کاوه.

د ۱۹۹٦زکال په پای کې ولسمشر کرزی پوه شو چې نور د طالبانو په استازیتوب ملګروملتونو سازمان ته د استازي په توګه نه شي تلای. کرزی واشنګټن ته ولاړ او هلته یې له بهرنیو چارو وزارت څخه وغوښتل چې امریکا د لوستو افغانانو لاس ونیسي او له هغوی سره همکاري وکړي. هغه وویل:"د طالبانو د کمزوري کولو لپاره د امریکا ملاتړ یواځنۍ لار ده." دا څرګنده وه چې د پوپلزیو مشرانو په طالبانو کې واک له لاسه ورکړی و، نو ځکه کرزي هڅه کوله چې څه ترلاسه کړي. د کرزي لپاره نور طالبان د یوې نالوستې ډلې په توګه پېژندل شوي وو، هغه ویل چې هغوی د نړیوالې ټولنې سره د نږدې کېدو لپاره کومه پالیسي نه لري، ځکه د هغوی د محافظه کارۍ جامې په تن وې. که څه هم یوه امریکايي سفیر کرزي ته ویلي و چې له طالبانو سره به خبرې وکړي، خو هغه ورته ویلي و چې امریکا به یوه افغاني ډله هم د جګړې په موخه تقویه نه کړي.

د کرزي پلار خپل زوی (کرزي) ته په دې په غوسه و چې ولې یې داسې چارې په مخ وړلې. د کرزي د کورنۍ نږدې خپلوان وایي چې مشر کرزی د حامد کرزي په دې ډول کارونو ډېر تنګېده. هغه غوښتل کرزی له هر چا سره ملګرتیا وکړي، له امریکا، پاکستان، طالبانو، پخوانیو جنګسالارانو، او له شاهي کورنۍ سره چې لا په روم کې وه. امریکايي سفیر ریچارډ سمیت وویل چې له امریکایانو سره اړیکې حامد کرزي سمې کړې وې، نه د کرزي پلار (مشر کرزي). سفیر وویل:"مشر کرزي سره مې ځکه خبرې نه کولې، چې هغه راته نه راتله." کرزي به په کویټه ښار کې هم له ځواکمنو سیاسي مشرانو سره د خپل پلار په نه شتون کې لیدنې کولې. ویل کېږي چې د کرزي او خپل پلار ترمنځ به ورځ تر بلې پر ورته کړنو مناسبات خرابېدل، هغه نه غوښتل کرزی ورته کړنې ترسره کړي.

د کرزي سازمان (د افغانستان د چاپیریال پوهاوي فدراسیون) په نوم قیوم کرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نویمو کلونو په پیل کې پرانیست او په کندهار کې یې دفتر لاره. یو ځل بیا په طالبانو کې پوپلزیو مشرانو ملا یارمحمد او عبدالجلیل له دوی سره همکاري کوله، هغوی ورته ویلي و:"تاسې دلته اوسېدلی شئ، مه وارخطا کېږئ." دې سازمان د ډېرو پروژو په برخه کې له طالبانو څخه ستاینلیکونه تر لاسه کړي وو. د کتاب لیکوالې ته د دې سازمان اړوند ځینې اسنادونه ښودل شوي وو چې پر مټ یې لیکواله پوه شوه چې احمد ولي به هم خپل ډېر وخت په کندهار کې تېراوه، او هغه به په کندهار او اروزګان کې د پوپلزیو په سیمو کې پروژې تطبیقولې. دا لا څرګنده نه ده چې کرزي ولې د خپل قوم لپاره کار کاوه، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یو طالب قومندان ملا غوث ته هم یوه پروژه ورکول شوې وه چې هغه په خپله سیمه چهار چینو کې تطبیق کړله. د کرزي سازمان ته نړیوال روغتیایي سازمان او د ملګرو ملتونو نورو برخو پیسې ورکولې. دا ټول هغه څه و چې د کرزي پر مټ ترسره کېدل، هغه به په اسلام اباد کې لویدیځو سازمانونو ته ورتلو.

دا چې کرزي له خپل قوم سره په پرمختیایي پروګرامونو کې هم مرستې کولې، هغه په سیاسي لحاظ ډېر فعال شو. تر هغه وروسته چې هغه د ملګروملتونو سازمان لپاره د طالبانو د سفیر په توګه ونه منل شو، د طالبانو له رهبرۍ په ځانګړې توګه له ملا محمد عمر سره د کرزي اختلاف زیات شو. وروسته چې په ۱۹۹۸زکال په نیروبي او دارالسلام کې د امریکا پر سفارتونو د القاعدې له لوري بریدونه وشول، له هغو امریکایانو سره د کرزي اړیکې نورې هم ټینګې شوې چې غوښتل یې د اسامه بن لادن په وړاندې ملګري پیدا کړي. هغه له اروزګان څخه خپل ملګري قومي مشران کویټې ته ور وغوښتل او له هغوی سره یې د افغانستان د راتلونکي په اړه خبرې وکړې. کرزي پخوانیو مجاهدینو ته چې د طالبانو له لوري له هېواد څخه شړل شوي وو، ویزې واخیستې چې په فرانکفورټ، استانبول او امریکا متحده ایالاتو کې کتنو ته ولاړ شي. په ۱۹۹۸زکال کې ۲۰۰ افغانانو په جرمني کې په یوه کنفرانس کې ونډه



واخیسته. دې کنفرانس ته د طالبانو استازي هم ور غوښتل شوي وو. کرزي او نورو افغانانو به د طالبانو او القاعدې په اړه خبرې کولې، ډېرو افغانانو د طالبانو رژیم ته د پردیو د لاس رژیم ویلو. طالبان په دې ډول کنفرانسونو کې د ګډون لپاره تیار نه وو. د پخواني باچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه استازی په وار وار کندهار ته ولاړ او له طالبانو سره یې خبرې وکړې، خو کومه پایله یې ترلاسه نه کړه. په ۱۹۹۹زکال تر هغه دوه میاشتې وروسته چې د حامد کرزي مور د سرطان د ناروغۍ له کبله ومړي، د هغه پلار هم و وژل شو. د کرزي پلار تازه له امریکا راستون شوی و، هغه په کویټه کې مسجد ته په لار و چې د دوو موټر سایکل سپرو لخوا په ډزو و وژل شو. که څه هم د کرزي کورنۍ او رسنیو د هغه وژنه پر طالبانو تاوانوله، خو دا تر پایه پوره څرګنده نه شوه، چې هغه چا و واژه. د هغه خدای بښلي جنازه کندهار ته ولېږل شوه، کرزي ته هم د مرګ ګواښونه شوي و، هغوی جنازه په پټه اړوند پلرنۍ هدیرې ته یوړه او د جنازې امنیت یې هم هغو طالبانو ساتلی و چې له کرزي سره یې اړیکې لرلې. خو بیا هم طالبانو د کرزي د سازمان دفتر محاصره کړی و، او غوښتل یې چې هغه ونیسي، هغه د دې خبرې په اورېدو، ژر جنازه پرېښوده او کویټې ته یې ځان ورساوه. د احمدولي اړیکې په کندهار کې ښې وې، نو ځکه بېرته هماغلته پاتې شو.

د کرزیانو په کورنۍ کې د مخالفتونو په دوام د کرزي د پلار ناسکه ورور د دغې کورنۍ د یو بل غړي یار محمد لخوا و وژل شو. دې ناوړه پېښو د کورنۍ په منځ کې درځ پیدا کړ، دا درځ لا تر ننه احساسېږي.

کرزی به په اسلام اباد کې د امریکا سفارت ته ډېر کله ورتلو، کله به ورسره جان محمد خان او د اروزګان او کندهار ملګري او دوستان هم وو. هغوی د امریکا سفارت ته ویل چې، غواړي له اروزګان څخه د طالبانو پر وړاندې وسلوال مقاومت پیل کړي، هسې چې د شوریانو پر وړاندې یې کړی و، او پکې بریالي شوي هم وو. روسانو د طالبانو پر ضد له شمال ټلوالې سره همکاري کوله، اېران له هزاره قوم سره د طالبانو پر وړاندې همکاري کوله. د کرزي او ملګرو په وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې امریکایانو باید د افغانستان په سویل کې ورته څه کړي وای. د جان محمد خان پلان لا څرګند نه و چې هغه طالبانو ونیو او زنداني یې کړ، د کرزي په ملاتړ په سویل کې پر همدې برخې کار روان و.

په ۲۰۰۰زکال کرزي له شمالي ټلوالې سره اړیکه ټینګه کړه. دا یو غیرې عادي حرکت و، ځکه د هغه تاریخ له ټلوالې سره معلوم و، په پښتنو کې دا څرګنده وه چې له پښتنو پرته هزاره، تاجک، او ازبیک نشي کولای په افغانستان کې واکمن شي. خو د کرزي دریځ دا مهال توپیر لاره، هغه خپل دریځ د نورو پر وړاندې پرانیستی و. د ټلوالې له مشر احمدشاه مسعود سره یې هم د دوه اړخیزو همکاریو خبرې کړې وې. کرزي ډېر لومړیتوب د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ملاتړ ته ورکاوه، چې په نیویارک کې یې همدا هڅې کولې، که څه هم مسعود له دې کار سره مخالف و. هغه په ربښتیا یو نظامي قومندان و، خو ملګري یې په قاچاق کې په لاس لرلو تورن وو. د بشر حقوقو پر ضد کړنې یې ثبت شوې وې. کرزي له شکمنو مشرانو سره اړیکې لرلې، هغه به له ځینو خلکو سره په یوازې توګه هم اړیکې ساتلې، دا هغه کسان و چې د ۲۰۰۱زکال وروسته د کرزي په حکومت کې ځای پر ځای کړای شول. د بېلګې په توګه یې ازبیک مشر رشید دوستم یادولی شو. هغه په کابل کې په کورنۍ جګړه کې ونډه لرله، او د طالبانو څخه په تېښته بریالی شوی و. بل کس اسماعیل خان و چې د طالبانو له واکمنۍ وړاندې د هرات والي و. هغه د طالبانو له اوږد زندان څخه په تېښته بریالی شو او ایران ته ولاړ. بل هزاره مشر کریم خلیلي و، که څه هم په بامیان کې یې نفوذ لرې و خو بیا هم یو مخالف ګڼل کېده. بل کس حاجي قدیر و، هغه په اصل کې د ننګرهار و، هغه یو سیاستوال او قوي مشر و، هغه له ځانه ملېشه لرله.

د کرزي له ډیپلوماتانو سره هم اړیکې وې. هغه لوستی و او په انګریزي ژبه یې هم رواني خبرې کولې. د هر نوي کال په را رسېدو سره به یې له سفیرانو څخه د مبارکۍ کارتونه ترلاسه کول. په افغانستان کې د کرزي دریځ بل ډول و، هغه له



مجرمینو او نورو قوي مشرانو سره اړیکې ساتلې. هغه پوهېده چې دې کسانو ته یې اړتیا وه، هغه له مسعود سره خپله مطالعه شریکه کړې وه چې څنګه کولای شي د طالبانو پر وړاندې وسلوال مقاومت وکړي. مسعود د القاعدې په اړه ټول معلومات سي ای اې ته لېږلي و، خو د مسعود لومړیتوب طالبان و چې باید نابود شي. هغه پلان لاره چې په شمال او سویل کې د طالبانو پر وړاندې وسلوال مقاومتونه پرانیزي. څنګه چې طالبانو د دې خبرو په اورېدو مخالفتونه څرګند کړل، مسعود به یې پر وړاندې سخت چریکي وسلوال مقاومت کاوه. دا هم په پلان کې وه چې اروزګان هم په وسلوال مقاومت کې دخیل کړي. مسعود له وړاندې پوهېده چې په کندهار کې مستقیم مقاومت پیلول یې انتخاب نه و. دوی پر دې هم خبرې کړې وې چې څنګه کولای شي جان محمد خان له زندانه خوشي کړي. دا اړینه وه چې هغه د مسعود له مقاومت سره یو ځای شي. دوی پر دې موافقه وکړه، چې د کرزي د اروزګان ملګري به له پنجشیر درې څخه کار پیل کړي، دا سیمه لا د طالبانو لاس ته نه وه لوېدلې. د پنجشیر دره ښکلې او شنه ده. له هغه وروسته به د مسعود په ملاتړ دا کسان په سویل کې چې ښایي د اروزګان سیمه به ورته ټاکل شوې وه جګړه پیلوي او بیا به د کندهار پر لور حرکت کوي.

د امریکایانو ډېره پاملرنه د القاعدې مشر اسامه بن لادن ته وه، چې د طالبانو تر واک لاندې افغانستان کې یې خپلې کړنې له ۱۹۹٦زکاله ترسره کولې. بن لادن هغه کس و چې د نیوروبي، دار السلام او د امریکا پر سمندري ځواک باندې یې بریدونه کړي وو. امریکایانو کرزي ته په دوامداره توګه ویل:"موږ اسامه بن لادن غواړو. تاسو باید له طالبانو سره د هغه د سپارلو په اړه خبرې وکړئ." د کرزي ځواب ورته دا و چې له طالبانو سره خبرې نه بریالۍ کېدونکې دي. د بن لادن پلرني هېواد سعودي عربستان له طالبانو وغوښتل چې بن لادن په لاس ورکړي او ۴۰۰ میلیونه ډالر یې هم ورته په بدل کې وړاندیز وکړ. که څه هم له دې خبرو وروسته طالبانو په خپلو کې پر دې کار خبرې وکړې، خو پایله دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووته چې هغوی د اسلامي دود او مېلمه پالنې له مخې خپل مسلمان ورور نشي تسلیمولای.

که څه هم پر دې خبره د امریکا په بهرنیو چارو وزارت کې اختلاف و، خو امریکایانو له طالبانو سره د خبرو لار خوښه کړې وه. د طالبانو د رژیم د بدلون لپاره کوم پلان نه و. لا هم کرزی له امریکایانو سره لاس او ګرېوان و، هغه په دې اند و چې له امریکا پرته بل څوک په افغانستان کې د بدلون فرصت نشي برابرولی. خو دا کار یې له رد غبرګونونو سره مخ و. افغانستان د امریکا په اجنډا کې نه و، څه چې پاکستان له افغانستان سره کول، امریکا ورته څه نه ویل. امریکایانو به کرزي ته ویل:"تاسې لوستی کس یاست، خو تاسې ولاړ شئ او له طالبانو سره معامله وکړئ." کله چې په ۲۰۰۱زکال کې د کرزي ویزه پای ته ورسېده او پاکستان ورته نه تمدیدوله، په دې وخت کې له کرزي سره یو ځل بیا امریکا همکاري وکړه. کرزي وویل:"زه فکر کوم په هماغه لانجه کې امریکا مداخله وکړه او پاکستان ته یې وویل چې ما له خپلې خاورې ونه باسي. زه نه پوهېږم چې څومره اغیز به یې لرلی وي. ما امریکایانو ته وویل چې زما ویزه نوره ختمه ده، که همکاري کولای شئ. زه ډاډه یم چې هغوی به په دې اړه څه کړي وي."



# څلورم څپرکی

## دا ځان وژونکی دی:
## د کرزي په ډله کې بې باوري

د ۲۰۰۱زکال په وروستۍ اوونۍ کې کرزی له یوه کس سره ناست و، هغه کس د کرزي په غوښتنه سید له اروزګانه کوېټې ته ور وستلی و. د دې سړي ژېړه څېره، توري سترګې او لوړ عمر و. هغه د دهراوت د لنډیانه کلي و، او په ختّه پوپلزی و. له کرزي سره یې له پخوا پېژندل، کورنۍ ور باندې د ابراهیم نوم ایښی و، دا نوم د هغه له طبیعت سره هم جوړ و. په وروستیو کلونو کې هغه کوېټې ته راته، ډېر وختونه به د کرزي په غوښتنه هلته تلو، کرزي به هر کله ترې پوښتل:"ته تر اوسه راسره ملګری یې؟" ابراهیم به ورته د هو ځواب وایه. هغه اوس یو ځل بیا کوېټې ته راغلی و او د خپل مشر خبرو ته غوږ و. کرزي ورته په ډاګه کړه چې نړۍ نور طالبان نه غواړي، نو ځکه باید لاسونه سره ورکړو چې بدلون رامنځ ته کړو. که څه هم ابراهیم یې د خبرو په ټولیز مفهوم نه پوهېده، خو بیا یې هم د خپل مشر خبرو ته د تل په څېر غوږ ایښی و. هغه لا د سپټمبر د ۱۱مې له پېښو پوره خبر نه و، او نه هم پوهېده چې په نړۍ کې څه بدلونونه رامنځ ته شوي. په پای کې هغه څو خبرې وکړې:" طالبان ځواکمن دي، موږ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی پر وړاندې اوس څه وکړای شو؟" کرزي په ډانگه پېیلې ور غبرگه کړه:"مه وارخطا کېږه، ما له نړیوالو سره خبرې کړې."

کرزي ابراهیم ته یو لېست ورکړ، د ابراهیم سترگې ځړېدلې وې، هغه نه پوهېده چې په لاس کې نیولو لېستونو کې څه و. په دې پاڼو کې د دهراوت د ځینو کسانو نومونه وو. د قوم کسان، طالبان، پخواني طالبان او نور پکې و. ابراهیم پوه کړای شو، او هغه دا ټول پېژندل. ابراهیم د سید په څېر باید خپلې سیمې ته تللی وای او هلته یې په کلاوو کې له خپلو کسانو سره کتلي وای او د کرزي پیغام یې تر هغوی رسولی وای. ابراهیم ته د سید په پرتله یو څه زیات معلومات ورکړل شول. هغه باید په خپل ولایت کې د خلکو پر ذهنونو کار وکړي. کرزي غوښتل خپله د خلکو منځ ته ننوزي، د دې کار لپاره یې په ابراهیم لار پاکوله. ابراهیم چې کلونه یې د شورویانو پر وړاندې جگړه کړې وه، په ستومانۍ یې په خپله ږیره لاس را تېر کړ او ویې ویل:"دا له اور سره لوبې دي." هغه د خپل ځان په اړه فکر نه کاوه او نه یې هم د مقاومت خلاف فکر کاوه، خو هغه د کرزي د ورتگ مخالف و. فکر یې کاوه چې گڼې په دې کار سره به کرزي ته ستونزه ور پېښه شي. کرزی ورته د یو پیاوړي قومي مشر په توگه گران و، نو ځکه یې هغه پر مرگ نه پېزو کېده. خو کرزي یې خبرې ورسره ونه منلې، او ابراهیم یې قانع کړ چې پیغام ورسوي.

یوازې ابراهیم د کرزي د پلانونو په اړه بې باوري نه لرله، بل کس هم په دې اړه اندېښنه لرله، هغه وویل:"له موږ سره وسلې نشته، تاسې څنگه فکر کوئ چې په همدې ډول به اروزگان ته ننوځئ؟" خو کرزي خپل پلان ته تغیر ور نه کړ، له دې کسانو سره یې ټینگه اړیکه وه او باور یې پرې ټینگ و. په ولسي خلکو کې دا کسان اغیزناک وو، نو ځکه کرزي پرې د خپل پلان او مقاومت د پرمختگ لپاره تکیه کوله. کرزی راضي کړای شو چې د جگړې ستراتیژي یې ناکامه کېدونکې وه، ځکه طالبان په پښتني سیمو کې ډېر ځواکمن وو. نو ځکه کرزي په ارزوگان او نورو سویلي ولایتونو کې پر خپل نفوذ زیاتېدو کار پیل کړ. خبره له



وژلو، خبرو ته واوښته. دا د کار پیل و. که چېرې د خبرو ستراتیژي کار نه وای کړی، نو بیا د امریکا په ملاتړ جگړه اړینه وه. دا هغه څه و چې کرزي خپله غوښتل د مقاومت مشري په غاړه ولري، هغه غوښتل د طالبانو د بدیل په توگه څرگند شي.

کرزي وویل:"زه به جنډه په لاس کې اخلم، څنگه له جگړې پرته دا کار شونی بولئ؟" پر همدې مهال یو اروزگاني ترې پوښتنه وکړه، خو کرزي یې پوښتنې ته پام ونه کړ. هغه کس وویل:"تاسې راته د ورور په څېر گران یاست، که تاسې د طالبانو پلویان و وژنئ، زه به مو سره له تنه جلا کړم." په مجلس کې ناستو خلکو دا خبره اورېدلې وه.

ډېرو افغان مشرانو د کرزي نرمې سیاسې رویې ته هرکلی وایه. له پخوانیو پاچاهانو څخه امیر عبدالرحمن خان هم له ورته تاکتیکونو کار اخیستی و. هغه لومړی د یوې ډلې چې ورته نږدې او د قوم کسان یې وو، کار پیل کړ. د هغوی په مرسته یې کندهار ته ځان ورساوه، قومي مشرانو ته یې په سلگونو لیکونه ولېږل، له هغوی سره یې د هغوی د محافظت، وسلو، له محصول څخه د خلاصون، او نورو امتیازاتو ژمنې وکړې. هغه په یوازې سر په هند کې له برتانویانو څخه پیسې ټولې او د دې ژمنو د پوره کولو لپاره چمتو کړې.

ورته هڅې په نوي افغان تاریخ کې ترسره شوې. کله چې د شورویانو پر وړاندې په افغانستان کې جهاد پیل شو، د قومي مشرانو وړو ډلې به له یوې کوټې څخه بلې ته تلل او له ځانونو سره به یې ډالۍ، پیسې او نور څه وړل، چې د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي. کورنی سیاست همداسې وي چې له یو اړخ څخه به د قوم خیال ساتې، له بل اړخ څخه به خپلو اداري چارو ته پام کوې. دا په پښتنو کې ځانگړی کردار دی، چې خطر وېشل شوی وي.

په داسې یوه ټولنه کې چې قومونه ډېر وي او په لویو او وړو ډلو وېشل شوي وي، بهرنیان هم په اسانۍ نه شي کولای سیاسي او ټولنیز دریځ درک کړي. په پښتنو کې تربورگلوي هم اخښلې، چې په خپلو کې د یو او بل قوم ترمنځ ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیالۍ پالي. د اکا د زامنو او ان د وروڼو ترمنځ هم د واک پر وېش او امتیاز خوابدي موجوده وي. په کشرتوب کې هم ځوانو هلکانو ته دا ور ښودل کېږي چې په کوټه کې ځنګه د خپل حق او عزت ننګه وکړي. د ځوانو هلکانو ترمنځ د لاس اچول او فزیکي جګړې عادي وي. په دې ترڅ کې په هر قوم کې یو څوک د واک چارې په لاس کې اخلي. له شوروي سره د جهاد پر مهال د وسلو کاروبار نور هم د قومونو ترمنځ شخړې زیاتې کړې. که څه هم جګړه په اصل کې د مذهب، خپلواکۍ او سیاست د خوندیتوب وه، خو د هر افغان لپاره یو رژیم په خپل قوم او کورنۍ کې د بدلون په معنا دی.

په اروزګان کې روزي خان چې په قوم بارکزی و او د کرزي د کورنۍ سیال بلل کېږي راته وویل چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال قومي سیاست تر پښنو لاندې و. د طالبانو رژیم په دې توانېدلی و چې د قومونو ترمنځ د شخړو په برخه کې حل لارې ومومي، د غلاوو او وژنو مخه ونیسي، دې کار هم په ولس کې او هم خپله د حکومتي کسانو په منځ کې شتون درلود، روزي خان بارکزي راته وویل:"کله چې موږ د واک پر ګدۍ وو، کوم کس به چې و وژل شو، د کس له قومي مشر او یا هم جنګسالار سره به یې په اړه خبرې کېدې. خو د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هر څه یوازې د طالبانو په اداري پورې تړلي وو، موږ پکې کوم اړین رول نه شو لوبولای. کله به چې کوم چا غلا وکړه، چا نه شوای کولی د هغه ننګه وکړي. کله چې به چا قتل وکړ، طالبانو به هغه د قاضي پر وړاندې حاضر کړ، هغه ته به یې د مرګ سزا واوروله، چا یې ننګه نشوه کولای. افغان ولس د طالبانو پر وړاندې څه نه شو ویلای، له هغوی څخه یې ډېره وېره لرله. خو د پخوانیو رژیمونو سره یې خبر کولای شوی. کله چې به د اوبو او ځمکې خبره وه، طالبانو به چا ته اجازه نه ورکوله چې حل یې کړئ."

روزي خان تر اوسه د طالبانو په منځ کې اړیکې لرلې، خو د وخت په تېرېدو له طالبانو د اړیکو پر مټ ګټه اخیستل هم ستونزم شول. هغه خپلې وسلې طالبانو ته نه وې تسلیم کړې، ټولې یې د ارزوګان په شمالي سیمو کې پټې کړې وې.



په طالبانو کې یې یو ملګری د حاجي ودود په نامه درلود، هغه به یې ننګه کوله، خو د هغه هڅو هم هر کله کار نه شو ورکولای. حاجي ودود د حاجي روزي خان په اړه یو لیک لیکلی و چې ګڼې هغه وسلې نه لري. خو بیا هم د وسلو د موندنې په اړه ترې پلټنې روانې وې. کله به چې په ولایت کې نوي طالبان مقررېدل، روزي خان به ځان ور څخه په خطر کې لیده، نو ځکه به یې کله کابل ته د څه وخت لپاره سفر کاوه.

د ارزوګان د پولیسو پخواني مشر عزیز هم له طالبانو سره ستونزې لرلې. د هغه له طالبانو سره یوازې ایډیالوژیک اختلاف نه و، بلکې هغه غوښتل ځان واک ته ورسوي. طالبانو عزیز تر ځار لاندې نیولی و. د عزیز تربور هم ورته مشکلات جوړول، د عزیز تربور هغه مهال چې دی په اروزګان کې د پولیسو مشر و، تر سختو فشارونو لاندې و، کله چې د طالبانو رژیم راغی، هغه خوښ شو. د عزیز تربور د غچ په تمه و. عزیز خپلې ځمکې ته یوه ویاله وایستله، تربور یې ترې د اوبو غوښتنه کوله، عزیز یې غوښتنه نه منله، پر همدې موضوع د دواړو ترمنځ سخت اختلافونه پیدا شول. د عزیز تربور د اوبو د نه ورکړې په غچ اخیستو سره د عزیز پر مېلمستون لار بنده کړه چې د تربور په ځمکه کې یې تېره شوې وه. کله چې عزیز جرمني ته د یو کنفرانس د ګډون به موخه تللی و، تربور یې ورته مشکلات زیات کړي و، هغه غوښتل عزیز نور له وطنه مهاجر شي. کله چې به عزیز بهر تللی و، نو تربور به یې کور ته ورتلو او د هغه د کورنۍ غړي به یې تنګول. له دې سره عزیز ته ستونزې پېښې شوې، هغه نه شوی کولای، خپل کور ته ستون شي. د عزیز د کورنۍ غړو طالبانو ته خواست وکړ، دا خبره ان تر ملامحمد عمر پورې ورسېده چې عزیز ته اجازه ورکړي چې ترینکوټ ته راستون شي.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال قومي واسطې او سپارښتنې نه منل کېدې، د اروزګان پخوانی والي هم نوي رژیم له پښنو غورځولی و. کله چې طالبانو اروزګان ونیو، لا هم جان محمد خان غوښتل د امریکا له سفارت سره خپلې اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وساتي، خو څه موده وروسته دا ورته څکه ستونزمنه شوه چې طالبان به یې په سفرونو او مجلسونو خبرېدل. په لومړیو کې به یې ملایانو ته پیسې ورکولې چې د هغه ستاینه او ملاتړ وکړي، هغه په پاکستان کې د پخوانیو زخمونو عکسونه ساتلي و، د طالبانو لپاره یې د یوې پلمې په توګه چمتو کړل چې ګنې هغه کویټې ته د درملنې لپاره سفرونه کول. خو پر دې ټولو هڅو سربېره، بیا هم هغه د طالبانو له لوري وڅېل کړای شو. یوه ملګري یې ورته فریب ورکړ، او طالبانو ته یې په لاس ورکړ او د طالبانو دواکمنۍ تر پایه په زندان کې و.
د پخوانیو جنګسالارانو او قومي مشرانو قوت ضعیف شوی و، د دې ترڅنګ دا خبره هم ناڅرګنده پاتې وه چې د اروزګان خلکو پر طالبانو څومره باور درلود. له کلونو دوښمنیو او د قومي مشرانو پر فساد سربېره د طالبانو له راتلو سره په دې ولایت کې سوله راغلې وه. د طالبانو بنسټیز بدلونونونه لکه مسجد ته پر وخت تلل او لویې ږیرې پرېښودل د قومي خلکو لپاره ستونزمن شوي وو. ځینې خلک د ږیرو د وړو کولو پر سر زنداني شوي وو. پر موزیک هم بندیز لګېدلی و. خو بیا هم په ولایتي کچه طالبانو د خلکو ځینو خبرو ته پام کاوه. چادري باید ښځو پر سر کړې وای، چادري د طالبانو له نظام وړاندې هم دود وه. د سنګسار په څېر سختې سزاګانې به ورکول کېدې، دا کار به تر ډېره په کندهار او کابل کې ترسره کېده، څکه دا دوه ځایونه د طالبانو قوي مرکزونه وو. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د نجونو ښوونځي تړل شوي وو، خو د اروزګان له مرکز ترینکوټ او دهراوت پرته په لرې کلیو کې خلک د زده کړو په برخه کې خپل سري وو. په کلیو کې میرمنو کولای شول پرونې د چادرۍ پر ځای پر سر کړي. په ځینو کلیو کې اهل تشیع اوسېدل، هلته نجونې کلیوالي ښوونځیو ته تلل. خلک اړ وو چې خپل زامن طالبانو ته د شمالي ټلوالې پر ضد د جګړې لپاره ورکړي. ځینو ځوانانو نه غوښتل دا کار وکړي، هغوی د طالبانو له قانون څخه سر نه شو غړولای. د ترینکوټ په واړه روغتون کې به نوي ځوانان غونډ شوي وو، او همدې روغتون ته به په چورلکه کې ژوبل او وژل شوي کسان راوړل کېدل. په همدې



ځای کې به میندو خپل روغ زامن ورکول او همدلته به یې ښرته خپل زامن ژوبل یا مړه ترلاسه کول.
ښرته راځم د کرزي د پیغام خبرو ته. د ابراهیم په څېر عبدالغني هم د سید پیغام واخیست، هغه د ترینکوټ د شمالي کلي کوتوال و. په ونه ټیټ او لویه ږیره یې لرله. هغه یو محلي قومي مشر و، د خلکو په منځ کې د ماما په نوم مشهور و. نوموړی د کرزي بلنې حیران کړ. ده په وروستیو کلونو کې کویټې ته د مشر کرزي په بلنه ډېر سفرونه کړي وو، اوس یې د هغه له زوی حامد کرزي سره لیدنې کولې، دا مهال هغه په خپل مېلمستون کې له عامو خلکو سره نه شو کتلی. عبدالغني تل د کرزي ملګری نه دی پاتې شوی، کله چې امیر لالی واک ته ورسېد، هغه ورسره ملګری و، لالی د کرزیانو مخالف و، او په خپل وار سره لالی بیا له طالبانو سره هم نه و جوړ. له هغه وروسته ایران ته په تېښته بریالی شو. له هغه وروسته عبدالغني د کرزي ملګرتیا پیل کړه. کله چې کرزی له عبدالغني سره مخ شو، د هغه وفاداري یې و ازمایله. کرزي هغه ته وویل چې طالبان نور ختم شول، خو عبدالغني یې په خبره باور نه شو کولای. هغه ور غبرګه کړه:"تاسې څه وایاست؟ دا ناشونې ده." طالبانو له عبدالغني سره په تېرو کلونو کې بده رویه کړې وه. د هغه ټولې وسلې یې ترې اخیستې وې، او پر کور ناست و. کرزي په خپله خبره ټینګار کاوه، هغه ورته وویل چې امریکایان نور د افغانستان په موضوع کې مداخله کول غواړي. کرزي ورته وویل:"ډېر بدلون به راشي. اوس باید موږ خپل هېواد ته خدمت وکړو، او په دې خدمت کې هر څوک باید ګډون وکړي." لا هم عبدالغني دکرزي اصل پیغام نشو درک کولی، عبدالغني ته پوښتنې پیدا وې، د بېلګې په توګه، دا په څه معنا چې امریکایان به زموږ لاس ونیسي؟ په حقیقت کې کرزی څه غواړي؟ ایا هغه دا درک کړې چې په اروزګان کې د طالبانو پر وړاندې مقاومت کول څومره ستونزمن کار دی؟
د ابراهیم او عبدالغني سره چې کومې خبرې شریکې شوې، په کویټه کې له نورو ټولو هغو کسانو سره هم شریکې شوې چې له کرزي سره یې کتلي و. هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مشکله وه په دې پوه شي چې د امریکا دنګو سوداګریزو مرکزونو کې څه ډول پېښې شوې وې. او یا دا پېښې به د افغانستان پر نړیوال دریځ څه اغېز وکړي. د ټولو لپاره امریکا یوازې دومره مطرح وه، چې هغې ورسره د شورویانو پر وړاندې د جګړې پر مهال مرستې کولې، او له هغه وروسته یې صحنه نوره خوشې کړه. په دې وروستیو کې له امریکایانو وسلې اخیستل او د طالبانو پر وړاندې جګړه کول ناکام شوې هڅې وې. او په وار وار دا کار تکرار شوی و.

حاجي بهادر چې کله د کرزي د مېلمنو خونې ته په کویټې ښار کې ورسېد، ورته اندېښنې یې لرلې. حاجي بهادر د جان محمد خان په څېر د یو قوم (کرنګ) مشر و. هغه له کرزي سره له نږدې پېژندل، د کرزي د مېلمنو خونې ته په ور بلل شویو کې تر نورو ځوان و، که څه هم د هغه اصلي نوم بهادر دی، د شورویانو سره د جهاد پرمهال یې همداسې بهادرۍ کړې وې. له روسانو سره تر جګړې وروسته هغه د خپل ورور حاجي ظاهر اغا تر څنګ قومي جګړې هم کړې وې، چې په پایله کې یې درې کورنۍ پکې تبا شوې وې. شخړه یې له پخوا څخه وه، اصلي رېښه یې د ځمکې له یوې دعوې اخیسته. پر دې سربېره چې بهادر ډېر ظالم سړی و، خو بیا هم کرزي پرې باور کاوه او څو ځله یې په اسلام اباد کې د امریکا سفارت ته له ځان سره بېولی و. د نورو په څېر کرزي بهادر ته هم وویل چې اوس امریکایان غواړي د طالبانو پر وړاندې خپل دریځ ته تغیر وکړي. هغه بهادر ته وویل:"په امریکا کې پېښو امریکایان طالبانو ته سخت په غوسه کړي دي. که اوس موږ د طالبانو پر ضد و درېږو، امریکایان به راسره د خپلو جبهې الوتکو پر مټ همکاري وکړي." د بهادر پر اندېښنو سربېره هغه د کرزي خبرو قانع کړ، چې ګنې کرزی بې ځایه خبرې نه کوي.

کرزي چې کومې وسلې او تجهیزات په اروزګان کې د جګړې لپاره په کار اچول غوښتل بهادر ته نوي وو، کله چې ورته یو څه ورکول شول، هغه یې په لیدو هېښ شو. له کرزي یې پوښتنه وکړه چې دا څه دي؟ هغه ورته وویل چې دا تلیفون دی، په موجونو کار کوي، زه به یې درته تشریح کړم چې څرنګه کار



کوي. بهادر دا ډول څه له وړاندې نه و کارولي. د اروزګانیانو په لاسونو کې سټلایټ تلیفونونه حیرانوونکي ورته ښکارېدل، کرزي ورته وویل چې د تلیفون انټنونه به د لمر لور ته نیسي. کرزي ورته د تلیفون په اړه ټول اړین معلومات ورکړل، که څه هم ځینو یې په اړه هېڅ معلومات وا نه خستلای شول، خو بیا هم کرزي پرې ټینګار کاوه چې باید تلیفون وکاروي. کله چې اروزګان ته ولاړ، هلته له خپلو خلکو سره په نږدې رابطه کې و. هغه به د اروزګان په مېلمستونونو کې د روانو خبرو په اړه تازه معلومات له خپلو ملګرو پر تلیفون اخیستل. څومره طالبان تسلیم شوي؟ د دې ډول او نورو معلوماتو لپاره یې له تلیفون څخه کار اخیست.

د نورو په څېر حاجي بهادر هم اروزګان ته له سټلایټ تلیفونونو او پخوانیو عادي مخابرو سره ستون شو. دې خلکو ته ویل شوي وو، چې دا وسایل به په خپلو کې له یو بل سره کاروي. ځینې وخت به مهمو خلکو خپله تلیفونونه له ځانونو سره نه انتقالول، بلکې نورو عادي خلکو به ورسره تر شا اخیستي وو. کرزي هر کس ته لس زره او یا هم شل زره پاکستانۍ کلدارې د لارې د لګښتونو د پرېکولو او یا هم د هغوی د زړونو د په لاس راوړلو لپاره ورکولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځم څپرکی

## امریکا غچ اخلي

د سپټمبر د ۱۱مې له پېښو څو ورځې وروسته د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش خپل ولس ته وینا وکړه:"موږ به هغه خلک چې دا بریدونه یې وکړل، پیدا کړو، هغه به د خپلو پټنځایونو څخه بهر وباسو، موږ به هغوی له تېښتې راوګرځوو، هغوی به د عدالت میز ته راکش کړو. د امریکا خلک یوازې د غچ غوښتنه نه کوي، بلکې د هغوی د وحشي کړنو پر وړاندې جګړه کول غواړي."
اوس امریکایان باوري وو،کوم بریدونه چې پکې له دري زره ډېر کسان و وژل شول، د القاعده او اسامه بن لادن کار و. هغوی په افغانستان کې پټنځایونه درلودل، چې اوس ورته د امریکا ټوله پاملرنه اوښتې وه.
د بن لادن د نیولو لپاره لټون په شمال کې پیل شو. په شمال کې ډېره کمه ساحه د طالبانو تر کنټرول لاندې نه وه، دا سیمه یوازېنی ځای و چې امریکایانو کولای شول افغانستان ته ننوځي.که څه هم شمالي ټلوالې په وار وار له امریکایانو د نظامي همکارۍ غوښتنه کړې وه، خو امریکایانو ورسره دلچسپي نه وه ښوولې. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته هر څه بدل شول.
د سپټمبر له ۱۱مې دوې ورځې وړاندې د شمال ټلوالې مشر احمد شاه مسعود و وژل شو. دوو عربانو چې یو یې د بروسیلز او بل یې د بلجیم و، د ژورنالستانو په



نامه هغه ته ورغلل، په کمره کې یې بم پټ کړی و. ویل کېږي چې د دې برید تر شا هم د القاعده لاس و. دې ډلې دا درک کړې وه چې پر امریکا له بریدونو وروسته به امریکا اړ شي چې پر افغانستان برید وکړي، او د شمال ټلوالې همکاري به و غواړي چې احمدشاه مسعود به پکې مهم رول ولري. د احمد شاه مسعود په وژلو سره بن لادن غوښتل یوه تشه رامنځ ته کړي او له دې سره د شمالي ټلوالې مورال ضعیف کړي.
د سپټمبر په ۱۷مه د امریکا ولسمشر بوش د یو بیلیون ډالرو یو سند لاسلیک کړ چې له مخې یې دا پیسې د القاعده پر وړاندې د دې پټې جګړې لپاره ځانګړې شوې وې. بوش وغوښتل چې تر ډېره به دا چارې د پردې ترشا ترسره کېږي. د ژورنالستانو لپاره له وړاندې دا ستونزمنه وه چې افغانستان ته د ننوتلو لپاره ویزې واخلي. په همدې وخت کې کرزي سید اروزګان ته ولېږه، او ها خوا د سي ای اې لومړۍ ډله شمالي سیمو ته له چورلکو ښکته شوې وه. دې ډلې له ځان سره په میلیونونو ډالر راوړي وو، هغوی غوښتل چې د شمال ټلوالې پر مټ بن لادن او طالبان ونیسي.  د امریکا پټو اجنټانو پېچلي عملیات پیل کړل. هغوی ته د خپل مشر له خوا ویل شوي و:"زه د بن لادن د پرې شوي سر انځورونه غواړم او وروسته د هغه سر دلته راوړل غواړم تر څو یې ولسمشر ته وښیم."
په پاکستان کې د امریکا متحده ایالاتو سفارت زیاتې پیسې په هغو افغانانو وېشلې چې کولای یې شول له امریکایانو سره د هغوی په پروګرام کې مرسته وکړي. خو ټولو ورته زړه نه ښه کاوه. ډېرو قومي مشرانو او جنګسالارانو د روسانو پر وړاندې سخته جګړه کړې وه، پیسې او امکانات ورته امریکا ورکول، خو کله چې د دواړو ګډ دوښمن (روسیه) له افغانستان څخه ووتله، بیا امریکا افغانانو ته شا کړه. ډېرو کسانو پیسې واخیستې، خو فعالیت یې فرصت ته په کتو کاوه. هغه سټلایټ تلیفونونه چې امریکا وېشلي و، د پاکستان په تورو بازارونو کې وپلورل شول. دا هم جوته شوه چې د مخالفینو څخه یوه مشر د امریکا په پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ښکلی موټر اخیستی او په یو میلیون ډالرو یې د کور ښکلې ودانۍ جوړه کړې وه.

په جنګیالیو مشرانو کې هم توپیرونه و، د مجاهدینو پخوانی قومندان، عبدالحق چې د افغانستان په ختیځ کې یې له طالبانو سره جګړه کوله، هغه د طالبانو سخت مخالف و. هغه له روسانو سره د جګړې پر مهال خپله پښه له لاسه ورکړې وه. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هغه یوه ورځ کور ته ولاړ، چې ګوري میرمن او ماشوم یې وژل شوي وو. هغه ادعا کوله چې ګني زر سرتېري یې لرل. عبدالحق نه غوښتل شمال ټلواله د امریکا پر مټ په افغانستان کې ټول واک ترلاسه کړي. بس د دې کار مخه یې ډب کوله. هغه غوښتل هېواد ته د بهرنیو له ملاتړ پرته ننوځي، او طالبان له خاورې وشړي.

په دې برخه کې حامد کرزی او د هغه پالیسي بیخي بل ډول وه. هغه له ژورنالیستانو سره اړیکې لرلې، او هغوی هم کرزی د یو ډیپلومات او ژباړن په توګه پېژانده، چې ګني د روسانو سره د جهاد پر مهال یې د جهاد او مقاومت په برخه کې د ژباړن رول هم لاره. هغه داسي نه ښکارېده چې کوم وسلوال مقاومت دې پر مخ یوړلای شي.

کله چې د افغانستان په شمال او اسلام اباد کې د پیسو وېش پیل شو، کرزي د نورو افغان مشرانو په څېر په کویټه کې له سي ای اې سره پټې کتنې کولې. هغه یو مخفي جاسوس ته ځان رسولی و، چې د ګریګ په نوم یادېده. ګریګ او کرزي د سپټمبر له ١١مې وړاندې له یو بل سره پېژندل او په کویټه ښار کې یې پخوا هم سره کتلي و. خو دا ځل حالات نور هم هیلمه من کوونکي و. پخوا به امریکا او ګریګ کرزی مایوسه کاوه، خو دا ځل امریکا همکارۍ ته چمتو وه. د کویټې ښار په سرینا هوټل کې سور سري امریکایي له ډېرو افغانانو سره کتل، تر څو یې اروزګان ته ولېږي. وروسته بیا ګریګ په کابل کې د سي ای اې د دفتر مشر وګمار شو. هغه به هماغه مهال په کویټه کې پیسې او سټلایټ تلیفونونه ورکول، که څه هم دا څرګنده نه ده چې سي ای اې له کرزي سره د هغه د



پلانونو په اړه همغږي درلوده که نه. د ګریګ یوه همکار چې د افغانستان په شمال کې د سي ای اې له ټیم سره همکار شو، وویل چې ګریګ کرزي ته ویلي و: ته باید تر هغه په تمه واوسې، چې د امریکا له کمانډو ځخه ورته یوه همکاره ډلګۍ چمتو کړای شي. خو کرزي یې مشوره نه وه منلې، او هغه په دې اړه ورته داسې ویلي و:" ما له امریکایانو د سپټمبر له ١١مې وړاندې د همکارۍ غوښتنه کړې وه. زه له هغوی څخه یو ځل بیا دا غوښتنه کوم. خو دا مهال مې سي ای اې ته معلومات ور نه کړل او د هغوی له مشورې پرته په خپل کار پسې شوم، ځکه سي ای اې ته معلومات ورکول راته خطرناک ښکارېدل، ښایي دا معلومات ای ایس ای ته ورکول شوي وای."

په کویټه ښار کې به هره ورځ دکرزي د مېلمنو په خونه کې ډېر افغانان ناست وو، د هغوی ګڼه ګونه به پاکستاني رسنیو خپروه، خو د نړیوالو رسنیو ډېر تمرکز پر کرزي او د هغه پر فعالیتونو را غونډ و. یوه لیکنه چې د امریکایي ژورنالیست (مولي موري) له لوري په واشنګټن پوسټ کې خپره شوه، پکې کرزي ته د راتلونکي افغان ولسمشر خطاب شوی و. په دې لیکنه کې یې لیکلي و:"پاکستاني ورځپاڼو دې خبرې ته پام کړی و چې ګني کرزی د ولسمشرۍ لپاره کمپاین پر مخ وړي." کرزي دې لیکنې ته پام ونه کړ. د موري ملګري پاکستاني ژورنالیست احمد رشید ورته نظریه نه منله، هغه په اسلام اباد کې له امریکایانو، برتانویانو، او ملګرو ملتونو سره خبرې کولې، هغه ورته ویلي و:"دوی، کرزی جدي نه دی نیولی، دوی غواړي د دې ډول لیکنو پر مټ د طالبانو پام کرزي ته ور واړوي."

یوه فرانسوي ژورنالیست (ګیډو رامپولډي) له کرزي څخه د هغه د خوښې په اړه پوښتلي و:"کرزی له بریدونو وروسته خوښ و، هغه پوه شوی و چې تاریخ به بدلېږي، هغه د افغانستان لپاره خوښي ښودله. کله چې مې ترې پوښتنه وکړه چې ایا تاسې به راتلونکی رهبر واوسئ؟ هغه ځواب رانه کړ. هغه یوازې دومره وویل چې اوس هر څوک باید په دې برخه کې ونډه واخلي. هغه زیاته کړه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیا وه له ګلبدین حکمتیار سره ناسته هم ورته کومه خبره نده."
د رامپولډي په وینا امریکایانو فکر نه کاوه چې کرزی دې د ولسمشرۍ لپاره مناسب وي:"زما په فکر هغوی غوښتل لومړی کرزی ځان ورته په ثبوت ورسوي. لا هم ماته څرګنده نه وه چې هغه به د رهبر په توګه راڅرګند شي. د افغانستان له تاریخ څخه ښکاري چې دې سیمې ډېر مشران زیږولي، دا سیمه د پښتنو سیمه ده. کرزي د خپلې خاورې د راتلونکي لپاره ډېر زیار و ایست. هغه لېواله و، له امریکایانو سره یې ښې اړیکې لرلې، او دا د هغه وخت یوه اړتیا وه."
د اکتوبر په لومړیو کې کرزي یو بل پیغام وړونکی هم اروزګان ته ولېږه چې له قومي مشرانو سره وغږېږي. ډېرو خلکو (محمد شاه) ته د کرزي د خاص استازي په سترګه کتل، که څه هم هغه د کرزي له ساتونکو څخه یو و، خو هغه د کرزي د مېلمنو په خونه کې له خلکو سره د هغه په استازیتوب خبرې کولای شوې. هماغه وخت داسې ښکارېدل چې هغه یو سکرتر و، د کرزي په نه شتون کې به یې هم اړین موضوعات حلول. کرزي هم د افغانستان  سویل ته له هغه سره ډېرې لارې و سنجولې. خو د محمد شاه لپاره د کرزي پلانونه نوي نه وو.
کرزی او محمد شاه له یو بل سره په نظر کې پوهېدل. محمد شاه له خاموش او لوستي کرزي سره په دې برخه کې څه نه ویل. هغه یو ځانګړی انسان و، په ډېره کندهارۍ لهجه یې خبرې کولې، بورې سترګې یې وې، په لاسونو یې خالونه هم لګولي وو. د هغه د یوې بتې ګوتې یوه برخه هم پرې شوې وه. نوموړي په دلاورۍ او زړورتیا کې نوم لاره. هغه له کرزي سره خپلوي درلوده یانې د کرزي له کورنۍ څخه یې ښځه کړې وه. ډېر کلونه داسې و چې د کرزي او محمد شاه ترمنځ اړیکې نږدې نه وې. کله چې طالبان را څرګند شول، محمد شاه د کرزي له سیال امیر لالي سره یو ځای شو. کله چې امیر لالی له طالبانو ایران ته په تېښته بریالی شو، محمد شاه د کرزي ځنګ ټینګ کړ. کرزي په لومړیو کې پر هغه باور نه لاره، ډېر وخت محمد شاه د کرزي مېلمستون ته ورتللی هم نه شو، هغه به له کرزي سره یوځای و، د کرزي امنیت به یې خوندي کاوه. د کرزي پرې



باور پوخ شو. هغه به د کرزي موټر چلاوه، کله به یې په کویټه ښار کې په ښکلي سرینا هوټل کې چای هم یو ځای څښنه.
محمد شاه د کرزي په پلانونو ښه خبر و. هغه درک کړې وه چې د سپټمبر په ۱۱مه څه پېښ شوي و. هغه به د کرزي په مېلمستون کې تلویزیون کاته، ځکه پوه شو چې امریکایان به ژر د افغانستان په چارو کې مداخله وکړي. خو د نورو اروزګانیانو په څېر محمد شاه هم د کرزي لپاره له کویټې څخه وتل مناسب نه ګڼل. هغه د کرزي لپاره دا ښه نه بلل چې د وسلوال مقاومت منځ ته دي ولاړ شي، ځکه کرزي د ټوپک کارول هم نه و زده. هغه کرزي ته وویل چې پر ځای به دې زه ولاړ شم، خو کرزي ورسره ونه منله، او خپله تګ ته تیار و.
محمد شاه ته هم د کرزي له لوري سټلایټ تلیفون او نور څېزونه ورکړل شول. کرزي ورته وویل:"زه به یې درته وښیم چې دا څرنګه کار کوي." راتلونکې ورځ یې محمد شاه ته هم ډېرې پاکستانۍ کلدارې ورکړې چې جنګیالي پرې خوشحاله کړي. په همدې ورځ کرزی له محمد شاه سره د ټکسي موټرو تم ځای ته ولاړ، له هغه ځایه یې غوښتل د کندهار له لارې غرني اروزګان ته ځانونه ورسوي. هغه په دې پوه و چې څېرته روان و. غوښتل یې تر خپل ملګري عبدالغني چې څو ورځې وړاندې اروزګان ته رسېدلی و، ځان ورسوي. د امنیتي د لایلو پر اساس هغوی له ځان سره سټلایټونه وانه خیستل او دا دنده یې سید ته وسپارله چې سټلایټونه ور پسې ور وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## د طالبانو له سیمې پر موټرسایکل تېرېدل

د عبدالغني په کلا کې کسان ناست وو. ماشومانو لوبې کولې. د خلکو ترمخ د چای چټلې پیالې ایښې وې. هره ورځ به دلته خلک سره غونډېدل چې له نویو خبرو خبر شي، او یا هم په خپلو کې د کومې ستونزې لپاره حل لاره و مومي. دا ځل خبره بل ډول وه، دا ځل ورځ نه، بلکې شپه وه، عبدالغني د کلا ور بسته کړی و، چې یې غړونه څوک وانه وري. پردیو ته اجازه نه وه، چې کلا ته ننوزي. د کوټې ور هم بسته و. نبایي خلکو به خبرې کولې چې ولې یې د کلا ور بسته کړی دی.

محمد شاه د عبدالغني په کور کې په یوه نیمه روښانه خونه کې استوګن و. هغه له کویټې تازه راغلی و، او له خپل پخواني ملګري یې ملاتړ غوښت. ژر څرګنده شوه چې د هغوی پر وړاندې ستونزې وې. عبدالغني چې خبر شو محمد شاه یې دروازې ته راغلی و، زړه یې و چې هغه بېرته له دروازې رخصت کړي، خو مشر ورور یې هغه پرې نه ښود، چې دا کار وکړي. غني یې هم خبره ومنله او محمد شاه یې کورته بوتله، او د چای پیاله یې ورته ډکه کړه. اوس د کرزي خاص کس چې ورته یې د ښې لاس حیثیت لاره کلي ته رارسېدلی و، دا څرګنده وه چې کرزی په خپلو چارو کې جدي و. غني لا په خپلو پلانونو کې شک لاره، خو په دې پوهېده چې له پېښې تېښته نشته. محمدشاه چې له کویټې څخه یې له ځان سره خبرې راوړې وې، غوښتل یې پر راتلونکو پلانونو ورسره وغږېږي. غني نه غوښتل له پلانونو یوه ته هم غوږ شي. خو محمد شاه ورته په ډ ډه کندهاري لهجه په وار وار وویل:"کرزی غواړي په وسلوال مقاومت لاس پورې کړي، او تاسې باید د هغه ملاتړ وکړئ."



محمد شاه په کلا کې ټولو خلکو ته پالیسي تشریح کړه. هغه ورته پیسې ونیولې او ویې ویل:"تاسې په خپله دا کار مه کوئ، بلکې همدا پیسې د ځوانانو د استخدام په موخه درکول کېږي. تاسې کسان باید صحرایي سیمو ته ولېږئ چې نور دوستان، ملګري او کسان خبر کړي چې له کرزي سره نوي پلانونه دي."

محمد شاه وویل له وړاندې کرزي ویلي و چې پیغام یې باید په ټول ولایت کې کلیو او بانډو ته ولېږل شي او خلک باید ترې خبر شي، خو له بده مرغه چې هغه پیغامونه لا نه دي لېږل شوي. هغه لا خپل تلیفون نه و چالان کړی، تلیفون یې په پوښ کې په بله وړه خونه کې پروت و. دلته په کوټوال کلي کې خلکو په پخواني ډیپلومات ډېر باور نه لاره چې وسلوال مقاومت دې وکړي. په کویټې کې ډېر خلک د سپټمبر د ١١مې په پایلو پوهېدلي وو، خو په اروزګان کې لا خلکو د دې پېښو پایلې نه وې درک کړې. هغوی سخت وختونه تېر کړي و خو د افغانستان لپاره د امریکا کوم پلان ورته جوت نه شو. هغه د خلکو په منځ کې پیسې ووېشلې او هغوی په خپلو کې لوټونه سره تقسیم کړل. د دې لپاره چې د خلکو سم تعهد واخلي، محمد شاه خان ورته قرآنکریم مخې ته کړ، دا سپېڅلی کتاب د موافقو لپاره معنوي تضمین کولای شي. قرآنکریم یې د کوټې په منځ کې کېښود او محمد شاه پر خلکو غږ کړ چې لاسونه پرې کښېږدي. هېچا هم له دې تعهد څخه انکار ونه کړ. د ټولو مخې ته د چای پیالې ایښې وې، او خلک نېغ ناست وو. هغوی ټولو پدې سپېڅلي کتاب لاسونه کېښودل، او د کرزي سره یې د وفادارۍ او د هغه د راتلونکو پلانونو سره د ملاتړ ټینګ تعهد وکړ.

څو ورځې وروسته خلکو د عبدالغني په کلا کې پر قرآنکریم لاسونه کېښودل. له اسمانه د امریکایي عملیاتو څرک څرګند وشو. د ٢٠٠١ز کال د اکتوبر په اوومه نېټه ٨:١٠ عملیات پیل شول. ځینې داسي اندېښنې موجودې وې چې کله به برید وشي. په شمال کې د سي ای اې مېشت ټیم له واشنګټن څخه تمه لرله چې ژر عمل وکړي. د طالبانو او القاعدې مشران پاکستان ته یو په بل پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنبتېدل. په دې وخت کې لږ څنډ رامنځ ته شو، همدا مهال پاکستان هڅه وکړه چې ملا محمد عمر وهڅوي بن لادن امریکا ته په لاس ورکړي. په عین وخت کې د سي ای اې له لارې ملا محمد عمر له واشنګټن سره خبرې پیل کړې او په محرمه توګه یې هغوی ته وویل چې اسامه بن لادن به دریېیم هېواد ته تسلیم کړي، خو واشنګټن ورسره په دې موضوع کې نور ملاحظات ونه منل. دوه ورځې پاکستان او طالب مشران په خبرو کې وو. امریکایانو په دې اړه امید لاره. د مشرف د لوړو کسانو له لوري ملا محمد عمر راضي نه کړای شو، هغوی ورسره مخالفت وښود، او هغه ته یې وویل چې باید د امریکا یرغل ته تیار اوسي. په ای ایس ای کې هم دننه پر همدې موضوع اختلافات وو. ځینو له امریکایانو سره همکاري کوله، ځینو نورو یې لوی موټرونه له وسلو او تجهیزاتو ډک کندهار ته لېږدول چې طالبان پرې تقویه کړي.

په پایله کې د اکتوبر په ٧مه نېټه پر ٣١ ځایونو هوایي بریدونه وشول. امریکایي پوځ غوښتل لومړی د طالبانو او القاعدې ستراتېژیک موقیعتونه په نښه کړي. دا ستراتېژیک موقیعتونه تر ډېره په کابل او کندهار کې وو. عملیاتو له دوو ځایونو سرچینه اخیسته یو د امریکا یو ایالت میسوري او بله د هند سمندر له برتانوي جزیرې څخه. سمندري ځواکونو افغانستان په مزایل راکټونو په نښه کاوه. انګریزانو کندهار په نښه کړی و، هغوی د طالبانو اړین ځایونه لکه هوایي ډګر او د القاعده روزنیز مرکزونه په نښه کړي وو.

په راتلونکو څو ورځو کې کرزي پرېکړه وکړه چې اروزګان ته ولاړ شي. خلک یې په کویټه کې پاتې شول، هغوی نه پوهېدل چې په ټوله کې څه روان و. کرزي یوه خبریال ته وویل چې ګني هغه کراچۍ ته روان و. ځینو ته یې ویلي و چې روم ته ځي. خو ژورنالیستانو د سویل لور ته غوږ اینبی و. طالبانو په همدې وخت کې ویزې هم نه ورکولې. په شمال د شمالي ټلوالې تر څنګ ژورنالستانو کار کولای شو، خو په سویل او ختیځ کې ورته کار کول ستونزمن و. د امریکا ولسمشر بوش ویلي و چې د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه به د څه وخت لپاره پټه



روانه وي.

د کرزي د تګ لپاره چمتوالی نیول شوی و، څو اوونۍ وړاندې کرزي د محمد شاه یوه ملګري ته چې حاجي منډ نومېده ویلي و چې ړیره لویه کړي. په دې خبره حاجي منډ حیران شوی و. په کویټې ښار کې هم طالبان ډېر و، خو هغوی په کویټه کې د افغانستان په څېر واک او زور نه لاره. یو موټ ږیرې ته اړتیا وه. کرزی چې تل به یې عصري ژوند کاوه اوس ږیره لویه کړې وه. هغه له تېرو دوو کلونو راهیسي وړه ږیره پرې اینبې وه.

په ماښام کې حاجي منډ له خپلو ملګرو سره خبرې کړې وې، هغوی ته یې ویلي و چې تېر ماسپښین څه پېښ شوي و. هغه ورته وویل چې لوی بدلونونه را روان دي. د کرزي له لوري پیغام وړونکي له وړاندې د افغانستان سویلي سیمو ته لېږل شوي وو چې وفادار ملګري خبر کړي. د هر ولایت لپاره ځانګړې وړه ډله ترتیب شوې وه. حاجي منډ نه و خبر چې کرزی غواړي خپله افغانستان ته ننوځي، هغه مهال یې لا هم زړه ته نه لوېده چې کرزي ورته لارښوونه کوله، او له هغه یې وغوښتل چې له ځان سره افغانستان ته درې سټلایټ تیلیفونونه یوسي.

د سپټمبر په پای کې حاجي منډ د طالبانو یوه ملاتړي ملا ته چې ملا نقیب الله نومېده یو تلیفون ورکړ. هغه د کندهار په شمالي سیمو کې د خورا ډېر نفوذ خاوند و، له طالبانو سره یې هم ښې اړیکې لرلې. حاجي منډ له ملا نقیب الله سره ښه پېژندل، ځکه هغه په وار وار له کرزي سر د هغه په مېلمستون کې مجلسونه کړي وو. داسې ویل کېدل چې هغه کرزي ته د طالبانو او د هغوی پلانونو په اړه مخفي معلومات ورکړي و. ملا نقیب الله یو فرصت غوښتونکی سړی و. هغه له افغان کمونستانو سره هم لویه لانجه کې نه و ښکېل، وروسته یې له شورویانو سره جګړه وکړه، د شمالي ټلوالې د واکمنۍ پر مهال هم ورته څوکۍ رسېدلې وه. د طالبانو له راتګ سره یې د هغوی ملګرتیا پیل کړه او په دې وروستیو کلونو کې کرزي پرې کار کړی و، او هغه یې د ځان کړی و، کرزي ورته د اروپا یوه ویزه هم چمتو کړې وه چې د افغانستان په اړه یو کنفرانس کې ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته د کرزي له هغه سره تعلقات ښه شوي و، نو ځکه يې هغه تليفون واخيست. ملا نقيب الله کرزي ته د طالبانو په تسليمۍ کې مهم رول ولوباوه. د ملا نقيب الله زوی وايي کله يې چې پلار د کرزي له لوري ورته لېږل شوی تليفون تر لاسه کړ، سمدستي کرزي ورسره خبرې پرې وکړې:"هغه زما پلار ته وويل: طالبانو ته ووايه چې جګړه ونه کړي، هغوی نور ختم دي او جګړه يې په ګټه نه تماميږي."

د اکټوبر تر لومړيو لا کرزي حاجي منډ ته سم حال نه و ويلی، هغه ته يې ويلي و چې ګنې هغه کراچۍ ته ځي. حاجي منډ فکر کاوه چې دا يو ښه نظر او خبر دی. کويټې ښار کې هم ښه امنيت نه و. څو ورځې وړاندې کرزي ترې غوښتي و چې نور سټلايټ ټليفونونه او مخابرې واخلي، خو مارکيټ کې هر څه نه موندل کېدل، ښايي دا هم د طالبانو کوم کار و چې د پاکستاني څارګرو له لوري به ورته معلومات ورکول شوي و. يوه ورځ حاجي منډ بل بازار ته تللی و، هغه د حالت په درک کولو سره پوه شو چې امنيت خرابېدونکی و. په دې خبره کرزی هم پوهېده، خو هغه له وخته د سفر چمتوالی نيولی و.

کله چې د اکټوبر په ۷مه عمليات پيل شول، د کرزي د مېلمنو خونه نوره هم له مېلمنو ډکه شوه. په نيمه شپه کې چې کوم کسان په مېلمستون کې بيدار وو هغوی واورېدل چې کرزي د اروزګان د سفر خبرې کولې. په ناستو خلکو کې يو د کرزي ورور احمدولي کرزی و. هغه ته د سي ای اې د مشر ګريګ له لوري پيل شوي عمليات دومره حيرانونکي نه وو، لکه اروزګان ته د کرزي د سفر خبره چې يې واورېده.

احمدولي داسې فکر کاوه چې په اروزګان کې به کرزي ته يو څه ور پېښ شي. هغه ته دا ډول پوښتنې پيدا وې، ايا د اروزګان خلک به ورته د خپلو کلاګانو دروازې پرانيزي؟ ايا خلک به يې خپلو کورونو ته پرېږدي؟ هغه په دې هم پوهېده چې دا د پښتنو دود دی چې د مېلمه ډېره پالنه کوي، او په ځانګړې توګه هغه مهال چې کله مېلمه په کومه ستونزه کې وي. دا هم ورته څرګنده وه



چې کرزی به له ګوابنونو سره مخ شي. هغو خلکو چې له ده سره يې کتل په دې پوهېدل هم غوښتل چې هغه څومره ځواکمن دی؟ هغه د څومره خلکو پر مټ خپل پروګرامونه پرمخ وړي؟ که چېرې خلک پر هغه د کمزوري ګمان وکړي، نو بيا يې خپلو کورونو ته هم نه پرېږدي. که چېرې ورسره لږ تر لږه يوه ډله امريکايي سرتېري وي، او يا هم هوايي ځواک ورسره وي، نو بيا شونې ده چې د اروزګان خلک يې کورونو ته پرېږدي. احمدولي په دې باور و چې ورور يې په لوی لاس ځان په خطر کې اچاوه، خو حامد کرزي يې يوې خبرې ته هم غوږ نه اېښود.

کرزي ته خپلې ميرمنې ويلي و چې د ځان خيال بايد وساتي، او خطرناک شيان له ځان سره وانه خلي. وروسته کرزي په يوه مرکه کې وويل چې هغه په څلوېښت کلنۍ کې له يوې ميرمنې سره د کورنۍ په خوښه واده کړی. هغه د خپل سفر په اړه خپلې ميرمنې ته لا هم نه و ويلي، ځکه په دې ډول حساسو وختونو کې يې پر چا باور نه شو کولای. هغه خپلې ميرمنې ته ويلي و چې په وېش کې يوې جنازې ته ځي، او هلته په جنازه کې ګډون کوي. ميرمن يې هغه وخت حيرانه شوه چې کله کرزي ورنه د غاښو د کريم او برس او پاکو جامو غوښتنه وکړه. ميرمنې يې ورته وويل:"دا چې جنازې ته ځې نو دومره څېزونو ته څه اړتيا ده؟" کرزي خپلې ميرمنې ته ويلي چې نور ورسره د تشريحاتو وخت نه و. کله چې يې شيان ورته چمتو کړل، کرزي خپلې ميرمنې ته وويل:"که په څو اوونيو کې دې زما په اړه معلومات وانه خيستل، پوه شه چې زه نور ژوندی نه يم." دروازه يې بنده کړه او له کوره ووت.

د کرزي جيپ موټر چې له کويټې ښاره د وتلو په حال کې و، پکې د هغه اعتمادي ملګري له ده سره سپاره وو. کرزی د موټر په شا کې سپور و، د هغه دواړو اړخونو ته يو يو ساتونکی و، دا ساتونکي د محمد شاه ملګري وو. دې کسانو ته لا نه ويل شوي چې موټر په کوم لور روان و، او اصلي منزل و مقصد کوم ځای و. کرزي ورته ويلي و چې چمن ته يوې جنازې ته ځي. کله چې موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانېده، د احمدولي په سترګو کې اوښکې ولاړې وې. هغه فکر کاوه چې خپل ورور د وروستي ځل لپارهویني. ګاونډیانو له احمدولي څخه وپوښتل:"هغه چېرته روان دی؟" که څه هم سترګې یې له اوښکو ډکې وې، د خلکو په لیدو یې ځان ډاډه ښکاره کړ او هغوی ته یې وویل کرزی اسلام اباد ته ولاړ.

موټر په چمن کې د افغان پولې لور ته روان شو، اوس څرګنده شوه چې هغوی جنازې ته نه و روان. کرزي فکر کاوه چې هغوی به په لار کې شپه له یوه دوست سره چې هغه هم په خټه پوپلزی و تېره کړي. هغه نه غوښتل په نېغه لاره ولاړشي. افغانان یو عادت لري، په هغه اوږده لار چې ملګري یې پرې پراته وي، تر لنډې لارې یې ځکه خوښوي چې ورته محفوظه ښکاري. کرزي یو بل پاکستاني قومي مشر هم پېژانده چې په یوه بله لار یې کور و، هغه لار مناسبه نه ښکارېده، دې قومي مشر کرزي ته وویل چې دوه ورځې باید تم شي، چې حالات درک کړي او بیا افغانستان ته ولاړ شي. دا ناشونې وه، ځکه کرزی نور په پاکستان کې پاتې کېدلی نه شو. کرزی له ډېره وخته د دې فرصت په لټه و، هغه په عمومي لار افغانستان ته واوښت. د کرزي په وینا چې سفر لا ځنډېدلی و، ځکه هغه له پاکستاني ادارو سره هم خبرې کړې وې. هغوی غوښتل له کرزي سره په اسلام اباد کې د افغانستان پر راتلونکي وغږېږي. کرزي په پاکستان باور نه لاره، ځکه هغه د طالبانو ملګری و. کرزی وایي:"ما ورته وویل زه وخت ته اړتیا لرم چې په همدې موضوع فکر وکړم، په پای کې مې د هغوی غوښتنه ونه منله."

په کویټه کې د پاکستان د پوځي استخباراتو یو جګپوړی مشر وایي چې کرزی یې دفتر ته ورغلی و، او له هغه یې د یوې غوره لارې پوښتنه کړې وه. دا لوړ پوړی چارواکی وایي چې هغه د اڅګزیو د قوم یوه قومي مشر ته ویلي و چې له کرزي سره مرسته وکړي.

راتلونکې ورځ د چمن په ګڼ بازار کې د کرزي راتلونکی پلان له پولې پر موټر سایکل اوښتل و. هغه حاجي منډ ته وویل چې دوه موټر سایکلونه واخلي او پر مټ یې له پولې واوړي. خو د هغوی کوربه ورسره خبره ونه منله او هغه نه



غوښتل هغوی له پولې پر موټر سایکلونو واوړي. په همدې وخت کې مهاجرین هم له افغانستان څخه چمن ته را روان وو. د کوربه لپاره داسې څرګنده شوه چې په افغانستان کې حالات خراب دي. هر چېرې بمباري او د میزایل راکټونو بریدونه کېدل، نو ځکه یې خوښه نه وه چې کرزی افغانستان ته واوړي. کوربه د کرزي ملګري حاجي منډ ته ویلي و چې په چمن کې موټر سایکلونه نه موندل کېږي، باید له کویټې ښار څخه یې راولي، هغه هم د کویټې پر لور روان شو، کله چې کرزی په دې کار خبره شو، هغه په غوسه شو، او ویې ویل:" زه دلته نور نه شم پاتې کېدلای. خلک به ما ووینې. زه باید له پولې واوړم."

کرزي له خپل وراره احمد څخه پوښتنه وکړه چې ګني په چمن کې موټر سایکلونه موندل کېږي؟ هغه وخندل او ورته ویې ویل چې ته خو موټر سایکلونه یادوې، دلته کباړي الوتکې هم موندل کېږي. کله چې یې موټر سایلکونه راوستل، کرزي ترې پوښتنه وکړه چې لار به څنګه وي، هغه مخکې ولاړ او لار یې ورته وکتله.

هماغه ماسپښین له معلوماتو وروسته د کرزي وړه ډله پر دوو موټر سایکلونو له پولې واوښتله. حاجي منډ لا کویټې ته پر لاره و. د کوربه زوی د کرزي د ډلې له لومړي موټرسایکل سره له پولې واوښت، وروسته کرزی او د هغه وراوره پسې ولاړل. دې ډلې ډالر او کلدارې په وړو بستو و وېشلې، دوه سټلایټ تلیفونونه یې د کڅوړې پای ته واچول. له هغوی سره نور څه نه وو. د احمد په غوښتنه کرزي یوه لنګۍ پر سر تاو کړه. هغه له وړاندې لنګۍ نه تړله. اوس هغوی د نورو افغانانو په څېر ښکارېدل چې پر موټر سایکل به یې سفرونه کول او په افغانستان کې د موټر سایکل سفر عامه خبره ده. دا لا څرګنده نه وه چې کرزی به په خیر تر اروزګانه ورسي که نه؟

له پاکستان څخه د افغانستان خاورې ته پر پوله اوښتل کوم ستونزمن کار نه دی. د ډیورنډ کرښه چې په نولسمه پېړۍ کې د انګریزانو له لوري راکاږل شوې، د پولې د یوې خوا پښتانه یې هم په رسمیت نه پېژني. د کرزي ډله د لمانځه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال له پولې واوښته، هغه مهال چې د پولې مامورین په مسجدونو کې په لمونځونو بوخت وو. هغوی له پاسپورتونو پرته تېر شول.

کرزی له خپل وراره سره د کندرهار پر لور له ګنې ګوښې ډک سړک روان شو، که طالبان یې ونیسي، وینه به یې هم ځمکې ته پربنږدي. دلته یوه خبره د یادولو ده چې د پاکستان استخباراتو وایي کرزي له ځان سره پاسپورټ لاره. د کرزي یو ملاتړ په لار کې و، هغه له پلان څخه خبر و، هغه له دوی سره مرسته کوله، دهغه د ناز نوم (ګران فدا) و. کندهار ته څېرمه د کرزي ډله په لار کې و درېدله، له دې کبله نه چې هغوی طالبانو ایسار کړل، بلکې احمد موټر سایکل په یوه تېره ډبره ور ویست او له دې سره موټر سایکل پنچر شو. کرزي له خپل وراره وپوښتل چې اوس څه کوو؟ هغه ورته وویل چې اضافي شیان له مخکینې موټر سایکل سره شته. کرزي فکر کاوه چې ښایي هغوی و ځنډېږي. له نیکه مرغه د مخکنې موټر سایکل کسانو ور فکر شو، هغوی بېرته شا ته ورغلل. هغوی خپل موټرسایکل ورکړ او دوی دواړه روان شول. هغوی د طالبانو له پوستو تېر شول، د افغانستان د سویل په لور وران وو، دهغوی راتلونکی ځای شوراندام و، هلته هم د کرزي یو ملګر و، غوښتل یې له هغه سره تم شي.

کله چې په ولسمشرۍ ماڼۍ کې له ولسمشر کرزي سره کښېناستم، د هغه د واک اته کاله پوره شوي وو. له هغه مې د هغه د موټر سایکل د سفر په اړه پوښتنه وکړه. دا مهال د مازیګر پنځه بجې وې چې له ولسمشر کرزي سره د دویم ځل لپاره د مرکې په موخه مخ شوم. کله چې مې له ولسمشر سره لومړۍ مرکه کوله هغه راته د سهار چای راکړی. دا ځل موږ په یوه وړه خونه کې کښېناستو، وړې څوکۍ وې، زموږ ترمخ چاکلیټ هم وو، ولسمشر ته یوه پیاله چای او زما ترمخ قهوه اېښې وه. کله چې موږ د مرکې پر مهال هغه ځای ته ورسېدو چې په شوراندام کې د یوه واړه کور په اړه پوښتنې ته ولسمشر ځواب وایه، هغه د څوکۍ پر بازوګانو لاسونه تکیه کړل، د څو شېبو لپاره خاموش پاتې شو. کله چې یې په خبرو پیل وکړ د هغې کلا او د هغې باغچې په اړه یې راته



وویل چېرې چې یې شپه تېره کړې وه:"لومړي بمونه په کندهار ولوېدل، خلک له خپلو کورونو تښتېدل. زما دوست په همدې شپه په خپل کور کې یوازې و. هغه خاموش و، څه یې تر خوله نه وتل. په ماښام کې مې دوه ماشومان هم ولیدل چې د کلا د دوو وړو خونو پر دېوالونو یې منډې وهلې، د هغوی تر خولو هم څه نه وتل، ماشومانو راته چای راوړ او بیا وځغاستل. ما پوښتنه وکړه چې څه حال مو دی؟ کلیوال چېرته دي؟ ولې کلی خالي دی؟ کوربه راته وویل: موږ ویرېږو، امریکایان بمونه غورځوي، طالبان هم ډېر دي او هر ځای وي. موږ خو هسې مړه کېږو، د ماشومانو مو خیال ساتو."

ولسمشر کرزی یو ځل بیا خاموش پاتې شو، داسې ښکارېده لکه د وخت حالاتو چې سخت زورولی وي. داسې لکه په اوږو یې چې درونددار پروت وي، په همدې شېبه یې له سترګو اوښکې توی شوې. سترګې یې په ما کې ښخې کړې، هغه د څو شېبو لپاره نور هم خاموش و. تر خولې یې څه نه وتل، له جېبه یې وړوکی دستمال راویست او خپلې سترګې یې له اوښکو پاکې کړې. ولسمشر په خبرو پیل وکړ:"هغه ماشومان نه وېرېدل، له کوربه مې وپوښتل چې ولې ماشومان نه وېرېږي؟" ما له ولسمشره پوښتنه وکړه چې څه اغیزمن کړې؟ هغه په ځواب کې راته وویل:"هماغه شېبه مې سخت ځان راته ګرم ښکاره شو، د هغو ماشومانو له کبله، زه و وېرېدم چې ښایي هغوی زما د شتون له کبله و وژل شي. ځکه طالبان زما په وژلو پسې وو."

له شوراندام وروسته هغوی کندهار کې یو محفوظ ځای ته ولاړل. دا کور هم خوشې شوی و. د کور په وره لوی کولپ پروت و، د کورنۍ غړي له بمباریو تښتېدلي وو. د طالبانو اصلي مرکز له هغوی څخه له شل دقیقو په نږدې واټن کې پروت و. ملا محمد عمر خبرې کړې وې، د هغه د ادارې مهم مرکزونه په بمونو ویشتل شوي وو. هغه پر بي بي سي د امریکا بریدونه سخت وغندل او د امریکا ملاتړي یې د اسلام دوښمنان یاد کړل. امریکایان په دې خبر وو چې افغانانو د ملامحمد عمر خبرې اوریدلې، ځکه یې په وار وار ویل چې د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې نه، بلکې د ترهګرۍ پر وړاندې ده. د امریکایانو هغه اټکل چې ګڼي طالبان به له لومړیو هوایي بریدونو وروسته تسلیم شي ناسم و. ډېری طالبانو انتظار ایسته چې وګوري امریکایان په غوسه وو، که نه.

د کرزي کسان په بېړه کې وو. هغوی د کور دروازه ماتول غوښتل، دا یې د دوستانو کور و، هغوی وروسته غوښتل کیسه ورته وکړي. کرزي خپل کسان پرې نه ښودل چې دروازه ماته کړي، هغه ورته وویل:"موږ دلته د ماتولو لپاره نه یو راغلي." وروسته د کرزي ورارہ ولاړ پر دېواله کور ته ور واوښت او د کور ور یې له دننه خلاص کړ. کله چې کور ته ننوتل، کرزي په تلیفونونو پیل وکړ، لومړۍ خبرې یې په انګریزي ژبه وې، د هغه کسان نه پرې پوهېدل. ځکه هغوی نه پوهېدل چې له چاسره د څه په اړه خبرې کوي؟ دا موضوع ورته ګونګه پاتې شوه. دا څرګنده ده چې کرزي بهرنیانو ته د خپلو پلانونو او کړنو په اړه معلومات ورکول. کرزي یوازې له بهرنیانو سره خبرې نه کولې، بلکې له پخواني باچا اعلیحضرت محمدظاهر شاه سره یې چې په روم کې و هم خبرې کولې. نوموړی هغه مهال نه و توانېدلی چې له اعلیحضرت سره خبرې وکړي، نو ځکه یې د هغه د دفتر له رییس سره خبرې وکړې:"زه په افغانستان کې یم." اړیکه یې پرې کړه او تلیفون یې خاموش کړ، ځکه هغه غوښتل د تلیفون بترۍ یې ختمه نه شي. د دفتر رییس ته دا چې کرزی په افغانستان کې و حیرانونکې نه وه. هغه د کرزي په پلان خبر و چې افغانستان ته د ننوتو پلان یې لاره. د کرزي د اړیکې په اړه یې اعلیحضرت ته هم خبر ورکړ.

پر همدې مهال حاجي منډ له کویټې راورسېد او له خپلو ملګرو سره بېرته یو ځای شو. کرزي ژر تر ژر له هغه و غوښتل چې تر اروزګانه ولاړ شي، تر څو ۷۵ کلیومتره غزېدلې لاره وګوري چې پرې د طالبانو پوستې ډېرې دي او که کمې. د کرزي د امنیت ساتونکی محمد شاه هم له ځان سره د لارې سر ته راولي. د کرزي او ملګرو یې د ارزوګان پر لور سفر پیلېدونکی و. حاجي منډ په لار کې له وړو ستونزو سره مخ شوی و، هغه د ترینکوټ شمال کې کوتوال کلي کې د عبدالغني کور ته سلامت رسېدلی و. محمد شاه له تېرې یوې اوونۍ راهیسې هماغلته پروت و.



کله چې حاجي منډ ورته کیسه وکړه، محمد شاه سر وښوراوه. هغه وویل:"هغسې یې خپل پلان تطبیق کړ! افغانستان ته راغی." محمد شاه ژر خپل سټلایټ تلیفون چالان کړ، د تلیفون وړوکی انټن یې په کړکۍ کې کېښود، تر څو تلیفون کار وکړي. وروسته له کرزي سره په اړیکه کې شو:" زه دلته په ترینګوټ کې له هغو خلکو سره یم چې زموږ لپاره یې ډېر کار کړی، او په راتلونکي کې به هم زموږ ټینګ ملاتړي وي. خو ځیني قومي مشران له موږ سره مرسته کول نه غواړي." محمد شاه یو ځل بیا پر کرزي ټینګار وکړ چې اروزګان ته ور نه شي. کرزي یې خبرې نه منلې، ځکه نو محمد شاه له حاجي منډ سره په بېړه کندهار ته ولاړ او هلته یې یو ځل بیا کرزي ته وویل چې باید اروزګان ته ولاړ نه شي. هغه د کرزي ځانګړی ساتونکی و، ځان یې مسوول احساساوه چې باید خپل مشر په حالاتو پوه کړي. هغه باور لاره چې تر کرزي ډېر په حالاتو خبر و. کله چې کندهار ته ورسېد، هغه له کرزي سره په ټینګه خبرې وکړې:"تاسې دلته څه کوئ؟ تاسې ولې راته په دې اړه څه نه ویل؟ خلک په اروزګان کې همکارۍ ته چمتو دي، خو تاسې باید هلته ولاړ نه شئ. دا ډېره خطرناکه ده." کله چې پوه شو کرزي یې خبرو ته غوږ نه ایښوده، محمدشاه خپلې خبرې نرمې کړې او خپل سیاست یې بدل کړ:"که تاسې خدای مکړه و وژل شئ، ټول هېواد به خوار شي. که چېرې زه و وژل شم، یوازې به مې را باندې کورنۍ خواره شي. زه اروزګان ته ځم، که زه و وژل شوم، زما د ماشوم زوی خیال ساته."بیا هم د کرزي ساتونکی محمد شاه ونه توانېد چې هغه راضي کړي، هغه یې ولېږه چې له بازاره ورته کرایي موټر راولي.

د موټرو له تم ځای څخه یې ټکسي موټر راوست. مازیګر مهال یې د اروزګان پر لور سفر پیل کړ، سړک هم کند و کپر و، هغوی په شاه ولي کوټ ولسوالۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېریدل، هغه ولسوالي چې پکې د کرزي د قوم خلک او دوستان ډېر و، دا ځای د کرزي لپاره یو خوندي ځای ګڼل کېده. خو بیا هم ګوابښونه هر ځای ورته موجود وو. په لار یوې پوستې ته و درېدل، یو طالب په لویو جامو کې د سړک پرمنځ ولاړ و، کلاشنکوف په اوږه یې موټر چلونکي ته اشاره وکړه چې زوړ کرولا موټر تم کړي. له موټر ټول کښته شول، خو کرزی لا په موټر کې ناست و. طالب په زړه بوړنوونکي غږ وپوښتل:"چېرې ځئ؟ ډېر ناوخته دی." محمد شاه ځان ور مخته کړ، په پښه ژبه یې یو ډول ځواب ورکړ. د کرزي په لاس کې د تلیفونونو کڅوړه وه او د خپلو پښو په منځ کې یې نیولې وه. طالب خپل لاسي څراغ ورته ونیوه او ورته ویې ویل:"دا څه دي، کڅوره پرانیزه." کرزي د کڅوړې له پرانیستو ډ ډه وکړه، کسان یې واخطا شول، کرزي له وړاندې له سټلایټ تلیفونونو سره سفر نه کاوه، له احتیاطه یې کار اخیست. اوس ورسره دوه سټلایټ تلیفونونه وو، کسان یې هېښ وو.

طالب پر کرزي امر وکړ چې له موټر کښته شي او کڅوړه ور وړي، محمد شاه یې مخې ته ورولوېد، هغه ورته وویل:" دا وسلې نه دي. دا بمونه نه دي. دا پرېږده، د ښځو د سنګار څېزونه دي." په افغانستان کې پرته د میرمنو له خپلو خاوندانو، نارینوو ته اجازه نه وه چې د ښځو په څېزونو کې لاس ووهي. خو دا ځل خبره بل ډول وه، هېڅا ته اجازه نه وه چې د شپې په لویو لارو سفرونه وکړي، دوی د شپې په دې لار راغلي وو. په لومړیو کې طالب ساتونکي په خوږه ژبه خبرې کولې:"څو کیلومتره لرې لاره وهونکي موټرونه وهي. ترینکوټ ته نږدې دا هر څه ترسره کېږي. دا زما دنده ده چې تلاشي وکړم او تاسو تم کړم." طالب لا په قهر و، هغه محمد شاه ته وویل چې کڅوړه پرانیزي. طالب کڅوړې د خپل کلاشنکوف چونښکه ونیول ویې ویل:"کڅوړه خلاصه کړه."

کرزی په سوچونو کې و، هغه فکر کاوه چې هغه یې د ژوند وروستۍ شېبې وې.

طالب پر محمدشاه ټینګار کاوه، هغه وویل:"په تا اړه لري، تر څو کڅوړه خلاصه نه کړې، نه مو پرېږدم چې ولاړ شئ." محمد شاه ورسره ژبه چلوله، هغه ورته



وویل چې باید ورسره د طالبانو مشر ته ولاړ شي، هغه د غره لور ته لاس ونیوه، غره ته څېرمه بله پوسته هم وه، هلته د طالبانو قومندان و. کرزی ورسره ولاړ نشو، ځکه هغه فکر کاوه چې و به یې پېژني.

محمدشاه ورسره روان شو، ټولو هغه ته سترګې نیولې وې، هغه وېره نه ښووله. طالب ساتونکي خپل قومندان ته وویل:"دا سړی خپله کڅوړه نه پرانیزي."د طالبانو قومندان په ملنډو وخندل، ویې ویل:" ته له طالبانو سره لوبې کوې؟ ښه به دا وي چې ورسره لوبې ونه کړې. اه!" محمد شاه ورته په خواستونو شو، داسې لکه ټول ژوند چې یې په خطر کې و، هغه په زهیر غږ ورته وویل:" زه یو مشکل لرم، زه خپل کور ته ځم، کور مې په ترینکوټ کې دی. د کورنۍ یو غړی مې ژوبل او بل وژل شوی. موږ پاکستان ته تللي وو، تر څو د ناروغ درملنه وکړو، اوس نه پوهېږم چې ماشومانو ته به مې ګوله ډوډۍ چا ورکړې وي، که څنګه؟" محمد شاه همداسې خپلو زاریو ته دوام ورکړ. یو په بل پسې زارۍ یې کولې. محمد شاه ورته د کندهار د حالاتو په اړه خبرې وکړې، کله چې یې د بمباریو خبرې ورته وکړې، هغوی پرې باور وکړ. په پایله کې کرزي او د هغه ملګرو ته اجازه ورکړل شوه چې پر خپله لار ولاړ شي. د غره له سره د څراغ رڼا ښکارېده.

د شپې ناوخته کرزی او ملګري یې په خاموشۍ د یوه زړه سواندي او خواخوږي ملا امام کور ته ورسېدل. دا ملا امام یو له هغو کسانو و چې کویټې ته ور غوښتل شوی و. لا هم خطر احساسېده، هغوی د ترینکوټ مرکز ته نه نږدې کېدل، د شپې پر ۱۱ بجو ناوخته یې یو ځل بیا سفر پیل کړ، د (ګوګارک) کلي په لور روان شول. کله چې کلا ته په رسېدو وو، کرزی یې له کسانو څو شېبې لا درکه شو، چې ویې کتل، په لار کې د تیارې له کبله په یوه لښتي کې لویدلی و، کله چې یې کسان ورغلل، هغه ورته وویل:" هر څه سم دي." جامې یې لندې شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

## د (دورجې) نښته، - له طالبانو سره لومړۍ جګړه

ملا امام په مسجد کې و، چې سید ور غږ کړل. سید امام ته ور نږدې شو او په ټیټ غږ یې ورته وویل:"کرزی پر لاره دی او ستاسو کور ته راځي. ښایي ژر راورسیږي." ملا امام د دې خبرې په اورېدو هېښ شو. هغه په بېړه خپل لمونځ پای ته ورساوه او خپلې کلا ته یې ور ودانګل. کله چې ورغی، کرزی د وخته راغلی و او د هغه په تمه و. هغوی ورته ښه ډوډۍ برابره نه کړای شوه، هګۍ او لوبیا یې ورته برابر کړل. له ډوډۍ خوړلو وروسته کرزي ملا امام ته د اروزګان په اړه خپل پلان او اراده څرګنده کړه:"لویدیځ نور طالبان نه غواړي." دا هغه څه و چې له وړاندې هم د کرزي پلویانو له هغه په کویټه کې اوریدلي وو. کرزي د ملا امام له کلا څخه کار پیل کړ، حاضر کسان یې په وړو ډلو ووېشل او په راتلونکو کارونو یې خبرې وکړې. هغوی پدې خبرې وکړې، چې څوک به ورسره یو ځای کېږي او څوک نه. څوک به چا او کوم قومي مشر ته ورځي چې د کرزي پلان ورسره شریک کړي؟

د کرزي کوربه د دوښمن په خوله کې و. د ملا امام مسجد په عین وخت کې مدرسه هم وه، هغه پکې زده کوونکو ته د قرآنکریم زده کړې ورکولې. ملا امام



وروسته راته وویل:"ما طالبان پېژندل، او په دې هم پوهېدم چې له هغوی سره مقاومت به د کرزي لپاره ستونزمن وي." هغه وویل چې د طالبانو دفتر یې له کوره دومره لرې و چې لوړ غږ ور رسېده. هغه وخت نوموړي په تشویش کې و. کرزي نه و ورته ویلي چې هغه به یې په کلا کې د څومره وخت لپاره پاتې شي، او له دې سره د ملا اندېښنه زیاته شوه. دا چې کرزی یې په کلا کې اوسېده، نو باید د هغه مېلمانه هم همدې کلا ته د کرزي د کتو لپاره راغلي وای. دا ورته جوته نه وه چې هغه به د څومره وخت لپاره دلته وي؟ سبا به څه کار کوي؟ بل سبا به څه کوي؟ ملا امام به خپلې ورځنۍ چارې په مسجد کې د پخوا په څېر ترسره کولې. هغه داسې فکر کاوه چې ګني په هېڅ هم نه و خبر. هغه به ویل چې په دې هېڅ عقیده نه لري چې کرزی دې د ځمکې پر سر شتون ولري. کله چې به څوک د کرزي کتو ته راتله، هغوی ته به په دروازه کې څه نه ویل کېدل، بلکې سیده به یې د کرزي کتو ته د کلا دننه بیول.

په لومړیو څو ورځو کې دا څرګنده نه وه چې کرزی څه کوي؟ ملګرو به یې دا پلمه کوله چې ګني هغه استراحت کول غواړي. کرزي به منډه هم وهله، خو هغه له کلا بهر نه وتلو، په کلا کې به یې دننه منډه وهله. یو ځل بیا سید د ترینکوټ ختیځ لور ته ولېږل شو، چې معلم رحمت الله د کرزي ملګری او قومي مشر د کرزي له رارسېدو نه خبر کړي. رحمت الله هم دکرزي د نورو پلویانو په څېر له احتیاطه کار اخیست. هغه د یو قومي مشر په توګه کرزي ته وفادار پاتې شوی و. هر کله به کویټې ته د کرزي د کتو لپاره تللو. کله چې د کرزي نږدې ملاتړی جان محمد خان زنداني شو، د وخت په تېرېدو یې ځای معلم رحمت الله ونیو. دا کس په تنه لوی، لویه خېټه او لوړه خندا به یې کوله، د کرزي له راتګه چې خبر شو، هغه غبرګون ونښود. کله چې سید ورته وویل چې کرزی راغلی راشه، هغه دروازه په لوړ غږ بسته کړله، ورته ویې ویل چې موږ وسلې نه لرو، څنګه به یې ننګه وکړ؟ په پخوا کې رحمت الله معلم و، خو کله چې په ۱۹۷۹ز کال روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، هغه معلمي پرېښوده او د روسانو پر ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد یې پیل کړ، هغه د یوې ډلې پوځي قومندان مقرر شو. کله چې طالبان را پیدا شول، هغه د وخت له والي سره شخړه وکړه، نو ځکه په خپل کور کې تر نظارت لاندې و، حتا د ترینکوټ بازار ته یې د تګ زړه هم نشو کولای.
په پایله کې سید هغه قانع کړ، پر خپل سر یې پتو(څادر) کش کړ، مخ یې پټ کړ چې څوک یې ونه پېژني. رحمت الله یې پر موټر سایکل را واخیست، سید د موټر سایکل څراغ بند کړی و. هغوی نه غوښتل چې طالبان ترې څه وپوښتي. د کرزي پیغام رسونکي نوموړی پوپلزی مشر د ترینکوټ له ختیځ څخه د ولایت د مرکز شمال لور ته بوت، په لار کې هغوی د سیند څخه هم تېر شول، د سیند غاړه په شنو وښو ښکلې وه.
له دې سره د پوپلزیو د قوم د مشرانو شمېر ډېر او په کرارۍ دا هر څه ترسره شول. خو دې کفایت نه کاوه، کرزي د نورو قومونو د مشرانو ملاتړ هم په ارزګان کې اړین وباله. هغه لومړی د هزاره قوم په برخه کې بریالی شو، هزاره قوم د ارزوګان ولایت د نفوسو لس سلنه جوړوي. د هزاره قوم یو مشر خلیلي د طالبانو پر وړاندې ولاړ و او هغه له کرزي او جان محمد خان سره نږدې اړیکې لرلې. هغوی لا پخوا د طالبانو پر وړاندې د مقاومت په اړه پرېکړې ته رسېدلي وو. طالبانو هزاره قوم ته ډېر پام نه کاوه، نو ځکه هغوی یې پر وړاندې ځواکمن پلانونه نیولي وو. په پرېکړه کې د بیړنیو مرستو د روغتون یادونه هم شوې وه، چې باید پکې د جګړې له کربښې راتلونکي ژوبل کسان ورغول شي. خلیلي د ترینکوټ مرکز ته د خپل ورتګ په اړه خطر احساساوه، په خپل استازیتوب یې یو بل کس لېږلی و. کرزي ته یې دا پیغام لېږلی و:"زه غواړم د طالبانو پر وړاندې ستاسې ترڅنګ و دربېږم."
د هزاره قوم ملاتړ د بریا یو بل ګام و، خو بیا هم د پښتنو ملاتړ ځکه ډېر اړین و چې د دې ولایت ډېر نفوس له پښتنو څخه جوړ و. دا بیا بله تېروتنه وه چې پښتنو ته د یو متحد قوم په سترګه کتل شوي وای. کرزي په دې خبرو پوهېده، هغه په دې هم پوهېده چې څوک په کوم ځای کې او د چا استازیتوب کولای



شي.
په پښتنو کې لومړی د درانیو او غلجیو خبره شته وه، ځکه دا دواړې قبیلې د تاریخ په اوږدو کې د افغان ملت د بنسټ د مرکزي رول ابتکار د ځان بولي. کرزی په لومړۍ قبیله پورې تړلی دی. په ارزوګان او کندهار کې دراني زیات دي. دراني د لومړي امیر احمدشاه ابدالي اولاده بلل کېږي، احمدشاه ابدالي ته وروسته احمدشاه درانی وویل شول. هغه کسان چې کرزي ټول کړي وو درانیان وو. هغوی له اوولسمې پېړۍ څخه تر اوسه ډېر رهبران درلودل، په حکومتونو کې یې هم مهم رول لوبولی.
درانیان غلجیو ته د غرونو خلک وایي. ځینې یې ورته نور نومونه هم کاروي. غلجي بیا بل ډول اند لري، هغوی بیا د افغان ملت د بنسټ امتیاز ځان ته ورکوي. ویل کېږي چې غلجیو په شپاړسمه پېړۍ کې فارسیان د میرویس خان هوتک پر مټ شړلي. د میرویس خان هوتک د واکمنۍ پر مهال ډېر دراني له سویلي سیمو څخه د هېواد ختیځو سیمو ته ولېږل شول. یوه نیمه پېړۍ وروسته د احمد شاه ابدالي تر واکمنۍ لاندې غلجیو ته هم ورته لانجه پېښه شوه. ټول دراني هم په واک کې نه وو، ډېر واک د ځیرک قوم په لاس کې و چې د درانیو یو لوی قوم دی. په غلجیو کې پنځپای له ځیرک قوم سره د تاریخ په اوږدو کې شخړې کړې.
که څه هم کرزی وایي چې ټول افغانان یو ملت دی، خو هغه تر ډېره له پوپلزیو او د دراني قوم له یوې پیاوړې پښې ځیرک سره علاقه لرله. په پخوا کې ځیرک دري زامن لرل. مشر زوی یې بارک نومېده، ورپسې الکو و، او بل یې هم پوپل و. له تاریخي کیسو څخه څرګندېږي، کله چې ځیرک د سلو کالو و، په لار سم نه شو تللی، هغه خپلو دریېو زامنو ته وویل چې کندهار ته یې بوځي. د کرزي په وینا چې لومړیو دوو یې له غوښتنې انکار وکړ، او دریېم یې غوښتنه ومنله، پلار یې په اوښ سپور کړ، او له هغه سره لرغوني ښار ته ولاړ. کله چې ځیرک یو سل و شل کلن و، پوپل یې ځای ناستی شو، دلته باید یادونه وکړم چې کرزی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوپل زوی دی، چې وايي په ختېه پوپلزی دی له همدې ځایه سرچینه اخلي. (مستند بنسټ نلري)

کله چې په ۱۹۹۴زکال طالبان واک ته ورسېدل، هغوی ډېر واک غلجیو او پنجپای ته ورکړ، همدې قومونو له قدرته خوند اخیست. له پېړیو وروسته یې په کندهار کې واک نوی کړ. د هېواد په ختیځ کې داسې فکر کېږي چې ټول غلجي طالبان دي، خو ټول غلجي طالبان نه دي. د بېلګې په توګه کرزي د خپل پلار په لاس له غلجي هاشم خان سره پېژندل، هغه له طالبانو سره مخالف و، چې په پایله کې یې خپل واک هم له لاسه ورکړ. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د غلجي قوم مشر په خپله کلا کې اوسېده. کله چې د ۲۰۰۱زکال په اکتوبر کې خبر شو چې پوپلزی حامد کرزی اروزګان ته راغلی و، هغه ولاړ او له هغه سره یې د همکارۍ خبره وکړه. د غلجیو د قوم ډېرو مشرانو د طالبانو د رژیم ملاتړ کاوه، خو هاشم خان یې په مخالف اړخ کې ولاړ و. د پوپلزیو له قوم څخه حامد کرزي هڅه وکړه چې طالبان به سمې لارې ته وهڅوي، خو هغه هم په دې چاره کې بریالی نه شو. هاشم خان ادعا کوله چې غلجي به د کرزي د ملاتړ په موخه په ترینکوټ او د ارزوګان ولایت په دوو نورو ولسوالیو کې وهڅوي. کرزی په دې کار سره ډېر خوښ شو، او هاشم خان ته یې ټولې هغه اسانتیاوې برابرې کړې چې اړتیا یې ورته لرله. کرزي هغه ته وویل:"خپل مسوولیت ادا کړه."کرزي ورته دوه سوه زره پاکستانۍ کلدارې ورکړې. په دې خبره چې ولې د غلجیو د قوم یوه مشر هاشم خان ته ډېرې پیسې ورکړل شوې، معلم رحمت الله په غوسه کړ، هغه د هاشم خان له پیسو څخه پنځوس زره د خپل ځان لپاره وغوښتې، خو دې هڅې یې ګټه ونه کړه.

له ترینکوټ څخه بهر د ملا امام په کلا کې کرزی ورځ تر بلې خسته کېدونکی و. د دواړو سټلایټ تلیفونونو بترۍ یې په ختمېدو وې، هغه نه شوی کولای له خپلو ملګرو سره په اړیکه کې شي. په تېرو دوو اوونیو کې هغه په دوامداره توګه د ارزوګان له قومي مشرانو، شمالي ټلوالې، اسماعیل خان،- چا چې پلان لاره



افغانستان ته له لويديځ اړخ څخه ننوځي، او امریکایانو سره په تماس کې و. کرزي له ځان سره په پټه دوه تلیفونونه راوړي وو، خو ورسره اضافي بترۍ نه وې. په کلا کې له کلونو برېښنا نه وه، نو ځکه تلیفونونو ته برېښنا ورکول ناممکن و. کرزي هڅه وکړه د تلیفون بترۍ د موټر بترۍ ته بسته وکړي، له لمر څخه یې هم کار واخیست، خو کومه ګټه یې ورته ونه کړه. کرزي د جنریټر پوښتنه وکړه. ملګرو یې ورته وویل چې په سیمه کې یې جنریټر نه موندل کېده. له کرزي سره پیسې وې، هغه پرېکړه وکړه چې یو جنریټر واخلي.

سید یې کندهار ته ولېږه چې ورته دوه نور تلیفونونه راوړي. کندهار ښار د اکتوبر له ۷مې راپدېخوا تر سختو بمباریو لاندې و. دا چې په لومړیو بمباریو طالبان تسلیم نه شول، نو ځکه د بمباریو لړۍ د (B-52)، (B-1)، او (B-2) پر مټ پیل شوه. له پاکستان څخه د افغانستان پر خاوره برید کوونکې الوتکې (AC-130H) هم څرخېدلې، امریکایانو د لومړي ځل لپاره ځمکني لنډ عملیات پیل کړي و. په شپه کې به امریکایانو د طالبانو په نظامي ځایونو او هوایي ډګر بریدونه کول. خو دا هر څه به د لنډ وخت لپاره و.

د کرزي د ورور احمد ولي په پرمټ نوي راوړل شوي تلیفونونه د کرزي د یوه ملګري په کور کې پراته وو. د تلیفون هره دقیقه لګښت پنځه ډالر و، خو لګښت یې ځکه کومه خبره نه وه چې د سي ای اې له لوري پرې کېده. سید هم اوس د تلیفون په کارولو پوهېده.

پر دې سربېره چې کرزی د تلیفون له کبله له ننګونو او ګواښونو سره مخ و، بیا هم هغه هڅه کوله چې د بارکزیو او ځیرک قومونو له مشرانو سره په تماس کې شي. په ترینکوټ کې دا یوه اسانه خبره نه وه. تر هغه وړاندې چې طالبان د ښار واک په لاس کې واخلي، هغه وخت د ښار حالت ګډوډ او د خلکو ترمنځ لویه فاصله موجوده وه. هغه وخت د اروزګان والي جان محمد خان د بارکزیو قوم سره د واک پر سر جګړه کوله. که څه هم دا معلومه نه ده چې لومړی جګړه چا پیل کړې وه، خو بارکزي پر جان محمد خان تور لګوي چې ګني هغه یو نامتو ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواژه. له دې سره په دواړو اړخونو کې د وژنو لړۍ روانه شوه. کله چې کرزي په ۱۹۹۰زلسیزه کې له جان محمد خان سره کتل، هغه هم تر نښې لاندې و. د بارکزیو د قوم یو کس ادعا کوي چې ګني هغوی د کرزي د لیدو لپاره مرکزي جامع جماعت ته ورغلي وو، هلته پرې د جان محمد خان د کسانو له لوري توپنچه نیول شوې وه. په روانه شخړه کې جان محمد خان یو وسلوال کس او څلور نور کسان و ویشتل. د مرکزي جامع جماعت مخې ته د مړو جسدونه پراته وو، چې پکې یو جسد د والي د موټر چلونکي و. کرزی له هماغه ځایه په تېښته بریالی شوی و، هغه نېغ د پولیسو د قومندان عزیز کور ته تللی و. که څه هم کرزي هڅه کوله د بارکزیو له قوم سره د جان محمد خان شخړه پای ته ورسوي، خو هغه یې خبرو ته غوږ نه اېښوده. د بارکزیو قومي مشر روزي خان د غچ په موخه د جان محمد خان د ورور د وژل کېدو امر وکړ. د کلونو لپاره د دوو رهبرانو ترمنځ شخړه روانه وه.

کرزي پر روزي خان باندې په ۲۰۰۱زکال د اکتوبر په میاشت کې حساب نه شو کولای، نو ځکه یې د بارکزیو په قوم کې د ترینکوټ له سلطان محمد او جمعه خان سره اړیکې ټینګې کړې. دې کسانو په دوښمنۍ کې کوم څه نه شو تر سره کولای. دواړو د طالبانو له رژیم وړاندې په سیمه ییز حکومت کې مهم رول لوبولی و. سلطان محمد له جان محمد خان سره هغه مهال کار هم کړی و چې هغه د ارزوګان والي و. نوموړی هغه وخت د اروزګان د پولیسو  قوماندان و. د طالبانو له راتګ سره یې دندې له لاسه ووتې. سلطان محمد کویټې ته وتښتېده، په داسې حال کې چې جمعه خان زنداني کړای شو، او تل به یې شکنجه کاوه. دواړو له طالبانو سره مخالفت لاره، نو ځکه یې د سپټمبر له ۱۱مې وړاندې هم د کرزي د ورتګ غوښتنه کوله.

دا دوه قومي مشران د کرزي له لوري د شپې ناوخته ور وغوښتل شول، هغوی ته هغه څه وویل شول چې په تېرو دوو اوونیو کې کرزي له نورو قومي مشرانو سره شریک کړي وو. کرزي ورته وویل:"لویدیځ له طالبانو تر پوزې راغلی، هغوی نور



طالبان نه غواړي." هغه پدې ټینګار کاوه چې باید پښتانه اقدام وکړي، که نه نورې ډلې یانې د شمالي ټلوالې (-هزاره، ازبیک او تاجک) به د سي ای اې پر مټ په دې برخه کې پرمختګ وکړي او امتیاز به د ځان کړي. شمالي ټلواله په کراره د کابل لور ته روانه وه، خو د افغانستان په سویل کې پښتنو د طالبانو پر وړاندې لوی پرمختګ ونه کړای شو، که څه هم پر کندهار هوایي بریدونه روان و.کرزي دوو بارکزیو قومي مشرانو ته چې مخامخ ورته ناست وو، وویل:"که موږ پښتانه کوم اقدام ونه کړو، نو موږ په خطر کې یو. موږ باید له خپل دریځ څخه دفاع وکړو."

د کرزي کارونه لا په چټکۍ روان نه و. په کلا کې له هغه سره خلکو مخالف نظریات لرل، خو هغه ورته په سړه سینه معلومات ورکول او د هغوی قناعت یې ترلاسه کاوه. هغه له هغو خلکو خسته شوی و چې د اقدام څخه یې تېښته کوله. له کلونو یې ورته پیسې ورکړې وې، خو اوس یې کرزي ته په بدل کې څه ورکولای شول؟ کرزي د خپل مقاومت ارزښت درک کړی و، خو له نورو یې هم تمه وه چې په همدې ارزښت ځانونه پوه کړي. د سید په وینا چې کرزي ناستو خلکو ته وویل:"زه له کویټې دلته راغلم، دا هغه څه دي چې تاسې یې له ماسر کول غواړئ؟" له بل لوري د کندهار پخواني والي ګل اغا شیرزي هم کندهار ته د ننوتلو چمتوالی نیولی و. هغه له ځان سره خپل ملګري او له پیسو ډکې کڅوړې را اخیستې وې. دی د طالبانو له راتګ سره له خپلې دندې او خاورې شړل شوی و. ګل اغا شیرزي دا نه منله چې ګني حامد کرزی په ارزوګان کې و. اوس خبره بل دوه ښکارېده، کرزي خپل ملګري نه وو چمتو کړي، خو ګل اغا شیرزي د خپلو پلانونو د تطبیق لاره پخه کړې وه.

لږ ورځې وروسته د کرزي کسان د اروزګان ولایت د مرکز کوټوال کلي ته د عبدالغني ماما کور ته ولاړل. د هغوی لپاره حالت سم نه و، هغوی باید په یوه ځای د ډېر وخت لپاره نه وای تم شوي. کرزي غوښتل د موټر له لارې ولاړ شي، خو ملګرو یې ورسره دا نظریه ونه منله. په پښو تګ بیا ورته په رڼا ورځ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزمن و. هغوی د ماښام تر تیارې تم شول. سید په خپل موټر سایکل یو ځل مخکې ولاړ، چې د نورو ملګرو لپاره لار او حالت و څاري. سید دهراوت ته هم ولاړ، هغه له ځینو نورو کسانو سره هم وکتل چې له کرزي سره یې په کویټه کې لیدلي وو، هغه یې هم له خپلې ډلې سره یو ځای کړل.

پرکرزي دا وخت ډېر کسان ور ټول وو، خو هغوی ټولو په تشه ګېډه ژوند نه شو کولای، نو ځکه یې له هغه ډوډۍ هم غوښته. په کلا کې به ښځو ورته ډوډۍ چمتو کوله، کرزي هم له خپل ورور احمد ولي څخه غوښتي و چې خوراکي توکي ور ولېږي. کرزي ورته د خوراک هر ډول توکي برابر کړي وو. د سي ای اې له لوري ورته په خلاص مټ پیسې ور روانې وې، ځینې وختونه به یې ورته اتیا زره ډالر او ځینې وختونه به یې ورته سل زره ډالر ورلېږل. هغوی به په کلدارو ترې کار اخیست. کله چې کرزی په ارزوګان کې و، ورور احمدولي یې یوه پښه تر اسلام اباده د سي ای اې تر دفتره او بله به یې تر کویټې وه، چې د کرزي ضرورتونه ور پوره کړای شي. هغه به د سي ای اې له کسانو سره په پټه کتل، ځینې وختونه به یې د موټرو په تم ځایونو کې او ځینې نور وختونه به یې په ګڼه ګوڼه کې ترې تلیفونونه، پیسې او نور څېزونه اخیستل. د کرزي د مقاومت پر مهال احمد ولي په کویټه کې یواځنی کس و چې د ارزوګان له حاله خبرو ، خو هغه هېڅا ته هم حال نه وایه. کله به چې ژورنالستانو ترې د کرزي پوښتنه کوله هغه به ورته اسلام اباد او یا هم کراچي ښووله، هېڅ کله یې هغوی ته نه ویل چې ورور یې په اروزګان کې و. کرزی اړ و چې په اروزګان کې رښتني کسان ولري، تر هغه چې مقاومت یې ښکاره کېږي.

کرزي همدا مهال د واشنګټن له غوښتنو سره سم عمل کاوه. د سي ای اې مشر جورج ټېنټ به ولسمشر جورج ډبلو بوش او د امریکا د دفاع وزیر ډونالډ رامزفلډ ته په خبرو کې د کرزي نوم یاداوه. هغوی د افغانستان د سویل د حالاتو په اړه اندېښمن وو. په داسي حال کې چې شمالي ټلواله د کابل پر لور په بېړه روانه وه، خو کندهار لا خاموش و. رامزفلډ دې ته اندېښمن و چې د سویل خلک د



څه لپاره تم و. ټېنټ کرزي ته ویلي و چې کارونه یې په نسبتي توګه ورو وو. کرزی د یو پښتون مشر په توګه د اروزګان په مرکز ترینکوټ کې و، هغه په انګریزي ژبه روانې خبرې کولای شوې، د سي ای اې ملاتړ هم ورسره و.

کرزی لا د خپلو ملګرو په منځ کې و، هغه لا عملي اقدام نه و کړي، هغه د خپلو ملګرو او قومي مشرانو لپاره چې له هغه سره یې خبرې کړې وې د قناعت لپاره کومه مذهبي فتوا نه لرله. هغه ته د سپټمبر د ۱۱مې وړاندې هم ویل شوي و چې د خپل اقدام وړاندې هغه د یو ملا له لوري تصدیق ته اړتیا لرله. هغه د همدې کار په لټه کې شو، چې په پایله کې یې په اروزګان کې د وسلوال مقاومت تایید وکړ. په کویټه کې یو مذهبي مشر فتوا ورکړه چې له مخې یې کرزي کولای شول چې د طالبانو د رژیم پر وړاندې ودرېږي.

پر فتوا سربېره کرزي د خپلو کسانو په مورال کې بدلون درک نه کړای شو. هغوی له کرزي د هغه ژمنه تازه کېدل غوښتل، هغوی کرزي ته وویل:"که چېرې امریکایان ملاتړ در څخه کوي، نو پر ترینکوټ دي بمونه واچوي چې موږ په جګړه پیل وکړو. او د طالبانو رژیم به پای ته ورسوو." کرزي په ځواب کې وویل:"زه څنګه جرات وکړم چې له امریکایانو غوښتنه وکړم زما پر خاوره بمونه وغورځوي، چې په ترڅ کې به یې زما ولسي وګړي و وژل شي." د کرزي ملګرو د هغه لپاره خپل ژوند قرباني کاوه، خو هغوی له کرزي یوه بله غوښتنه هم لرله، هغوی کرزي ته وویل:"له امریکایانو وغواړه چې له ښار بهر پر صحرا بم وغورځوي، تر څو موږ ته یې څرک ولګېږي."کرزی پوهېده چې هغه د امریکایانو ملاتړ ته اړتیا لرله، خو هغه په خپلو کړنو کلک ولاړ و. کرزي ورته وویل چې بمونه لا لرې خبره ده، که څه هم د هغه ځینو ملګرو له ځانونو سره کلاشنکوفونه راوړي وو، خو بیا هم کرزي د هغوی لپاره له الوتکو څخه ځمکې ته د وسلو د راشوه کولو ژمنه وکړه. د کرزي له کسانو څخه یوه ورته د غرونو لمنه وښوده چېرې چې هغوی کولای شول له چورلکو څخه وسلې او نور تجهیزات واخلي.

د کرزي کسان هغه مهال نور هم وارخطا شول چې یوه یې وویل د ترینکوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاروال خبر و چې کرزی اروزګان ته داخل شوی و. دا څرګنده وه چې هغه ته معلومات چا ورکړي و. د کرزي ملګرو ورته وویل چې د نورزیو د قوم یوه مشر خدای نظر چې د اروزګان په لویدیځ کې اوسېده د کرزي د شتون په اړه ښاروال ته معلومات ورکړي و. هغه یو ځل کرزی ته ورغلی و، له هغه یې د همکارۍ په موخه پیسې هم اخیستې وې، خو کله چې تللی و، نور پسې غیب شو. کرزی له دې خبرې سره وارخطا شو، هغه فکر وکړ که په خپلو کسانو باور ونه شي کړای نو خبره به نوره هم خرابه شي. او هغه به د طالبان په لاس کښېوزي.

راتلونکې ورځ د چاودنو ږغونه تر غوږو شول، کرزي له خپل کوربه غوښتنه وکړه چې کړکۍ ته ورشي او له هغه سره یو ځای یې ننداره وکړي. په کلا کې ځینو کسانو فکر کاوه چې الوتکو د راکټونو ځوابیه ډزې کولې. ځینو یې الوتکې نه لیدلې، فکر یې کاوه چې راکټونه د سیند له لوري ګوزارېدل. کرزي چې د ترینکوټ پر سر د بمونو لوګی ولید، هغه په بېړه او قهریدلی خپل تلیفون ته ورغی. هغه په انګریزي ژبه ورسره خبرې وکړې:"تاسې ولې راته د برید په اړه نه و ویلي؟ تاسې پر ملکي خلکو بمونه غورځوئ. او بمونه مو هم هغه کور ته نږدې ونښتل چې زه پکې اوسم. ولې تاسې دلته راکټې بریدونه وکړل؟"

د اکټوبر په ۲۰مه د اروزګان مرکز ترینکوټ کې د پولیسو پر قومندانۍ او د طالبانو پر استوګنځای بمونه وغورځول شول. کرزی په غوسه و، هغه ته داسې څرګنده شوه چې امریکایانو هغه هیر کړی او یا یې د هغه د اقدام په اړه فکر نه دی کړی. هغه جګړه نه غوښته، بمونو نه یوازې طالبان بلکې ولسي وګړي هم نابودول. هغه پوهېده چې د قربانیانو کورنۍ به د شخړې اصلي جرړه ومومي چې هغه کرزی په خپله و. هغه به له یوه مېلمستون څخه بل مېلمستون ته له لږو وسلوالو کسانو سره تله. له خلکو سره به یې په خبرو پرمختګ کاوه، هغه یو سیاست پوه او ډیپلومات و، غوښتل یې په سوله ییزه توګه خبره پرمخ یوسي. هغه پوه و ټول هغه افغانان چې د طالبانو ملاتړ یې کاوه طالبان نه وو، بلکې هغوی د اړتیا له مخې د هغوی ملاتړ ته ملا تړلې وه.



د ترینکوټ خاموش ښار له هوایي بریدونو سره وېښ شو. خلک د خپلو کورونو بامونو ته پورته شول، او له یو بل څخه یې پوښتنې کولې چې څه پېښ شوي؟ هغوی د بمونو لوګیو ته کتل. له کورنیو څخه هم ډېر پکې و وژل شول. پر ولسي وګړو سربېره طالبانو هم له وېرې ښار پرېښود، او اطراف ته ولاړل. د طالبانو له زندانه بندیان وتښتېدل.

راتلونکې ورځ د کرزي وېره ثابته شوه، په هوایي بمباریو کې یوازې طالبان نه وو زیانمن شوي. د امریکایانو جګړه چې لږ اوونۍ وړاندې پیل شوې وه، کرزي په خپلو سترګو کتل چې پکې ملکي کسانو ته هم مرګ ژوبله اوښته. لومړي بریدونه د پولیسو د پخواني مشر عزیز کلا ته و. د عزیز زامنو ډوډۍ خوړله، کله چې د بمونو غږونه د عزیز د زامنو تر غوږو شول، له کوټې بهر ووتل او بامونو ته پورته شول. وېرېدلي سپي د هغوی پر لور ور ځغاستل. هغوی ویل چې ښایي پر طالبانو کوم برید شوی وي. دوی له لرو ورځو راهیسې پدې پوهېدل چې ښایي د طالبانو پر وړاندې په ښار کې څه پیل شي. د هغوی پلار له حامد کرزي سره یو ځای شوی و، هغوی ته پته وه چې کرزی له وړاندې په کویټه کې اوسېده او اوس ترینکوټ ته راغلی و. خو پلار یې ورته له کرزي سره د یو ځای کېدو په اړه ډېر څه نه و ویلي.

د عزیز زامن هېښ وو. دا کورنۍ د طالبانو تر واکمنۍ لاندې سخته ځپل شوې وه. پلار یې تر هغه وروسته چې د خپل کاکا د زوی له لوري تنګ شو، د یو کال لپاره تښتېدلی و. د کاکا زوی یې له طالبانو سره ملګری و. له هغه وخته چې بېرته کلي ته راستون شوی و، هغه د طالبانو پر وړاندې د یو مقاومت په تمه و. د هغه زامنو د طالبانو پر وړاندې بمباري یو فرصت باله. دوی فکر کاوه چې ښایي کرزی د طالبانو رژیم پر ګونډو کړي او یو ځل بیا یې پلار د کرزي پر مټ واک ته ورسیږي. دا نو ورته داسې ښکارېده چې بیا به نور طالبان نه وي.

راتلونکې ورځ یې خوښي په بدمرغۍ واوښته، امریکایانو غوښتل له ښاره تښتېدونکي طالبان په نښه کړي. پر ځای یې د عزیز د کورنۍ غړي او دوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په تراکتور کې له ښاره وتلي وو، په نښه شول او بمونه یې پرې وغوځول. عزیز نهه تنه دوستان له لاسه ورکړل، او لور یې ژوبله شوې وه. تر دې پېښې یوه ورځ وړاندې عزیز له ښاره لرې د دوستانو د یوې کورنۍ واده ته تللی و، خبر ورته راغی چې د کورنۍ غړي او دوستان یې تر بمبار لاندې راغلي. په کوټه کې یې پرېکړه وکړه چې نهه تنه تپول په یو ځای کې خاورو ته وسپاري. خو وروسته یې پرېکړه داسې شوه چې باید هر کس جلا ښخ کړي. د لنډ وخت لپاره عزیز پرېکړه بدله کړه چې ګني له کرزي سره به یو ځای کېږي.
تر بریدونو وروسته په ترینکوټ کې هر څه څرګند شول، ډېر خلک په دې پوه شول چې کرزی په ترینکوټ کې و. د هغه پر کلا فشارونه زیات شول. طالبانو او له کرزي سره مخالفو کورنیو هڅه کوله د کرزي په اړه معلومات واخلي او هغه و وژني او یا یې لږ تر لږه له دې کاره لاس په سر کړي. خو هغوی په دې کار بریالي نه شول. د کرزي پر کوربه سربېره نورو کورنیو هم دهغه خیال ساته.
راتلونکو لږو ورځو کې به څه پېښ شي، دا وخت کرزی له امریکایانو څخه د وسلو د اخیستو په پلان بوخت و. عزیز لومړی سړی و چې له کویټې ښار څخه د اروزګان پر لور روان و، هغه د عبدالحق د وژل کېدو خبر په راډیو د طالبانو د یو ویاند څخه اورېدلی و. هغه د خپلې لور درملنه په کویټه ښار کې کړې وه. عبدالحق چې پخوانی قومندان و، د خپل قوم له کسانو سره د افغانستان ختیځ ته ننوتی و. له درو ورځو وروسته هغه د طالبانو لاس ته ولوېد. تر تحقیقاتو لاندې ونیول شو پرې د جاسوسۍ تور ولګول شو، چې په پایله کې د یوې ډلې کسانو له لوري په ډزو و وژل شو. د هغه د ډلې نور کسان وروسته وځړول شول. د عبدالحق وژنه د کرزي د کسانو لپاره لویه اندېښنه وه. هغه د روسانو سره د جګړې پر مهال یوه پښه له لاسه ورکړې وه. په هغه باندې ډېر کسان ور تپول وو. د خلکو سره دا پوښتنې وې، چې هغه څنګه و وژل شو؟ طالبان څومره ځواکمن وو چې هغه یې وواژه؟
عزیز هم مایوسه او اندېښمن شو، هغه فکر کاوه چې له یوه لوستي کس سره به



په اروزګان کې څه وشي؟ ښایي کرزی هم د عبدالحق په څېر له مرګ سره مخ شي. دا چې عبدالحق ته د ژوند فرصت ورنه کړل شو، نو ښایي د کرزي د ژوند فرصت هم کم وي. کرزی له دوو اوونیو څخه په اروزګان کې و او ښایي نور یې دوام نه وای کړی. عزیز په ټکسي کې تر اروزګانه په اندېښنو کې و، هغه فکر کاوه چې طالبان به کرزی و وژني.
کله چې کرزي په خپله پر راډیو د عبدالحق د وژل کېدو خبر واورید، د هغه هم رنګ ژېړ واوښت. هغه خپل سټلایټ تلیفون د کوټې په منځ کې وغورځاوه، له ځان سره په وار وار وویل:"یو غوره اتل و وژل شو."پر ټولو ګواښونو او خطرونو سربېره هغه بیا هم په اروزګان کې پاتې شو.
کرزي سید ته سمدستي لارښوونه وکړه چې نوي جنګیالي ژر ونیسي. دا ورته کومه خبره نه وه چې هغه رښتني و که نه. کوټه له کسانو ډکه شوه. کرزی په خپله له خپلو کسانو سره د دوو ورځو لپاره د ترینکوټ شمال لویدیځ کې یوې سیمې (دورجې) ته ولاړ، هلته یې د غره ترڅنګ له امریکایانو غوښتي وو چې ورته وسلې شوه کړي. په دې سیمه کې لږ کورونه و، چې پکې الکوزي هم وو. له دورجې سیمې څخه هم کویټې ته د کرزي کور ته ډېر کسان ورغلي وو، او آن له هغه څخه یې د درملو او درملنې پیسې هم اخیستې وې، هغوی ته کرزي له وړاندې د طالبانو پر وړاندې د دربدو خبرې کړې وې.
تر دورجې پورې سفر خطرناک و. دا سیمه د جان محمد خان د واک پر مهال له امنه ډکه وه. د کرزي کسانو له کرزي ځان خوندي احساساوه، خو دلته د تالاني په کلي کې خلکو ورته وویل چې طالبانو د کرزي پوښتنې کولې او د هغه نیولو په لټه وو. د کلي خلکو طالبانو ته یوه ښځه ور ولېږله او هغوی ته یې وویل چې کرزی یې نه و لیدلی او نه هم ورغلی و. د پښتنو په کولتور کې ښځه د ډېرو حساسو او اړینو پیغامونو په موخه لېږل کېږي. کله چې ښځه د اړین پیغام په موخه لېږل کېږي، هغه له ځان سره قرآنکریم هم لېږدوي، په دې معنا چې موضوع ورته مهمه ده. دا کار د ستونزمنو لانجو د وروستي او نهایي حل پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ترسره کېږي. له دې کبله د تلاني کلي له ښځې سره چې طالبانو خبرې کړې وې، هغوی د ښځې په خبره باور کړی و چې ګني کرزی یې کلي ته نه دی ورغلی.

کرزی له خپلو ملګرو سره خپل ځای ته ورسېد. په سیمه کې د الکوزیو کورنۍ ژمنه وکړه چې کرزی به ورسره خوندي وي. د دې کورنۍ ځوانانو له طالبانو سره کار کاوه، نو ځکه چا څه نه ورته ویل. کرزي غره ته پورته شو چې د وسلو د کوزولو لپاره مناسب ځای و ګوري. هغوی د بدو پېښو اټکل کولای شو، ځکه طالبان په دې وروستیو کې سخت په توده وینه کې وو. له دورجې سیمې څخه بهر کرزي یو ځای چې لوړه سطحه وه، پیدا کړ چې ګني امریکایان به ورته په هماغه ځای وسلې ښکته کړي. له هغه وروسته یې کسان په وسلو سمبال بېرته ترینکوټ ته ستنېدلای شوی. کرزي په دورجې کې دوه شپې تېرې کړې، بېرته ولاړ چې د سید له لوري نوي ګمارل شوي سرتېري وګوري. د شپې ناوخته د کرزي ډله چې اوس یې شمېر اویا تنو ته رسېده غره ته پورته شوه. د هغوی په لاسونو کې څراغونه ورته بلا شول، غوښتل یې له وسلو سره یو ځای څومره ژر چې ممکنه وي ترینکوټ ته ځانونه نږدې کړي.

د کرزي له ځینو ملګرو څخه څو یې ډېر زاړه و، هغوی نشوی کولای غرونو ته پورته شي، نو ځکه یې دورجې ته د هغه ملتیا ونه کړه. د کرزي وراره هم پاتې شو، ځینو دا فکر کاوه چې هغه له وېرې دا کار وکړ چې د عبدالحق په څېر ونه وژل شي، خو هغه انکار وکړ. هغه ته کرزي ویلي و چې بېرته کویټې ته ولاړ شي، او له هغه ځایه یو بل جنګیالی د عبیدالله په نوم له نورو کسانو سره یو ځای له ځان سره اروزګان ته بوځي. احمد او عبیدالله له یو بل سره له ډېره وخته مخالفت لاره، او د دې کار په موخه یې د کرزي غوښتنه ونه منله. هغه کس چې کرزی یې پر موټر سایکل په قاچاقي توګه بیولی و، اوس له خدای په امانۍ پرته له کرزي څخه ولاړ. کرزي ورته ویلي و چې باید میدان خوشی نه کړي، ځکه د هغوی دا کړنې ټولې په تاریخ کې ثبتېدونکې وې خو هغه یې خبره نه وه منلې



او نه یې د کرزي راتلونکو پلانونو ته پام کړی و.

په عین وخت کې سید ته د توکو لیست ورکړل شو چې د کرزي د هغو کسانو لپاره یې چمتو کړي چې غرونو ته ختونکي وو. هغه اویا کمپلې (شړۍ)، اویا جوړې بوټونه، شپږ بوجۍ اوړه، یوه بوجۍ بوره، چای، چای جوشه، د چای پیالې، لوبه کړایي، او نور اړین توکي او څېزونه دورجې ته په لار و. دا ستونزمنه وه، سید نه غوښتل په بازار کې د خلکو پام ور واوړي. هغه کمپلې نه شوی اخیستې چې کرزي یې غوښتنه کړې وه. سید له یوه وفادار ملګري څخه غوښتنه کړې وه چې ورسره همکاري وکړي. هغوی د غرونو سر ته د موټرو په واسطه رانیول شوي توکي نه شوی وړلی. سید د یوه کوچي کېږدۍ ته چې د ترینکوټ ښار څخه سویل لور ته وه، ورغی او له کوچي یې وغوښتل چې ورسره په خپلو اوښانو توکي غرونو ته انتقال کړي. سید لا دورجې ته نه و رسېدلی، چې کرزي ورسره پر تلیفون خبرې وکړې هغه ته یې وویل چې امریکایانو وسلې ورته کوزې کړې.

که څه هم سي ای اې د کرزي له کړنو خبره وه، خو بیا یې هم وسلې په ځنډ سره کوزې کړې. د سي ای اې مامور ګریګ له اسلام اباده پر تلیفون غوښتل د وسلو د انتقال پر ډول وغږېږي. هغه له کرزي غوښتي و چې څلور ځایه اور بل کړي، تر څو ورته هغه ځای څرګند شي چې وسلې پکې ښکته کړي. کله چې د کرزي کسانو اورونه بل کړل، د هغوی پر سر الوتکې و څرخېدې، پیلوټانو حالات معلوم کړل او بېرته الوتکې ولاړې. د کرزي کسان د الوتکو په تلو سره مایوسه وو، او کرزي ته ورغلل. هغوی له کرزي وپوښتل:"الوتکې راغلې خو وسلې یې رانه وړې." کرزي داسې څرګند څه له ځان سره نه لرل چې ورته ویې وایي، هغه وکتل چې پر ترینکوټ هم یوه سپینه الوتکه ګرځېده. کرزي فکر کاوه چې ښایي الوتکو دا معلومول غوښتل چې ایا کرزی کافي کسان لري که څنګه؟ دوه ورځې تېرې شوې، کرزي یو ځل بیا له خپلو کسانو د نومبر په لومړۍ نېټه وغوښتل چې هماغسې اور بل کړي. الوتکه راغله او له ځان سره یې په سلګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاشنکوفونه، راکټونه او نور تجهیزات راوړي وو. په ترینکوټ او دهراوت کې چې کله خلک خبر شول هغوی هم ورته ځانونه را ورسول.
راتلونکې ورځ طالبانو خپل شتون اعلان کړ. دوه مشهور کسان کرزي ته د یو لیک سر له دهراوته ورغلي وو. یو د کرزي له کسانو څخه د یوه چې ابراهیم نومېده، ورور و. بل هم ملا محمد انور و. دواړه پوپلزي وو او له کرزي سره یې په وار وار په کویټه کې لیدلي وو. دا ورځ هغوی د ملا برادر په استازیتوب راغلي وو، ملابرادر په خټه پوپلزی و، هغه په اصل کې د دهراوت اوسېدونکی و، او د طالبانو یو پیاوړی کس و. دوو کسانو ورته وویل چې له کندهار څخه د طالبانو یوه لویه ډله چې شمېر یې سلکونو ته رسي، د یوه برید په موخه رارونه ده چې ښایي د ملا محمد عمر په غوښتنه دا کار ترسره شوی وي.
په همدې ماښام د طالبانو یوه لویه ډله د غره سر ته پورته شوه. داسې اټکل کېږي چې د هغوی شمېر د ۵۰ او پنځه سوو کسانو ترمنځ و. له کرزي سره ۱۵۰ پیاوړي کسان وو، خو د طالبانو له راتلو سره کېدای شي ځینې یې تښتېدلي وو. ځینې شاهدان وایي چې د طالبانو جګړه شدیده وه نو ځکه د کرزي کسان له درنو وسلو سره بیا هم په شا شول. ځینې نور بیا وایي چې د کرزي ډلې جګړه کوله، خو کله چې د ملا برادر له لوري خبر شول چې لویه جګړه په لار اچول شوې وه، هغوی په شا شول. د ډېرو هغو په وینا چې هلته موجود وو، ملا برادر کرزي ته معلومات ورکول. په دې اړه عزیز اغا وایي:"دا نو د پوپلزیو خپل قومي اتې و." په دې اړه ابراهیم اخندزاده وایي:" موږ ته پوره نه ده جوته چې څه پېښ شول، ښایي ملابرادر د ملا محمد عمر له لوري رالېږل شوی و، خو هغه دلته قومي اړیکې ته ترجیح ورکړه. که څه هم زه د کرزي ښه ملګری یم، خو کرزی تر ما د ملابرادر په مرګ خپه کېږي. ځکه زه پوپلزی نه یم." د همدې پیغام رسونکي وروڼه بیا وایي:"کرزی ملا برادر ونه ساته. زه فکر نه کوم چې هغه دې د کرزي د ساتنې په موخه خبر ورکړی وي، هغه په خپله ګټه کار کاوه." د ولي جان په څېر نور بیا په دې باور دي چې ملا برادر د کرزي ژوند وژغوره.



نن په دورجې کې له پېښې وروسته د طالبانو سفیر په اسلام اباد کې د طالبانو د برياوو په اړه د مطبوعاتي کنفرانس ته خبرې کولې. په هغه ښار کې چې امریکایان هم و، او هغوی د اندېښنو او مایوسی لپاره به یې هر وخت خبرې کولې. څو ورځې وړاندې یې د عبدالحق د نیول کېدو په اړه رسنیو ته ویلي و. دا ځل هغه د مایکرافون مخې ته ورغی، په اند یې دا ځل یې بل غوره زیری لاره چې ګني طالبانو د کرزي ډله له پښو غورځولې، هغه وویل:"له هغوی څخه یې ډېر وژلي، شل یې پکې نیولي چې نن به یې څو تنه په کندهار کې ځوړند شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

راډیو بد خبر خپور کړ، د سید په کلا کې یې خپګان رامنځ ته کړ. د طالبانو یو ځایي استازي ملا رسول پر راډیو وویل چې کرزی یې له پنځه ویشت نورو کسانو سره نیولی. هغه دا هم وویل چې طالبانو دوه زره کلاشینکوفونه نیولي. سید فکر وکړ چې کرزی نه دی ژغورل شوی. خوله یې وچه شوه. هغوی د خپل راتلونکي په اړه فکر کاوه، اوس چې یې مشر ترې واخیست، خپل برخلیک ورته له ناورین ځخه ډک ښکاره شو. هغه په سوچونو کې و، پر موټر سایکل سپور شو، او د هغه غره پر لور روان شو چې پکې جګړه شوې وه، هغه د کرزي له تیلیفون سره اړیکه ټینګول غوښتل خو زنګ یې نه تېراوه، غوښتل یې د کرزي په اړه شوې خبر ځان ته معلومه کړي.

په کویټه کې د کرزي دوستان هم وارخطا او پریشان وو. ټولو نړیوالو رسنیو دا خبر ورکاوه چې د افغانستان په سویل کې طالبانو یوه مخالفه ډله نیولې او ښایي د هغوی مشر یې چې د کرزي په نوم یادېږي وژلی وي. له ټولو هغو ژورنالیستانو پوښتنې کېدې چې له وړاندې یې له کرزي سره کتلي و چې ایا رښتیا کرزی وژل شوی و؟ هغوی ورته یو او بل ډول فکر کاوه ، خو د کرزي ورور احمد ولي تر پایه دا ونه منله چې کرزی ګني وژل شوی و، خو چا یې په خبره باور نه کاوه. نیویارک ټایمز په هماغه ورځ لیکلي و چې د کرزي کورنۍ او ملاتړي وایي:"که چېرې هغه وژغورل شو، نو په بدل کې لوی خیرات کوي."



احمدولي رسنیو ته وویل:"هغه لا هم په اروزګان کې دی، د طالبانو پر وړاندې په سخت مقاومت بوخت دی. نوموړی به د یو ازاد افغانستان په رهبرۍ کې را څرګندېږي او د لویو کارونو د کولو په تمه دی." احمدولي له کرزي سره تماس نیولی و، هغه پوهېده چې ورور یې نه و وژل شوی. په عین وخت کې امریکایي مامورینو رسنیو ته د کرزي د ځواک په اړه وویل:"هېڅوک باید د هغه ځواک کم ونه ګڼي."

په (جیکب اباد) کې د شهباز هوایي نظامي اډې په یوه وړه خونه کې د لومړۍ لیکې کماندو او الفا (ODA - 574) خبرونو ته غوږ وو. دا هوایي نظامي اډه په پاکستان کې د امریکا تر ټولو لویه اډه ده. د لومړۍ لیکې کماندو  د هوا له لارې له ازبکستان څخه دلته راغلي وو. د کماندو (ODA) ۵۵۵، ۵۹۵ او ۵۸۵ ډلګۍ له وړاندې د افغانستان په شمال او لویدیځ کې فعالې وې او په عملیاتو یې لاس پورې کړی و. د لومړۍ لیکې د کماندو مشري د دېرش کلن کپټان (جاسن امیراین) په غاړه وه. هغه په اصل کې د امریکا د هاوایي اوسېدونکی دی، تور واړه وېښتان لري. په خپلو کړنو کې له جدیته کار اخلي. د نوموړي کماندو په جګړه ییزو زده کړو کې د تخصص لرونکې وه او د ډېرو خطرناکو جګړو د کولو توان یې لاره. دې ډلو دې دوښمن په سیمه کې ښېله دې چې د مرکزي ماموریت څخه ورته لارښوونه شوې وای، هم د عملیاتو کولو توان لاره. د لومړۍ لیکې په کماندو کې دوه ټیمونه وو چې هر یو په عملیاتو بوخت وي، بل ټیم به یې څارنه کوي. د دې کماندو د کسانو کورنیو او میرمنو ته به نه ویل کېدل چې هغوی چېرې او د څه لپاره تللي. په دې ورستیو کلونو کې د (ODA - 574) ډلې کسانو ډېر محرم عملیات ترسره کړي وو او کسان یې له یو بل سره بلد وو.

د جاسن ټیم په قزاکستان کې هم روزل شوی و، خو د سپټمبر له ۱۱مې وروسته هر څه بدل شول. د نړۍ له ګوټ ګوټه امریکا ته د لومړۍ لیکې کماندو ټیمونه ور غوښتل شوي وو او هغوی ته د راتلونکو ناڅرګندو عملیاتو په اړه روزنه ورکول کېده. پنټاګون هغوی ته اړتیا لرله، دوی باید چمتو وای، څنګه چې امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده، نو باید پر مخ تللي وای. دا کسان د دوو اوونیو لپاره په کنټاکي کې پاتې شول، هلته یې په عمومي روزنه کې برخه واخیسته. د هغوی اړیکه له نړۍ سره په بشپړه توګه پرې وه، یوازې د خپلو روزنو په اړه یې فکر کاوه، د ټیم د جوړښت او همکارۍ، جګړې، او د هوایي ځواک څخه د همکارۍ غوښتنې په برخو کې یې معلومات واخیستل. د هغوی غوره یې باید افغانستان ته د عملیاتو لپاره تللي وای.

د اکټوبر په پای کې (ODA - 574) ډلې ته وویل شول چې باید د تګ لپاره چمتوالی ولري. د امریکا د ځانګړو ځواکونو د پنځمې ډلې (ایربون) قوماندان په (فورټ کمپ بیل) کې په دې باور و چې د (امیراین) کسان له ټولو غوره او مناسب وو، که څه هم یې مشر د کپټان په رطبه و. دا ډله به په افغانستان کې د لومړۍ لیکې کماندو وي. دا د کماندو لپاره یو ځانګړی فرصت و چې ټول هغه څه وکاروي چې په تېر کې یې زده کړي و.

هغه وخت امیراین یوازې په دې پوهېده چې چیرې ځي. نور ورته هېڅ معلومات نه و ورکړل شوي. پنټاګون لا په بشپړه توګه د لومړۍ لیکو د کماندو د لېږلو په خبره پرېکړه نه وه نهایي کړې. امیراین په دې نه پوهېده چې هغوی به څه وخت ولېږل شي؟ د افغانستان کومې سیمې ته به لېږل کېږي؟ او هلته به د هغوی ځانګړي عملیات څرنګه وي؟ ده د افغانستان په اړه کافي معلومات نه لرل، یوازې دومره چې د نقشې پر مخ یې دا هېواد کتلی و. له نقشې ورته جوتېده چې په دې سیمه کې عملیات به غبرګون لرونکي وي. هغه به له ګوریلایي جګړې سره مخ کېږي. غرونه هم د هغوی په مخ کې خنډ و، ځکه د غرونو په سرونو کې به مخالف لوري پټنځایونه جوړول. امیران دې خطرناکې جګړې ته روان و، هغه تل په سختو جګړو کې د ګډون لپاره تمایل ښوولی و. په فورټ کمپ بیل کې تر روزنې وروسته امیراین او د هغه کسانو ته اجازه ورکړل شوه چې د لږو ورځو په اوږدو کې د خپلو کورنیو، میرمنو او خوړو ملګرو څخه رخصت واخلي. امیراین هاوایي ته د هوا له لارې ولاړ، هغه خپلو والدینو ته وویل:" نه شم



ویلای چې زه به د څومره وخت لپاره ولاړ شم."

د نومبر په ۲مه امیراین او د هغه ملګري د جیکب اباد په هوایي نظامي اډه کې ښکته شول. هغوی ته خبر ورکړل شو چې د افغانستان سویل سیمو ته به ولاړ شي. هغه د پښتنو په اړه هم معلومات واخیستل، پښتانه د سویل د سیمو خلک دي، هغوی د طالبانو په راپیدا کېدو، پیاوړتیا او ملاتړ کې رول لوبولی و. د پښتنو په سیمه کې امیراین ملېشه کسان ګمارل چې د طالبانو پر وړاندې وجنګېږي. امیراین هغسې معلومات نه لرل، څنګه چې مناسبه وه، ځکه د افغانستان نقشې او د نقشو اړوند معلومات تازه او کره نه وو. د کلیو نومونو له اصلي نومونو سره توپیرونه لرل. امیراین او د هغه ټیم نقشې په زړه نا زړه توګه ولوستلې.

امیراین پوهېده چې په سویل کې د طالبانو یو مخالف مشر به د حامد کرزي په نوم له امریکایانو سره همکاري وکړي. امیراین وویل:"له لومړي سره پلان ناسم و. تر هغه چې عبدالحق او حامد کرزی افغانستان ته ننوتل د پښتنو په منځ کې د طالبانو پر وړاندې هېڅ کار نه و شوی. هغوی له خپلو پلانونو سره نېغ روان و، نو ځکه زما عملیاتو یوه میاشت په ځنډ پیل شول."

که څه هم له امیراین سره کرزي خبرې نه وې کړې، خو د کرزي له شالید څخه ورته جوته وه چې ښایي هغه ورسره همکاري وکړي. امیراین ته د لوړو ادارو څخه ویل شوي وو چې حامد کرزی د پوپلزیو له یوې لویې او درنې کورنۍ څخه دی، هغه په سویل کې د طالبانو پر وړاندې ولاړ دی. امیراین له حامد کرزي سره په سټلایټ تلیفون غوښتل اړیکه ټینګه کړي، خو د کرزي له اړخه یې ځواب نه و لاسه کړی. د لومړۍ لیکې کماندو مایوسه شوه چې ښایي کرزی وژل شوی وي. امیراین له مایوسۍ څخه په خپله څوکۍ کښېناست او شاته یې تکیه وکړه، لاسونه یې پر خپل څټ ونیول. هغه خپلو کسانو ته کتل، هغوی په پاکستان کې وو، نه پوهېدل چې څه به ورته پېښېږي.

تر هغه وروسته چې نړۍ د کرزي د برخلیک په اړه خبرې روانې ساتلې وې، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (دورجې) په غرونو کې و. د طالبانو له ډلې دوه کسان دا وخت له کرزي سره وو. هغوی په اصل کې د کندهار و، او په جګړه کې د کرزي کسانو نیولي وو. د کرزي کسانو له نوموړي ځخه پوښتلي و:"په دې کسانو څه وکړو؟" که څه هم په پخوا کې دا ډول نیول شوي کسان وژل کېدل، خو کرزي ورته وویل چې باید ونه وژل شيږ" له دې سره د کرزي کسان مایوسه شول، خو کرزي له نیول شویو کسانو سره په خوږه ژبه خبرې وکړې. هغه نیول شویو کسانو ته وویل:"کور ته ولاړ شئ، خپلو ورځنیو کارونو ته ادامه ورکړئ." کله چې په ۱۹۹۴زکال طالبان راڅرګند شول، هغوی هم له ورته نرمو رویشونو کار اخیست. د دې رویش ډول داسې دی چې لومړی په نرمه رویه له خلکو کار اخلي، تر څو یې خلک پر وړاندې ونه دربېږي، تر هغه وروسته چې واک ته ورسیږي، بیا چې یې څه زړه غواړي هغه کوي. دا د رژیم د بدلون لپاره په افغانستان کې بهترینه لاره ده. کرزي نیول شویو طالبانو ته پیسې ورکړې او وروسته یې ورته اجازه ورکړه.

د طالبانو تر برید وروسته کرزي نه غوښتل نور په دورجې کې پاتې شي. د نویو بریدونو احتمال و. هغه غوښتل له خپلو کسانو سره چهارچینو ته ولاړ شي. دا ولسوالي د ارزګان په لویدیځ کې پرته ده. که څه هم هلته پوپلزي لږ و، خو بیا هم دا ولسوالي ورته د عملیاتو مناسب ځای و. هغه د نورزیو د قوم له محمد عبدالرحمن ځخه د ملاتړ تمه لرله.

تر هغه وړاندې چې کرزی له هغه ځایه وتلی وای، د خپل ویاند پر مټ یې بي بي سي ته وویل چې لا ژوندی و او په ارزګان کې و، هغه د یو ازاد افغانستان لپاره جګړه کوله. هغه غوښتل چې لویې جرګې ته لاره هواره کړي. د بي بي سي خبریال د کرزي د ژوندي پاتې کېدو په خبره هېښ شو، ځکه په ټوله نړۍ کې یې د وژل کېدو خبر خپور شوی و. طالبانو په اسانۍ سره هغه نیولی شو، خو کرزی دا مهال د چهار چینو پر لور وان و. کله چې د کرزي د ژوندي پاتې کېدو خبر خپور شو، د هغه دوستان او خواخوږي ارام شول. رسنیو خبر خپورکړ چې حامد کرزی یواځنی افغان و چې په افغانستان کې دننه یې د طالبانو په منځ



کې وسلوال مقاومت کاوه. پر بي بي سي تلویزیون خبریال یوې نقشې ته لاس ونیوی چې د دهراوت نقشه وه، هغه وویل:"دا هغه ځای دی چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي چارو پخوانی معین حامد کرزی پکې اوسېږي او په مقاومت بوخت دی."

په هماغه ماښام ناوخته کرزي له خپلو کسانو سره په دورجې کې د ماښام ډوډۍ وخوړه او بیا د چهارچینو پر لور روان شول. هغوی د تل په څېر په خاموشۍ ډوډۍ خوړله. په همدې ماښام یې ورجې له نورو خوراکي ځېزنو سره چمتو کړې وې. ابراهیم چې په اصل کې یو غرنی سړی و، د کرزي له مقاومت سره له پیله و، هغه د کرزي ترځنګ د بادامو تر ونې لاندې ناست و، په خبرو یې پیل وکړ. نوموړي تل په دې باور و چې کرزی به په کابل کې یوې لوړې څوکۍ ته رسي. که څه هم کرزي ژور پلانونه په لار اچولي وو، خو په څرګنده یې هېڅا ته د خپلو پلانونو او کوم مقام ته د رسېدو په اړه نه و ویلي. ابراهیم ترې وپوښتل چې تر دې سختیو وروسته به زه کوم ځای ته ورسم، دا ټول کسان به کوم ځای ته ورسیږي؟ هغه له کرزي وپوښتل:"ته یې داسې وګڼه چې طالبان مو پر ګونډو کړل، تاسې وزیر او یا هم ولسمشر شوی، له موږ سره به څه وکړئ؟ ایا موږ به مو په یاد کې یوو؟" کرزي په ډاډه غږ ورته وویل:"هو، بلکل به مو په یاد کې ساتم، زه تاسې نه هېروم." ابراهیم پوه شو چې کرزی به پر خپله ژمنه ودرېږي. کرزي له ابراهیم ځخه وپوښتل:"ایا تاسې په خپله سیمه کې د کابل د مرکزي حکومت امر منئ؟ ایا د مرکزي حکومت واک به په ارزګان کې وچلېږي؟" کرزي ورته وویل چې زه به تل ستاسې خیال ساتم، خو په دې شرط چې تاسې هم قانون ته غاړه کېږدئ.

سهار کرزی له خوبه وختي پاځېدلی و او اوبه یې پلټلې. هغه یوه وړه ویاله پیدا کړه، په خپلو ملګرو یې غږ وکړ چې اودسونه تازه کړي او خپل لمونځونه ادا کړي. د کرزي دا کار د هغه پر ملګرو مثبت اغېز کړی و، هغوی د مکې مکرمې لور ته ودرېدل او لمونځونه یې ادا کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر چهارچینو پورې دوه ورځنی سفر زړه بوږنوونکی او خطرناک و. د کرزي ملګرو فکر کاوه چې هغه د ځان پر وړاندې خطر کم ګڼلی و. د سیمو خلکو د کرزي ملاتړ نه کاوه. له هغو پنځه دېرش کسانو څخه چې له امریکایانو څخه د وسلو اخیستلو پرمهال له ده سره یو ځای شوي و یوازې اووه تنه یې پاتې وو ، نور ټول ترینکوټ ته تللي وو. له هغوی څخه ځینو یې فکر کاوه چې باید په ترینکوټ کې مقاومت وکړي، ځکه کرزي هم غوښتل چې د ترینکوټ په حالاتو کې لومړی بدلون راشي. کله چې کرزی له خپلو ورسره ملګرو سره چهارچینو سیمې ته داخل شو، طالبان یې له وړاندې په راتګ خبر شول. له دې وروسته هغوی دوان ته وتښتېدل. دا سیمه د سیند څخه پورې خوا شمال لور ته پرته ده. څو ساعته هماغلته لالهاند روان وو، نه پوهېدل چې په کومه روان وو. دا چې خلکو یې ملاتړ ونه کړ او نه یې هم ورته د خپلو کلاوو دروازې پرانیستې، نو ځکه بېرته ستړي د دهراوت په لور روان شول. هلته د کرزي له ملګرو څخه د یوه دوست هغوی ته په خپله کلا کې ځای ورکړ. پر ډوډۍ سربېره یې چای او بادام هم ورکړل، له یوې لنډې دمې وروسته بیا روان شول. په (دورجي) کې پر کرزي برید ډېر خلک زړه ماتي کړي وو. اوس په ټول ولایت کې خلک خبر وو چې ګني کرزی په اروزګان کې و.

کرزی او ملګري یې یو ځل بیا د دورجي پر لور روان شول، په غرونو کې لالهانده وګرځېدل خو د مېشتېدو کوم مناسب ځای یې پیدا نه کړ. په پای کې یې په یو داسې ځای کې واړول چې څه موده وړاندې پرې مالدارو خپل مالونه پنډ کړي وو. دوی د خپل مشر لپاره د استراحت ګرم ځای برابر کړ. د سهار په پنځه بجې یې د ګړونګیو غړونه تر غوږو شول. په بېړه یې لمونځونه وکړل، هغوی فکر کاوه چې ښایي طالبان راغلي ول. خو هغه طالبان نه، بلکې یوه ګله اوښان وو. دا ښکلې فضا وه، لمر په راختو و، وړانګې یې د غرونو له سرونو را لوېدلې. پنځلس دقیقې هغوی هماغلته پاتې شول. دوی د واده یوه ورا وکتله چې له دهراوت څخه د ترینکوټ په لور روانه وه.



په غره کې هغوی له یوه کوچي سره مخ شول، هغه ورته چای او هګۍ ورکړې. تر هغه وروسته چې کرزی او کسان یې له کوچي تللي وو، طالبان ورته راغلي ول او هغه یې وهلي و، هغه ورته ویلي وه چې کسان یې ولیدل، خو هغه لار چې کرزی او ملګري یې پرې تللي ول نه وه ورښولې، بلکې مخالف لوری یې طالبانو ته ښوولی و. طالبانو تر وهلو وروسته له نوموړي هغه پیسې هم اخیستې وې چې کرزي ورته ورکړې وې. د کرزي لا هماغه کوچی هیر نه دی، هره د روژې مبارکه میاشت کې یې ارګ ته ورغواړي او هلته ورسره څو شپې تېروي او هغه ته پیسې هم ورکوي.

تر دوو ورځو ستړیاوو او ګرځېدلو وروسته د کرزي کسانو شکایت پیل کړ. په غرنو کې ژوند سخت و، هغوی د خوراکي توکو او نورو اړوند څېزونو څخه کافي څه نه لرل، هغه کمپلې چې سید اخیستې وې تر پایه له ترینکوټه ور ونه رسېدې، له امریکایانو څخه اخیستل شوې وسلې ډېرې یې غلا کړای شوې او یا هم د طالبانو لاسونو ته ولوېدې. د کسانو مورال ضعیف شوی و، هغوی فکر کاوه چې طالبان پرې ځواکمن شوي دي. کرزي خپلو کسانو ته وویل:"که مو وسلې او د خوراک توکي لرلی، نو مقاومت مو پیاوړی پر مخ تللی شو." کرزي په اسلام اباد کې له امریکایانو سره اړیکه ټینګه کړه، له هغوی یې د همکارۍ غوښتنه وکړه، په هماغه شپه الوتکې راغلې چې پکې څلور کسان سپاره وو. یوه الوتکه کښېناسته او بله یې په هوا کې د ځار په موخه څرخېده. د اوس لپاره د کرزي مقاومت چې له تېرې یوې میاشتې را پیل شوی و، پای ته ورسېد.

په ترینکوټ کې د مرکزي جامع مسجد څخه د اذان غږ په لوډسپیکر کې را پورته شو. دوکانونه وتړل شول، ټو خلک د لوړې شنې منارې لرونکي مسجد په لور روان شول. دا په اروزګان کې د نورو ورځو په څېر یوه ورځ وه. که څه هم سید خطر احساساوه، بیا هم مسجد ته ورغی. هغه تر اوسه زړه بدی و، هغه نه پوهېد چې څه وکړي. کرزی چېرې و؟ هغه فکر وکړ چې مسجد ته باید ولاړ شي چې نوي معلومات واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملا ټوله خطبه په غرونو کې د کرزي د کسانو په اړه وه، د ملا خبرې تندې او غوسه ناکې وې، هغه په غوسه و، د کرزي کسان او کرزی يې د اعلیحضرت باچا کسان یاد کړل. ملا ته ناستو کسانو تشریح ته اړتیا نه لرله، ملا د کرزي اړیکه له اعلیحضرت محمد ظاهر شاه سره ترلې ووبلله، او هغه يې د غرب سړی باله. ملا په تند غږ ناستو کسانو ته وویل:"کرزی هم د غرب ګوډاګی دی. دا بې ایمانه کسان باید پرې نه ښودل شي چې بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي. د هغوی وینه قیمت نه لري." دا خبرې په دې موخه وې چې دا مخالف کسان باید و وژل شي.

د سید یوه ملګري د ملا د خبرو پر مهال سید تر سترګو شو، هغه ته يې په اشاره کې وویل چې دا ډول خبرې روانې وې. د هغه اشاره د سید لپاره یو ګواښ و چې باید د ځان خیال وساتي او لرې ولاړ شي. په هماغه ماښام سید د خپل کاکا د زوی په کور کې پټ شو. هغه په همدې کس باور لاره، نور ورته بله لار نه وه پاتې.

خلکو په یو بل شک لاره. کله چې کرزی د سي ای اې پر مټ یو امن ځای ته یوړل شو، طالبانو په سخت غبرګون لاس پورې کړ. که څه هم له طالبانو سره د کرزي د ملاتړو یو لېست و، خو هغوی کلیو ته ننوتل او هر پوپلزی به يې نیولو. په همدې وخت کې سید هم ونیول شو، چې له نیکه مرغه د طالبانو له همدې ډلې سره يې شناخت و. د دې ډلې مشر ملا شفیق و، هغه د پخواني والي جان محمد خان سره سخت مخالف و، هغه يې په پخوا کې په کندهار کې زنداني کړی هم و. کله چې يې سید ولیده، نو يې له یو بل سره پوه کړل. سید خپل نوم غلط ور وښود، له طالبانو څخه یوه يې وویل چې سید ورسره په لېست کې نه و، څنګه يې اجازه ورکړه، سید پښې سپکې کړې او له هغه ځایه په بېړه ولاړ.

هماغه ماښام، لږ تر لږه سل میله لویدیځ لور ته، د سي ای اې مامور ګریګ په چورلکه کې و، چورلکه د (دورجې) سیمې ته نږدې د غرونو سره په یوه هواره سطحه کښېناسته. هغه د شپې لید لرونکې (GoogleVision) عینکې کارولې،



چې کرزی پرې ومومي. هغه د کرزي نوم واخیست، لوړ غږ يې وکړ. هغه وویل:" ایا دا تاسې یاست؟ ښاغلی کرزی، تاسو هلته یاست؟" ویې کتل چې ملګری کرزی يې ورته په یوه لویه ګرګه ولاړ و. هغه له کرزي سره روغبړ د (جلالتماب) په نوم وکړ، کرزي وخندل. د دې کتاب لیکوالې ته په مرکه کې ولسمشر کرزي ویلي و چې هغه له هماغه وخته د ګریګ له خولې د ولسمشرۍ د مقام اوریدلي و. پخواني ډیپلومات ته دا خبره بل ډول ښکارېده.

کرزی په دې پوهېده چې له اروزګان څخه د هغه تګ يې حیثیت ته زیان لاره. د افغانانو دا نه خوښېده چې د مقاومت مشر دې د امریکایانو تر سیوري لاندې وساتل شي. تر عبدالحق وورسته د طالبانو په لېست کې کرزی و، چې باید و وژل شي. په دورجې کې د کرزي د ژغورل کېدو اصل خبره پوره څرګنده نه شوه. نه پرې دهغه ملګري پوهېدل، او نه هم رسنۍ. مخکې له دې چې الوتکې ته پورته شي، د کرزي نږدې ملګرو ته ویل شوي وو چې باید د روان سفر په اړه څه ونه وايي. کرزي غوښتل چې د خپل مقاومت څخه داسې لرې ولاړ شي چې خلک پر خبر نه شي. له څلورو- پنځو ساعتونو وروسته هغه د پاکستان په جیکب اباد هوايي نظامي اډېه کې ښکته شو.

تر هغه وړاندې چې کرزی د پاکستان په خاوره پل ایښی وای، خبر خپور شوی و. د امریکا د دفاع وزیر رسنیو ته ویلي و:"هغه مو د هوا له لارې پاکستان ته د خبرو لپاره بیولی دی."له دې سره يې چارې نورې هم پېچلې کړې. وروسته هڅه وشوه چې د کرزي د ورور احمدولي پر مټ دا تېروتنه لرې کړې. هغه خبریالانو ته په کویټه کې وویل چې د رامزفلډ معلومات ناسم و. هغه په وار وار وویل:" ما همدا اوس له هغه سره پر تلیفون خبرې وکړې، هغه لا په اروزګان کې دی، او خپل مقاومت ته دوام ورکوي. دا حقیقت خبره ده." خلک حیران وو چې د دفاع وزیر او که د احمد ولي خبرې ومني. د افغانستان په سویل کې رسنۍ او ژورنالستان نه وو، د کرزي د کورنۍ او پنټاګون ترمنځ ژورنالستان نه پوهېدل چې د چا خبره ومني. کلونه وروسته چې مې کله له ولسمشر کرزي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوښتل چې هغه خبره څنګه وه؟ هغه دا ونه منل چې د امریکایانو له لوري دې هغه پاکستان ته دهوا له لارې وړل شوي وي.

کله چې د سي ای اې چورلکې په جیکب اباد هوایي اډه کې کښېناستې، د کرزي ملګرو تمه لرله چې دې هغه هرکلی دې د یو اتل په څېر وشي. هغوی په غرور له الوتکو په خپلو لویو جامو کې راکښته شول. کله چې ودانۍ ته ور ننوتل، لا یې چهارچینو ولسوالۍ ته د سفر ستړیا نه وه لرې شوې، د یوې ډلې لویدځوالو لخوا چې په عامو جامو کې وو، ودرول شول. یوه یې نیک ټایي هم وهلې وه، له افغانانو څخه یوه یې فکر وکړ، هغوی د سي ای اې کسان وو. که څه هم امریکایانو له کرزي سره همکاري کوله، بیا یې هم د کرزي په کسانو باور نه لاره. هغوی یې له سر څخه ترپښو تلاشي کړل. ان دهغوی بګړۍ هم تلاشي کړای شوې. افغانانو د دې ډول تحقیر هېڅ تمه نه لرله.

په ودانۍ کې دننه کرزي هڅه وکړه چې امریکایانو ته د اروزګان حالات تشریح کړي. هغه د خپلو افغانانو ستاینه کوله. یو له هغوی څخه ځکه په غوسه و چې هغه بل کړی اور یې سترګو ته ورته. هغه پخوانیو حالاتو ته په کتو سره په پښتو خبرې کولې او کرزي امریکایانو ته ژباړلې:"ما له مجاهدینو سره ګډ جهاد کاوه. د اعلیحضرت له افغانستان څخه له وتو وروسته په افغانستان کې حالات خراب شول. له هغه وروسته امریکایانو یو په بل پسې په افغانستان کې تېروتنې وکړې. لومړی مو له موږ سره د روسانو پر ضد جګړه کې همکاري وکړه، وروسته مو زموږ هېواد پاکستان ته پرېښود. دا مناسبه نه وه. اوس تاسې خپلې دنګې ودانۍ ګورئ چې څه پکې وشول."

له امریکایانو څخه یوه یې چې نیک تایي یې وهلې وه، په نرمه ژبه خبرې وکړې، هغه د امریکا تېروتنې ومنلې او زیاته یې کړه:"له تاسې ډېره مننه چې له ښاغلي حامد کرزي سره مو همکاري کړې." هغه همدارنګه له هغوی څخه مننه وکړه چې د امریکا تېروتنې یې درک کړې وې او په دې پوهېدل چې امریکا ګرمه وه. نوموړي خپلو خبرو ته دوام وکړ:"موږ اوس غواړو همکاري وکړو، موږ غواړو د



طالبانو رژیم د افغانستان له دننه څخه د پښتنو په همکارۍ پر ګونډو کړو. له هغه وروسته به موږ افغانستان په شپږ میاشتو کې ورغوو، که ډېر وخت هم ونیسي له یوه کاله نه اضافه کېږي نه."

په راتلونکو څو ورځو کې د کرزي کسانو هغه لیده چې له خپلې کوټې به بهر واته او نںواته، هغوی هلته په انګریزي ژبه خبرې کولې. کرزي خپل مجلسونه پر مخ وړل، کسانو یې له نېې ډوډۍ او استراحته خوند اخیست. د نومبر لومړۍ اوونۍ ناراحته اوونۍ وه. په شمال کې د مزار شریف ښار د ازبیک جنرال دوستم لاس ته لویدلی و. په لویدیځ کې د هرات ښار د اسماعیل خان په واک کې و. ژر معلومه شوه چې د طالبانو واکمني په ړنګېدو وه.

پر همدې مهال امریکایي ډیپلوماټ جیمز ډابنز د امریکا متحده ایالاتو د ولسمشر جورج ډبیلو بوش له لوري د افغان مقاومت لپاره ځانګړی استازی مقرر شو. هغه ته دنده ورکړل شوې وه چې د طالبانو مخالفې ډلې سره متحدې کړي، او داسې یو حکومت جوړ کړي چې نه یوازې د طالبانو مخالفو ډلو ته د منلو وړ وي، بلکې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته هم د منلو وي. دې ډیپلوماټ چې پر سر یې وېښته هم کم و، د افغانستان په چارو کې تر دې دمه کار نه و کړی، او نه یې هم په کابل کې له چا سره شناخت لاره. هغه ورته دندې په سومالیا، هایټي، بوسنیا، او کوسوو کې ترسره کړې وې. اوس هغه له یوه ټیم سره چې د بوش په اداره کې د نېې تجربې لرونکی و، په نده بوخت و. هغوی د افغانستان په جګړه کې پخوا هم ښکېل پاتې شوي وو، سیمې ته یې سفرونه هم کړي وو. داسې نه ښکارېدله چې د راتلونکي لپاره یوه دقیقه ستراتیژي موجوده وه. خو دا څرګنده وه چې هغوی به پخوانی پاچا اعلیحضرت بیا په واک کې ونه ګوري. او نه هم د شمالي ټلوالې رهبرۍ ته ترجیح ورکول کېده.

ډابنز ویل چې هغه له وړاندې د کرزي په اړه اوریدلي و. هغه له څلور ستوریز جنرال (ټومي فرانکس) سره د امریکا په مرکزي کمانډو، د ټامپا او فلوریډا په نظامي اډو کې د افغانستان په اړه د هماهنګۍ په غونډو کې ګډون کړی و. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې غونډو کې د افغانستان پر راتلونکي خبرې کېدې. فرانکس له وړاندې په پاکستان کې له کلیدي لوبغاړو سره کتلي و، هغه له شمالي ټلوالې سره هم مجلس کړی و. ډابنز ته یې ویلي و چې پلان د افغانستان د لاندې کولو نه، بلکې د مخالفو ډلو ترمنځ د یوه موقت حکومت جوړل و، چې ژر تر ژره امریکایي نظامي ځواک ته فرصت په لاس ورشي چې خپل عملیات پر القاعدې متمرکز کړي. د فرانکس او ډابنز د مجلس په منځ کې یو کس کوټې ته ورننوتی و او فرانکس ته یې ویلي و:"کرزی له موږ سره دی، او زموږ الوتکه اوس له پولې واوښته."فرانکس ډابنز ته وویل:"کرزی یو پښتون مشر دی، هغه په سویل کې د طالبانو پر ضد د وسله وال مقاومت د یوې ډلې مشري کوي. هغه په خطر کې و، له موږ یې د مرستې غوښتنه وکړه او موږ هم ترسره کړه. هغه اوس پاکستان ته پر لاره دی. ته پوهېږې! موږ نور د عبدالحق په څېر پېښې نه غواړو."

په راتلونکو ورځو کې ډابنز د کرزي نوم په پلانونو، یاددښتونو، او سناریوګانو کې کوت، هغه پوه شو چې کرزي په هر اړخیزه توګه سیاسي اړیکې لرلې. که څه هم شمالي ټلواله او پاکستان دواړو هڅه کوله چې خپل سړی ارګ ته ننباسي. په ترکیه کې ترکانو ډابنز ته د کرزي په اړه ویلي و، هغوی په تېرو اوونیو کې له پاکستان او شمالي ټلوالې سره خبرې کړې وې.

ډابنز له انقرې پاکستان ته سفر لاره، هغه د پاکستان د ای ایس ای له مشر احسان الحق سره هم کتلي و، هغه هم ورته کرزی د راتلونکې رهبرۍ لپاره مناسب کس یاد کړی و. که څه هم د پاکستان لومړی انتخاب کرزی نه و، خو بیا هم ډابنز وایي چې جنرال حق دا درک کړې وه چې هېواد یې په یوه وخت کې ډېرې غوښتنې نه شوې مخې ته کولای، د هغوی لاسپوڅي طالبان په ګونډو کېدونکي وو.

څو ورځې وروسته کله چې ډابنز د شمالي ټلوالله له استازي عبدالله عبدالله سره کتل د کرزي نوم یې ورته ویلی و. عبدالله د شمالي ټلوالې له ځوان نسل څخه دی، هغه د شمالي ټلوالې او امریکایانو د اړیکو کس و. هغه په انکریزي ژبه ښې



خبرې کولای شوې، تل به په غربي جامو کې و. خو هغه د وېشل شوې شمالي ټلوالې په استازیتوب کې ستونزې لرلې. هغه د شلو پیاوړو هغو مشرانو لېست چمتو کړی و چې په راتلوکي کې یې په مهمو څوکیو کې کار کولای شو. په دې لېست کې پر عبدالحق سربېره د امین ارسلا نوم هم و چې په اوایامو کلونو کې یې د اعلیحضرت تر رهبرۍ لاندې د مالیې د وزیر په توګه کار کاوه. په دې لېست کې د پوځ پخوانی قوماندان رحیم وردګ هم و، هغه د شورویانو پر وړاندې جګړه کې هم ونډه لرله. په دې لېست د ټولو هغو مشرانو د نومونو ترڅنګ چې له هېواد څخه بهر اوسېدل، د کرزي نوم هم و. د عبدالله عبدالله په خبره چې کرزی دومره مشهور کس نه و، خو د هغه پلار مشهور او د ښه نفوذ خاوند و. د هغه ښه والی یې دا یاد کړ چې ګني له افغانانو او افغانستان څخه لرې نه دی اوسېدلی، ان په امریکا کې یې د اوسېدو لپاره هم زړه نه و ښه کړی. د عبدالله په خبره کرزی د طالبانو د رژیم پر مهال هم په هلو ځلو بوخت و، چې دا یې د هېواد لپاره یو ګټور کار و. شمالي ټلواله له وړاندې له هغه سره بلده وه، ان د سپټمبر له ۱۱مې وړاندې هم هغه د شمالي ټلوالې له مشر احمد شاه مسعود سره په تماس کې و.

دا ډابنز ته حیرنوونکې وه چې پاکستان، شمالي ټلواله او نور د ولسمشرۍ د نوماند په اړه یو نظر لاره. ډابنز په دې اړه وایي:"زه فکر نه کوم چې هغوی دې یو له بل سره د ولسمشرۍ د نوماند په اړه خبرې کړې وې، که یې خبرې کړې وای او د یو بل په نظریاتو خبر وای، نو ښایي کرزی یې نه وای خوښ کړی." رباني چې لا یې په رسمي توګه واک په لاس کې و، کابل ته په لار و، هغه غوښتل یو ځل بیا د واک پر ګدۍ کښېني. ډابنز دا اټکل نه و کړی چې له کرزي سره به په تماس کې شي. په داسې حال کې چې هغه او ملګري یې د جیکب اباد په هوایي نظامي اډه کې وو. ډابنز په دې اړه وایي:"زه فکر نه کوم چې هغه دې هلته د ولسمشر کېدو په نیت د مرکې کولو لپاره و. هغه نږدې و چې د طالبانو له لوري ونیول شي. د هغه د خوندیتوب په موخه همدې ځای ته بېول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هاغه وخت هېڅوک هم نه و خبر چې کرزی به ولسمشر شي."

کرزي خپله هم دا خبره رد کړه چې ګني هغه په جیکب اباد کې د ولسمشرۍ لپاره چمتوالی نیوه. هغه په دې اړه وایي:"هر څه زما په نه شتون کې ترسره شوي." که څه هم کرزی دا نه مني چې د جیکب اباد څخه دې بهر تللی وي، خو دوو ډیپلوماتانو راپور ورکړ چې ګني کرزی په اسلام اباد کې د امریکا په سفارت کې و. کرزي هلته د امریکا له سفیرې وینډي چامبرلین سره کتلي و. هغه مهال سفیره نه پوهېده چې د افغانستان له راتلونکي زعیم سره وه. هغې له کرزي سره لنډې خبرې وکړې، تر دې چې ورته له واشنګټن څخه زنګ راغی او پر تلیفون بوخته شوه.

په همدې وخت کې د پاکستان په جیکب اباد هوایي نظامي اډه کې افغانستان ته د کرزي د ستنېدو لپاره چمتوالی نیول کېده. دا ځل هغه افغانستان له سي ای اې او د امیراین له ټیم سره یو ځای ننوت. د اروزګان خلکو ته د غذایي توکو او جامو مرستې د پراشوټونو له لارې کېدې. په غذایي توکو کې له وړاندې تیارې غذاوې (MREs ) هم شاملې وې، خو ډېر هرکلی یې نه کېده. په ترینکوټ کې د امریکا ضد ځینو اوسېدونکو دا توکي وسوځول. ځینو په بازار کې وپلورل. الوتکو د بن لادن او ملا محمد عمر د غندنې انځورنه هم خپاره کړې وو.



# نهم څپرکی

## د ترینکوټ سقوط

د (امیراین) د لومړۍ لیکې کمانډو پلان درلود، چې له کرزي سره افغانستان ته ننوځي څو خپله دنده ترسره کړي. په اروزګان کې دکرزي مقاومت به دا ځل د امریکایانو ملاتړ هم له ځان سره ولري. کمانډو په تلوار کې وه، ځکه د افغانستان په نوور سیمو کې د لومړیو لیکو کمانډو د خپلو افغان ملګرو سره یو ځای ډېر پرمختګ کړی و، دا هم شونې وه چې ډېر ژر به کابل هم سقوط وکړي. کله چې لومړی ځل کرزي ورته ترینکوټ وښود، امیراین نه پوهېده چې کوم ځای ښیي. وروسته هغه پوه شو، او ویې ویل:"اه! ترینکوټ" هغه کله هم د دې سیمې نوم نه و اورېدلی، خو د نقشې پر مټ یې دا ستونزه حل کړه. کرزي ورته وویل چې د کندهار سقوط ته لا وخت شته. طالبان لا په کندهار کې په وسلو سمبال و، او په ترینکوټ کې هم همداسې وو. د کندهار موقیعت ته په کتو سره، پرې برید کول ډېر ستونزمن کار ښکارېده.

امریکایانو د کرزي خبرو ته غوږ اېښوده، خو هغوی په سیمه کې د هغه د ملاتړ په اړه هم فکر کاوه. کمانډو د طالب ضد کسانو یوې پیاوړې ډلې ته هم اړتیا لرله چې د هغوی ترمخې مقاومت وکړي. پر ۱۲ امریکایي ځانګړو ځواکونو یو زیات شمېر طالبانو د برید پلان درلود. په جنوب کې د امریکایي ځواکونو کوم بل ټیم هم فعال نه و. له امیراین څخه غوښتنه شوې وه چې په سویل کې خپله دنده پای ته ورسوي. په شمال کې جنګسالارانو ډېر سرتیري لرل. د بېلګې په توګه ازبیک جنرال دوستم یادولای شو، هغه په لنډ وخت کې درې سوه سرتیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرزي له ملګرو څخه یوه یې له هغه سره پر تلیفون خبرې وکړې:"تاسې دلته نه شئ راتلای، تاسې باید پر کومه بله لاره غور وکړئ." د کرزي کسان دهراوت ته ولاړل او هلته یې د استوګنې ځای پیدا کړ. د کرزي ملګرو حاجي منډ، حفیظ الله او محمد شاه فکر وکړ چې نور کرزي په اروزګان کې څه نشو کولی. هغوی پرېکړه وکړه چې له اروزګان څخه کویټې ته ولاړ شي. پر لار ورته د طالبانو د تلاشیو او پلټنو له کبله زیاتې ستونزې پرتې وې، هغوی یوه شپه په کندهار کې تېره کړه او راتلونکې ورځ کویټې ته ورسېدل.

د دې پر ځای چې کور ته ولاړ شي، د کرزي تر ټولو پیاوړي امنیتي ساتونکي د کرزي له سیال ګل اغا شیرزي سره یو ځای شول. شیرزي ته د کندهار زمری ویل کېده. د محمد شاه ورسره له هغه وخته اړیکې وې چې هغه په ۱۹۹۰ز کال د کندهار والي و. هغوی په ګډه د لومړیو پیدا شویو طالبانو پر وړاندې جګړه کوله. تر هغه وروسته چې ماته یې وخوړه دواړه کویټې ته تښتېدلي وو. په کویټه کې شیرزي له حامد کرزي سره په ګډه کار کاوه، خو اوس یې له هغه لاره بېله کړې وه او ځان ته یې د فعالیت ترتیب ځانګړی و. هغه له پاکستانیانو سره ښه ملګرتیا لرله، ځکه نو هغه یو ځل بیا غوښتل چې د کندهار والي شي. پاکستانیانو درک کړې وه چې طالبان یې له لاسه وتونکي او هغوی پر ګونډو وو، نو ځکه یې دا وروستی فرصت چې باید په کندهار کې ګل اغا شیرزی د والي په توګه وګمارل شي او په سویل کې د پاکستان نفوذ پیکه نه شي، په کار واچاوه. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته کرزي له شیرزي غوښتنه کړې وه چې له هغه سره یو ځای شي، خو هغه یې غوښتنه نه وه منلې، ځکه هغه خپل ځان ته پلانونه په کار اچولي وو، اوس نو د دواړو ترمنځ یو ډول سیالي وه چې کوم یو به لومړی کندهار ته ورسېږي. د امریکایانو او سي ای اې پر مټ یې د مهاجرینو په کمپونو کې د افغانستان پولې ته نږدې د ځان لپاره د برید ډله جوړه کړه.

په دورجې کې د مقاومت ځای له لاسه ورکول د پلان د تغیر په معنا و. دا ځل کرزي خپل وفادار کسان چې له هغه سره په دورجې کې هم وو، په دهراوت کې



چمتو کولای شول. امیراین له کرزي هم ورته غوښتنه لرله چې باید د جګړې لپاره افغان سرتېري چمتو کړي، خو دا لا جوته نه وه چې کرزي دا کار کولای شو، که نه، او یا دا چې هغه ته د خلکو زړه ښه کړی و، که نه؟

امر وشو چې الوتکې باید چمتو اوسي. د سي ای اې مامور ګریګ افغانانو ته پلان تشریح کړ. افغان جنګیالیو ته وویل شول چې باید مخکې اروزګان ولایت ته ولاړ شي، او هلته په دورجې کې څومره چې ژر ممکنه وي د طالبانو پر وړاندې د مقاومت کرښه جوړه کړي. کرزی به د امریکا د ځانګړو ځواکونو له دوولسو سرتېرو او د سي ای اې له یو ټیم سره وروسته له هغوی سره یو ځای شي. افغانانو ژر شکایت پیل کړ، هغوی خوښ نه و چې یو ځل بیا به په جګړه کې ښکېل کېږي، خو بله لاره ورته نه وه پاتې، سي ای اې ورته (جي پي ایس) الې ورکړې او هغوی یې افغانستان ته په الوتکو کې یوړل.

په دورجې کې الوتکو په دوړو کې ناسته وکړه. د خطر له کبله پیلوټانو الوتکې ژر کښېنولې او همداسې ژر یې بېرته پورته کړې. له الوتکو ښکته کېدونکو کسانو خپلې بګرۍ او جامې ټینګې نیولې وې، هغوی ټوله شپه په غرونو کې ووهله چې د محمد لعل کور پیدا کړي، څو ورځې وړاندې په همدې کور کې اوسېدلي وو، او دې کور ته څېرمه یې له امریکایانو څخه وسلې هم تر لاسه کړې وې. لعل له طالبانو سره ښې اړیکې لرلې، نو ځکه د لعل کور دې کسانو ته محفوظ ځای ګڼل کېده. که څه هم د دې کورنۍ ډېرو دوستانو د طالبانو لپاره کار کاوه، خو هغوی د کرزي او پلانونو په اړه طالبانو ته هېڅ هم نه و ویلي. اوس له یوې اوونۍ راوروسته حالات په بشپړه توګه بدل شوي و. په دورجې کې هېڅوک هم نه و پاتې، د لعل، کلا هم خوشې شوې وه، هېڅوک هم پکې پاتې نه و. کله چې د کرزي کسان په جیکب اباد کې وو، د لعل کورنۍ او ملګرو ته سزا ورکړل شوې وه، له هغوی څخه ډېر نیول شوي وو. لعل د ډېر وخت لپاره فکر نه و کړی، د اړتیا سره سم یې د کرزي د مقاومت لمن خوشې کړې وه، او له خپلو کسانو سره غرونو ته ختلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره راټول کړل. په دې کسانو کې حاجي بهادر، حاجي ظاهر اغا، ابراهیم او جیلاني شامل وو. جیلاني هغه کس و چې د ملا برادر لیک یې تر کرزي ور رسولی و. له پاکستان څخه کرزي له حاجي بهادر سره اړیکه ټینګه کړې وه او ورته ویلي یې و چې ګني هغه (کرزی) به ژر راشي. بهادر په دورجې کې د لومړي برید پر مهال غیب شوی و، او له امریکایانو څخه د لومړي ځل لپاره د وسلو اخیستو د ناکامې هڅې پر مهال راپیدا شوی و. دا یو مخالف حرکت و. د کرزي په ملګرو کې بهادر ته تښتېدونکی ویل کېدل، چې د طالبانو له راګرځېدو سره یې تېښته کړې وه. دا مهال کرزي له هرې ممکنې لارې او ملاتړ څخه کار اخیست، دا چې بهادر پوپلزی و، نو باید کار یې ترې اخیستی وای.

د نومبر په څوارلسمه د سهار د اوو بجو پر شاوخوا بهادر د دهراوت په غورنو کې څلور ځایه اور بل کړ. بهادر، د هغه د کاکا زامنو او نورو پوپلزیو سهار وختې د اسمان لور ته د امید سترګې نیولې وې. په بېړه درې چورلکې راغلې، د (ODA - 574) ډلې او سي ای اې پلان درلود چې کسان به د پراشوټ له لارې کوز شي، خو دا چې هوا خرابه وه، پیلوټانو په بېړه الوتکې کښېنولې او کسان ترې کوز شول. امریکایان پوهېدل چې کرزي کافي کسان نه لرل، نو اوس هغوی اړ و چې په دې برخه کې کار وکړي. په افغانستان کې هر څه د تغیر په حال کې و. کابل سقوط کړی و، ترینکوټ او کندهار ښایي د سقوط په حال کې وو. شمالي ټلواله هم پر مخ روانه وه. له الوتکو کوز شوي امریکایانو سره پر تکنالوژیکو الو سربېره په زرګونو ډالر هم وو. کله چې چورلکې پورته شوې، او دوړې لرې شوې، هغوی پوه شول چې په کومه سیمه کې کوز شوی وو. شاوخوا یې وکتل، وارخطا و او زامو یې په رېږدېدا پیل وکړ، چې پوه شول د غره په یوه هواره سطحه ناست وو. امیراین په لوړ غږ وویل:" دا د سپوږمۍ یو تیاره اړخ دی." لویدځوال چې دنګې ونې او لویې ږیرې یې درلودې، عصري واسکټونه او پتلونونه یې اغوستي و. هغوی په یوه وروسته پاتې سیمه کې ځانونه موندل.



بهادر ته دې صحنې خوند ورکړ چې له کرزي سره د هغه لور ته امریکایان هم روان وو. بهادر ورته لارښوونه وکړه:" د یو بل پر اوږو لاسونه کېږدئ او ښکته په کراری ولاړ شئ." هغه ته معلومه وه چې امریکایان له دې غرونو سره بلد نه وو. وروسته یې ټولو ته اتلس افغاني جامې او اتلس بګړۍ واخیستې. هماغه شپه ځینو کماندو کسانو پیره کوله. نور ټول د بهادر د ورور حاجي ظاهر اغا په مېلمستون کې ویده شول.

پر سبا یې چې کله د ترینکوټ پر خوا په لسو موټرونو کې روان شول، داسې ښکارېدل چې ترینکوټ له وړاندې سقوط کړی و. کرزي امیراین ته وویل:"ډېرو خلکو د طالبانو پر وړاندې پاڅون کړی." دوی دومره پیاوړي نه وو چې د خلکو د پاڅون ملاتړ دې وکړای شي. هغوی یوې بلې ورځې ته هم اړتیا لرله. امیراین له کرزي غوښتنه وکړه چې خلک خاموشه کړي.

امیراین لا وارخطا و، له دې وړاندې چې ښار ته ننوځي، نور ډاډ ته اړتیا وه. هغه لومړي موټر ته امر وکړ چې ودرېږي. لړو خبرو ته اړتیا وه چې په ترینکوټ کې حالت ورته تشریح کړي. د اړیکو مسوول خپل د اړیکو دستګاه فعاله کړه او د امریکایانو د ازبکستان له نظامي اډې سره یې اړیکه ونیوله، له هغوی یې د ډېرو وسلو او تجهیزاتو غوښتنه وکړه. څو ساعته وروسته لومړۍ چورلکه ځمکې ته کوزه شوه. وسلې او تجهیزات یې کوز کړل. د امیراین او افغان جنګیالیو څخه وسلې ډېرې او تجهیزات اضافه وو، نو ځکه د موټرو پر سرونو ځای پر ځای کړی شول. هغه لومړي موټر ته پورته شو، او موټرو حرکت پیل کړ.

کله چې د دهراوت له سیمې وتل، کرزي کماندو کسانو ته وویل چې طالبان له ترینکوټه وتلي وو. داسې ګنګوسې هم وې چې ګني د طالبانو ښاروال یې د ښار په منځ کې ځوړند کړی و. له بل لوري کرزي ته خبر راغلی و چې له کندهاره نور نوي طالبان پر لاره وو او هغوی غوښتل چې پر کرزي او مریکایي ملاتړو یې برید وکړي. کرزي له ځان سره ډېر کسان واخیستل، هغه د خپل تلیفون پر مټ اړیکې ټینګولې. د کرزي ځینې ملاتړي خوښ شول چې خبر شول هغه لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی و. هغوی ته وروستي خبرونه داسې رسیدلي وو چې کرزی په دورجې کې وژل شوی دی. ډېرو کسانو جرات نه کاوه چې له کرزي سره بیا یو ځای شي. ځینې له طالبانو وېرېدل، او نورو پر کرزي باور نه لاره. کرزي ورته وویل:"تاسې د اسمان لور ته وګورئ، تاسې به امریکایي الوتکې ووینئ. هغوی به له موږ سره همکاري وکړي. تاسې باید ورته سپینې جنډې وښوروئ، تر څو هغوی پوه شي چې تاسې بې ګناه یاست." له دې سره د خلکو نوې هیلې پیدا شوې او له کرزي سره یو ځای شول.

کرزي او امریکایانو هڅه وکړه چې د خپلو موټرو تګ تېز کړي. ځینو هغو افغانانو چې د کرزي سره یې ملتیا کوله پر خپلو خرونو او اسونه نه شوی کولای له موټرو سره سم تګ وکړي. د دهراوت په ختیځ کې هغوی ترینکوټ ته تلونکې لارې ته سرونه ور ښکاره کړل، دا مهال نو خبره بیخي څرګنده شوه، چې کرزی له خپلو ملګرو سره ترینکوټ ته ننوتونکی و. نور خبره پټېدونکې نه وه، هغوی مخ په وړاندې حرکت جاري ساته. کله چې امیراین تر شا وکتل په خندا یې پیل وکړ، هغه ته دا حیرانوونکې وه چې په هغوی پسې شل پیک اپ موټرونه، آسونه، خرونه نوي موټرونه او د ملل متحد زاړه جیپان وو. افغان موټر چلونکو هڅه کوله چې له دغو موټرونه په ارامۍ واړوي. کرزی د موټر چلونکي او امیراین ترمنځ ناست و. هغه پر تلیفون خبرې کولې.

امیراین خپله کتابچه له جېبه وایسته او هغه څه یې لیکل چې اورېدل یې، خو هغه په صحیح املا نه شول کولای ټول څه ولیکي، ځکه ټولې خبرې په پښتو وې. هغه هڅه کوله هغه څه ونه لیکي چې که طالبانو ونیول، نو ورسره ستراتیژي به یې برملا شي. نوموړي د دهراوت سیمې ته وکتل، پوهېده چې ډېر طالبانو په اصل کې د اروزګان وو، او په خپله د طالبانو مشر ملا محمد عمر هم د ترینکوټ د شمالي سیمې و. دا خطرناکه وه چې د دوښمن د زېړون له سیمو څخه تېریدونکي وو. هغه سوچ کاوه چې ملا محمد عمر به هماغه مهال چېرې وي. هغه له شوروي سره د افغانانو د جګړې پاتې شونې داسې کتل لکه یو فلم



چې یې تر سترګو تېر شوی وي. په ګولیو سوری شوې د تېلو زخیره ولاړه وه، پرې د ملګرو ملتونو نښان وهل شوی و، دا زخیره له روسانو سره د جګړې له وخته پاتې شوې وه. افغانانو له دې ډول زړو څېزونو د دېوالونو کار اخیست، یانې د کلا د دېوالونو ترڅنګ به یې پخواني فلزي څېزونه درولي وو.

د امریکایي کمانډو تر مخ کرزی او د سي ای اې کسان و، او نور افغانان د شا له خوا ور پسې د ترینکوټ ښار ته ننوتل. دې پېښې ته د نړیوالو رسنیو لاسرسی نه و. د نړیوال رسنیو فوکس ټول پر کابل و چې لږ ورځې وړاندې د شمالي ټلوالې لاس ته لوېدلی و. په عین وخت کې د القاعدې ډېر فعالین او غړي له کندهار او نورو سویلي ولایتونو څخه پاکستان ته تښتېدل. د هغوی پر ورتګ پاکستان ته کوم بندیز نه و لګېدلی. په سویل کې لا هم طالبانو له خپل دریځ څخه ننګه او دفاع کوله. څنګه چې امیراین ترینکوټ ته ننوت، هېښ شو چې څنګه طالبان ټول لادرکه شوي وو.

په لومړیو شېبو کې حالات کړکېچن نه ښکارېدل. نه کومه د جګړې نښه تر سترګو کېده، او نه هم په لښتیو کې د مړو جسدونه پراته وو، خو به کابل کې دا هر څه تر سترګو کېدل. د کلاوو د دېوالونو تر شا خلکو په پټه د امیراین ننداره کوله، هغه به ورته لاس ښوراوه چې هغوی بهر ووځي. کسان یې د ترینکوټ ښار ته ننوتل.

هغه وخت چې کرزی په پاکستان کې و، سید د ترینکوټ په څېرمه کیلو کې لالهانده ګرځېد. تر هغه وروسته چې د یوې چاپې پر مهال طالبانو ونیو او بیا ترې په نابلده نوم خوشې شو، هغه نور خپل ځای بدلاوه چې په دې ورځو کې یې خپل ادرس شپږ ځایه بدل کړی و. هغه دوې چورلکې لیدلې وې چې له دورجې څخه د پاکستان پر لور الوتې وې، خو هغه په دې نه و خبر چې په یوې کې یې کرزی و. هره ورځ به یې بي بي سي ته غوږ نیوه چې کوم خبر ترې واروي. د خبرونو له لارې خبر شو چې طالبانو شپږ نور ولایتونه له لاسه ورکړي وو. خبرونو دا هم ویلي و چې طالبانو کندهار ته نږدې یو کلی هم خوشې کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. ایا د هغه ملګري او خلک به له مقاومت سره یو ځای شي؟ سید دهراوت ته ولاړ، هغه ځان هلته مصوون احساساوه. کله چې هغه دهراوت ته نږدې شو، ویې لیدل چې ډېر خلک سره ټول شوي وو، هغوی د ترینکوټ په لور روان وو، ټولو ویل چې د طالبانو تاریخ تېر شو، هغه نه پوهېده چې دا خلک څه وایي او د څه لپاره روان وو، له کرزي څخه تر جلا کېدو وروسته دهراوت ته نه و راغلی. دی هم له خلکو سره یو ځای شو، تر تالاني کلي تېر شول. دا د جان محمد خان د اوسېدو اصلي ښار ګوټی و. هلته هم خلکو د محلي طالبانو په ګونډېو کېدل لمانځل. سید له ځینو دوستانو سره وکتل او د سید په لیدو حیران شول. هغوی له سید وپوښتل:"ته چېرې وې؟ ته پوهېږې چې څه روان دي؟ طالبان نور وتښتېدل."

په همدې وخت کې په ترینکوټ کې د طالبانو د والي د تېښتې خبر خپور شو. هغه د کرزي  له ملاتړو سره چې له پخوا یې ورسره پېژندل له وسله وال مقاومت څخه کار وا نه خیست، هغوی په دې پوهېدل چې د طالبانو کار نور خلاص شوی و. تر دې خبرو پوهېدو وروسته سید سمدستي د ترینکوټ ختیځ لور ته میر اباد تنګي ته ولاړ. دا ښارګوټی لوټ شوی و، د ترینکوټ خلک هلته تللي وو چې له دوکانونو پیسې، وسلې، او نور توکي لوټ کړي. سید له لرې هر څه ولیدل، هغه وارخطا شو، او د ښارګوټي حالت یې بد ولید. هغه د ښار منځ ته ولاړ، ویې لیدل چې د طالبانو د رژیم د ښاروال وژل کېدل او ځوړند کېدل دروغ و، په همدې وخت کې د هغه سیال ملا شفیق ورته د ساتنځای وړاندیز وکړ. سید ځان د ترینکوټ ښاروال مقرر کړ. کوم بل کس دې څوکۍ ته زړه نه ښه کاوه، دا چې سید د کرزي لپاره ډېر څه کړي و، نو هغه دا څوکۍ د ځان لپاره خوښه کړه. د هغه لومړی امر دا و چې باید لوټ او تالان پای ته ورسېږي. دا چې د هغه امر پر ځای شوی و، که نه، هغه خپله دنده اجرا کړې وه.

وروسته یو بل ښاروال راغی، هغه په ختېه پوپلزی او تر سید یې په دې برخه کې تجربه زیاته وه. د هغه نوم خیروجان و. دا کس د طالبانو د واکمنۍ په لومړیو



کې هم د ترینکوټ د ښاروال په توګه ګمارل شوی و، هغه وخت یې یو بهرنی ژورنالیست پرې اینبی و چې له بازار څخه لیدنه وکړي، د نوموړي له دندې لا شپږ میاشتې نه وې پوره چې د دې کار په سبب له دندې لرې شو. اوس چې طالبانو پښې سپکې کړې وط، خیرو جان پرېکړه وکړه چې باید خپلې دندې ته ستون شي. هغه له وړاندې غوښتل چې له کرزي سره وګوري، خو دا هغه مهال و چې کرزی پاکستان ته بېرته تللی و. نوموړی د پوپلزیو او بارکزیو سره یو ځای د ترینکوټ زندان ته ولاړ، چې خپل ملګري خوشي کړي. له هغه ځای بیا بازار ته ننوت او ټول خلک یې خبر کړل چې طالبان نور تښتېدلي وو. دا کسان په غرور د ښار په کوڅو کې روان وو، او له خلکو یې غوښتنه کوله چې له هغوی سره یو ځای شي. که څه هم ډېر کسان د حالاتو د کتو په تمه وو، خو دې کسانو په اروزګان کې یو ځل بیا ځانونه په واک کې وکتل. پر ګډوډیو سربېره هر چا احتیاط کاوه، خو دا څرګنده خبر وه چې طالبان نور ختم شول. ځکه د افغانستان شمال په ټوله کې د طالبانو له لاسه وتی و. وروسته بیا خیروجان وویل:"طالبان په دې هر څه پوه شوي وو، نو ځکه یې غرونو ته پښې سپکې کړې. هغوی یوه وړوکي مقاومت ته هم لا زړه ښه نه کړای شوی."

د کرزي ملاتړي په اندېښنه کې وو چې هغه کس (کرزی) چې دا ټول مقاومت یې را پیل کړی و، اوس چېرې و؟ ځینې یې د ژوند په اړه اندېښمن وو، دوی فکر کاوه چې ښایي وروسته به هم یو څه پېښ شي. هغوی ته مسوولیت ور وسپارل شو، خو اوس نه پوهېدل چې څه وکړي؟ هغوی له سید غوښتنه وکړه چې کرزی ور پیدا کړي، خو سید چې ځان یې په خپله ښاروال ګمارلی و، نه پوهېده چې کرزی چېرې و. د پخوا په څېر یو ځل بیا قومي درځونه راپیدا شول، یو لور ته پوپلزي او بل لور ته بارکزي وو. له دې سره یو ځل بیا ترینکوټ په قومي تربګنۍ و وېشل شو. د کرزي درک لا نه و څرګند. ځینې کسان له ترینکوټه بهر چهارچینو، دهراوت او ان کویټې ته ولاړل چې کرزی پیدا کړي، په کویټه کې یې د کرزي له ورور احمدولي څخه پوښتنه کړې وه. داسې خبر را ورسېد چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي ورور خبر و چې هغه چېرته و. او په وینا یې کرزی به ژر ترینکوټ ته ورشي.

کله چې پوپلزیو هڅه کوله ترینکوټ ترلاسه کړي، د بارکرزیو مشر روزي خان هم راورسېد. هغه د کرزي ملاتړ نه کاوه، ځکه هغه د جان محمد خان سره اوږده دوښمني لرله. پخوا د دواړو خواوو ډېر کسان وژل شوي وو، ان کرزی هم تر خطر لاندې و. اوس روزي خان د نورو ورانیو په تمه و، ده ته د طالبانو په دننه کې اړیکو دا فرصت په لاس ورکړی و چې د اروزګان په شمالي سیمو کې پټې وسلې ومومي. په دې وسلو سمبال ښار ته ننوت. لومړی د ولایت مقام ته ولاړ، خو هغه ودانۍ خالي وه. وروسته د قومندانۍ مقام ته ولاړ، هلته یې له طالبانو سره نښته وشوه چې په پایله کې طالبانو ماتې وخوړه. پنځه کسان و وژل شول چې پکې څلور د روزي خان کسان وو. کله چې طالبان وتښتېدل، د روزي خان کسان قومندانۍ ته ننوتل، او د طالبانو پاتې شوې وسلې یې په واک کې واخیستې.

کرزی ترینکوټ ته د ننوتو پر وخت اندېښمن و، چې د هغه ملګري به د امریکایانو په شتون څه غبرګون ونښيي. په رښتیا سره لا هم محافظه کاره کسان وو چې هغوی د لویدیځوالو شتون ته زړه نه ښه کاوه. ځینې ځکه له امریکایانو تر پوزې وو چې د روسانو سره تر جګړې وروسته یې افغانستان ناځرګند برخلیک ته پرې ایښی و. دا مهال په ښار کې څه اندېښنې وې. کله چې کرزی ترینکوټ ته ننوت، سمدستي د ولایت مقام سپینې ودانۍ ته بوتلل شو، داسې لکه هغه چې د دې سیمې مشر و. هلته ورسره ډېر پخواني جنګیالي یو ځای شول، لکه معلم رحمت الله، عبدالغني ماما، سلطان محمد، او روزي خان.

د کرزي زړه تکیه شو. هغه امیراین ته وویل چې کښېني، او ویې ویل:"دوی له موږ او تاسې سره خوښ دي." د اروزګان په اړه یې وویل:"دوی لوړې تمې لري. تاسې اوس پدې خلکو تکیه کولای شئ. طالبان نور دلته نشته. هغوی په کندهار کې دي او هلته به یې لویه جګړه هم پای ته ورسېږي. دلته خلک



دوکانداران، واړه تجاران او بزګران دي. دا خلک له اقتصادي اړخه سخت لویدلي دي. دوی تل پدې فکر دي، له چا ملاتړ وکړي چې موږ ته نجات راکړي؟ پر دوی یې توپیر نشته، که طالبان وي او که نور څوک. دا مهال د هغوی د هیلو سترګې زموږ لور ته دي." امیراین پر ټغر چهار زانو کښېناست، هوا هم سړه وه. د هغوی ترمخې د ګاز بخارۍ روښانه وه، تر مخې یې د چای پیالې او د خوړو لوی لوښي ایښي وو. ټولو کرزي ته کتل. امیراین تمه لرله چې د ترینکوټ په اړه باید لومړۍ شورا برابره شي.

کرزی یو ځل بیا په تلیفون بوخت شو. له څو ورځو راهیسې امیراین له کرزي سره دی، د تلیفون په ارزښت پوه شوی. تلیفون د هغه ځواکمنه وسله وه او د خپلو معلوماتو لپاره یې کاراوه. که څه هم کرزي ټولې خبرې امیراین ته نه ژباړلې، خو دا ځل یې ورته ژباړه وکړه:"له درېیو څخه تر پنځه زره طالبان زموږ په لور را روان دي. هغوی ما غواړي، که ژوندی وم او که مړ." کرزي دا هر څه په سړه سینه او پرته له وېرې وویل. هغه له دې سره یوه ټوکه هم وکړه:"ښایي هغوی په پښو راشي." امیراین پوهېده چې په افغانستان کې هر څه ممکن دي. یو ځل بیا خبرې ترینګلې شوې. د طالبانو ځواک به ترینکوټ ته په لږو ساعتونو کې ورسېږي.

کرزي له وېرې او ډار پرته په خوراک پیل وکړ. هغه امیراین ته ور وکتل چې هغه هم باید له وېرې پرته ډوډۍ وخوري. امیراین په فکر کې و، فکر یې کاوه چې د ښار ساتنه او د ځان ساتنه یې باید کړې وای. کرزي وویل دا په دې معنا نه ده چې موږ باید د روژې لومړۍ ورځ ونه لمانځو. د امیراین په فکر چې روژه به یې د عملیاتو پر وړاندې خنډ شي، ځکه د هغوی د کارونو په اوج کې روژه راورسېده او دا به څلور اوونۍ دوام کوي. د کرزي کسان به ډېر ضعیف شي، ځکه هغوی به ټوله ورځ روژه په خوله وي، نو ځکه به یې څه په توان نه وي. او ښایي طالبان هم همداسې وي.

امیراین د ډوډۍ په یوې ګولۍ پسې یو څه غوښه خولې ته پورته کړه. امیراین ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ځمکې ځای نه ورکاوه. هغه له کرزي او په کوټه کې له ناستو قومي مشرانو څخه د بهر وتو اجازه واخیسته. کرزي مشرانو ته وویل چې باید خپل خلک سره ټول او منسجم کړي. امیراین خپلو دوولسو کمانډو کسانو ته ورغی او هغوی ته یې هر څه په ډاګه وویل، پرې نه ښودل چې څه ووایي، د اړیکو مسوول ته یې وویل باید اړیکه ونیسي چې طالبان د اروزګان پر لور په ساعتونو کې رارسېدونکي دي.

سید لومړی کس و چې د طالبانو پر وړاندې و دربېد. هغه له څوارلسو نورو کسانو سره د ترینکوټ په شمال خیتځه سیمه کې ناست و. کله چې یې د طالبانو د راتګ واورېدل، هغوی د تعلیم او تربیې له ریاسته موټر بوتلل او مخته ولاړل. سید لا نه و خبر چې د طالبانو څومره لویه ډله را روانه وه. له روژه ماتي وروسته یې د ماښام لمونځونه وکړل، او د کوټې تر شاه یې ستراتیژیک موقیعتونه ونیول. هغوی وېښ او چمتو وو. د طالبانو ډله را ورسېده، له لرې یې په لوډسپکرو کې د (الله اکبر) غږونه کول. دې غږونو په غرونو کې ازانګه کوله. غږونه ډېر لوړ وو، سید درک کړل چې طالبان ډېر وو، نو ځکه یې ماتې نه شوی ورکولی. غږې یې بیا هم ونه تښتېدل، خپل ټوپک په لاس د غره لور ته ولاړ.

شپږې نه وې تېرې چې امریکایي جیټ الوتکې ترینکوټ ښار ته راورسېدې، هغوی له امیراین او د خپل لومړی لیکې له کمانډو سره په تماس کې وې، ټول پوه وو چې د طالبانو لویه ډله د کندهار څخه د ترینکوټ پر لور راروانه وه. امیراین چې دېرش کلن و، اپلټې ویلې، هغه په حال کې نه و، حالات ورباندې سخت و، هغه ګرم ځکه نه و، چې دا ډول خطرناک حالات ورته د زغم وړ نه و، او باید غبرګون یې ښوولی وای.

امیراین کرزي ته ورغی او له هغه یې وپوښتل چې کسان یې چېرې دي. له هغه سره یوازې دوولس امریکایي کمانډو وو، غوښتل یې له اروزګانیانو سره په ملګرتیا طالبانو ته ماتې ورکړي. کله چې یې د کرزي کسان د ودانۍ بهر سره ټول کړل، یوازې دېرش کسان برابر شول، چې کفایت یې نه کاوه. دا امریکایانو ته جوته وه



چې کرزي په خپلو خلکو کې دومره توان نه لاره چې ملېشه جوړه کړي. اوس نور وخت نه و، د کرزي کسان په موټر کې واچول شول او له امریکایانو سره یو ځای روان شول. هغوی د سهار په څلور بجې له ترینکوټ بهر ووتل او کرزی په ښار کې پاتې شو.

هغوی له ښاره وتلي یوې هوارې سطحې ته ووتل. امیراین غوښتل له هغه ځایه دوښمن وګوري چې څومره ځواکمن دی. هر چا د طالبانو د راتګ د لارې په اړه بېل نظر لاره. چا به ویل سیده پر سړک را روان دي، چا به ویل په کلیو کې تېرېږي، چا به ویل په غره را اوړي. امیراین وویل:"سیمه تر څار لاندې ونیسئ."

وروسته له کمانډو څخه یوه یې دوړې ولیدې او خپل قومندان ته یې ور پام کړ، هغه چې وکتل ویې لیدل ډېر باېیپورونه، جیپ، او نور موټرونه په خلکو او وسلو بار چې د ټانک ضد راکټونه هم ورسره وو، د ترینکوټ د ښار پر لور را روان وو.

د اړیکو مسوول (یوشیتا) یوه وړه اله په لاس کې واخیسته چې د افغانستان په جګړه کې ځانګړې وه. دا لیزر لرونکې اله وه چې د پلیو کمانډو له لوري پر هغه سیمه لوېدله چېرې یې چې غوښتل الوتکې بمبار وکړي. یانې په ټوله کې یې الوتکو ته د بمونو غورځولو موقیعت په ګوته کاوه. دا مهال د اسمان مخ ټول جیټ الوتکو نیولی و. د ګوتو په شمېر امریکایان د افغانانو په منځ کې وو، افغانان اندېښمن وو چې څه به پېښ شي. (یوشیتا) د طالبانو له موټرو څخه په لومړیو یې لیزر ولګاوه، د الوتکو نښه برابره شوه او پیلوټانو بمونه پرې راګوزار کړل. لومړی بم خطا ولاړ. د سهار پنځه بجې کېدونکې وې، لمر په ختو و. د امیراین پر شاوخوا ولاړ افغانان مایوسه وو. بل بم یې ګوزار کړ، شپږې وروسته د اسمان مخ یو ځل بیا الوتکو ونیو، یو په بل پسې بمونه یې د طالبانو پر ډله ییز کاروان وغورځول.

امیراین هله هېښ شو چې ویې لیدل دافغانانو ملګرو توجه بمبارۍ جلب نه کړای شوه. هغوی پښېماني احساسوله، او خپلو پښو ته یې کتل. نه یې غوښتل نور څه وکړي، یوازې غوښتل یې چې له دې ځایه ولاړ شي. دا ډول جګړه یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه لیدلې. بې شمېره طالبان يې پر لور را روان وو، او هغوی له ځلوېښتو اضافه نه وو. فکر يې کاوه چې له دې سره به لوبه پای ته ونه رسېږي. امیراین وکتل چې شاوخوا کسانو ورته نېغ کتل. هغوی د جګړې ډګر ته کوم کسان داخل نه کړل، او نه يې هم د امریکایانو د جګړې او هوايي بمبارۍ د اغېز په اړه کوم نظر لاره.

د کرزي له کسانو څخه یوه زاړه يې امیراین ته وویل:" موږ به يې ونه ګټو." د امیراین سر هم نه ورسره خلاصېده، تر څو سره پوه شي، افغانان ترې روان شول، هغوی خپل موټرونه چالان کړل، امیراین ته د ترینګ یوه برخه ور یاده شوه چې د موټر کلي باید له ځان سره وساتي. اوس هغه هم باید تللی وای، دا ورته کوم ځانګړی انتخاب نه و چې له دوولس کماندو کسانو سره دې دلته پاتې شي. بمباري لا روانه وه. هغه له خپلو کماندو کسانو سره د موټر باډۍ ته پورته شو. هغوی بېرته ترینکوټ ته ولاړل.

نور د امیراین له لوري د دفاع په برخه کې څه نه و پاتې. کله چې الوتکو ته دلیزر نښان نور نه ورکول کېده، الوتکو هم بمباري بنده کړه. وروسته امیراین او ملګرو يې له راډیو واورېدل چې ترینکوټ ته پر لار پاکستانیان، عرب او نور بهرني جنګیالي وو. دا مهال ټول افغان طالبان خپلو کلیو او کورونو ته تللي وو، هغوی ټول تسلیم شوي وو، خو بهرنیو جنګیالیو لا ځکه جګړه کوله چې تر مرګه يې په هره ممکنه توګه ورانی پېښاوه. که پر دې بهرنیو جنګیالیو هوايي برید نه وای شوی، نو نن به يې په ترینکوټ کې ډېرې وینې بهولې وای.

کله چې د ولایت مقام ته ننوتل، هر څه سم وو. هېچا هم د تېرې پېښې په اړه فکر نه کاوه. امیراین د کرزي کوټې ته ورغی او هغه ته يې د پېښې په اړه وویل. کرزی په غوسه شو، او کسانو ته يې وویل:"دا هغه څه نه و چې موږ پرې هوکړه کړې وه." کرزی او کسان يې په شخړه بوخت وو. د کرزي له تندو خبرو وروسته بیا هم افغانانو بل انتخاب نه لاره. هغوی له امیراین سره یو ځای بېرته هماغه ځای ته روان شول. خو هغوی لا له ښاره وتي نه و چې امیراین ته پته ولګېده



چې طالبان له ښاره درې کیلومتره لرې وو. امیراین او د کماندو د اړیکو مسوول یو ځل بیا له پیلوټانو سره اړیکې ټینګې کړې، هغوی ته يې ځایونه په نښه کړل، او له افغانانو سره یو ځای منسجم شول. ترینکوټ ته په لار کې پروت تنګي باندې سخت بمونه یو پر بل پسې وغورځول شول. د اسمان لور ته لوګی پورته کېده. هوايي بمبارۍ ساعتونه اوږدې شوې، (یوشیتا)د خپل لیزر پر مټ الوتکو ته موټرونه په نښه کول، او هغوی پرې بمونه غورځول. په سلګونو طالبان و وژل شول، او د ورځې تر نیمايي يې جګړه بایلوله.

له بمباریو لس طالبان په خپلو ټویوټا موټرونو کې ښار ته راورسېدل، هغوی غوښتل له بمبارۍ وتښتي، خو دا ځل په ښار ور کښېوتل، دلته پیلوټانو هم سم هدف نه شو په نښه کولای، ځکه د ترینکوټ ډېر عام خلک بهر راوتي وو. په دې جګړه کې دوولس ملکي کسان و وژل شول. په هماغه ورځ په میراباد کې چې د ترینکوټ شمال ختیځ لور ته پرته سیمه ده هم سخته جګړه وشوه، دې سیمې ته له ترینکوټ څخه طالبان تښتېدلي وو. کرزي له روزي خان څخه مرسته وغوښته، هغه راغی له طالبانو سره يې په  نچین کې جګړه وکړه، په پایله کې طالبانو ماتې وخوړه، د روزي خان هم پکې یو کس و وژل شو.

کله چې د امیراین زړه تکیه شو چې نوره د ترینکوټ ښار جګړه پای ته ورسېده د ښار په منځ کې يې د ډزو غږونه تر غوږ شول. هغه فکر کاوه چې یو ځل بیا طالبانو جګړه پیل کړه. وروسته معلومه شوه چې هغه د بریا د خوښۍ ډزې وې. امیراین خندل، کرزي ته ورغی او ورته ویې ویل:"ډزې دې نه کوي، ګولۍ به يې په ښه راشي." کرزي د ډزو د بندېدو امر وکړ، له دې سره هغه کسان چې خپل سرې ډزې يې کړې وې هم ونیول شول.

د قومندانۍ د خټینو دېوالونو په حریم کماندویان د دېوالونو څنګ ته پراته وو. افغانانو ورته نورې کمپلې هم ورکړې وې چې تر ځانونو يې لاندې کړي، ځکه ځمکه ډېره سړه وه. د ودانۍ پر سر دوه انټنونه ولاړ وو، هغوی ته لپټاپ کمپیوټرونه هم تړلي وو، نوې وسلې او تجهیزات هم د افغانانو په واک کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول شول. چورلکو تجهیزات او غذایي توکې راوړل. کمانډو کسان د افغانانو ترڅنګ فعال وو، هغوی د امریکا لپاره لویه جګړه نښلولې وه.
امیراین، کرزی او قومي مشرانو یو ځل بیا سره را ټول شول. کمانډو کسان په ترینکوټ کې وو، کرزی ژوندی و، او د ترینکوټ واک یې په لاس کې اخیستی و. له جګړې څو ساعته وروسته ډېر قومي مشران پر کرزي ور ټول شول، هغوی نور د طالبانو ملاتړ نه کاوه، غوښتل یې د کرزي شا ونیسي. امیراین کتل چې قومي مشران پر کرزي تاو شوي وو، یو پکې تور ټیټ سړی و، د امیراین په وینا چې هغه دوستانه نه ښکارېده. هغه امیراین ته مخامخ ناست و، او په هغه کې یې سترګې ښخې کړې وې. امریکایانو د نارامۍ احساس کاوه. امیراین له کرزي وپوښتل چې دا کس څوک و؟ هغه په ځواب کې ورته وویل:"دا یو طالب جنګیالی دی، هغه هر څه له لاسه ورکړي." امیراین ولاړ شو او د خپل پتلون تر شا یې تومانچې ته لاس کړ، هغه ولاړ هغه کس یې پر شا په ناز په څاپېره وواهه، له دې سره یې وخندل او ترمنځ یې زړه بدی لرې شو.
قومي مشرانو کرزي ته وویل چې د هغه کړنه ډېره په زړه پورې او نه تصور کېدونکې وه. د کرزي پر شاوخوا د قومي مشرانو شتون د روژې په مبارکه میاشت کې په خوښۍ واوښت. اندېښنې، تشویش او د ناامنۍ ډار یې له ځانونو لرې کړ. اوس یې داسې ملګري لرل چې د طالبانو پر وړاندې یې جګړه کولای شوی، هغه ملګري چې هم یې وسلې لرلې، هم یې الوتکې،هم غذایي توکي او تجهیزات لرل. هغوی په امریکایي وسلو په اتیایمه لسیزه کې هم د روسانو پر وړاندې جګړه کړې وه، خو اوس هر څه بدل شوي وو. که څه هم په لومړیو کې جګړه د هوا له لارې وه، افغانان د الوتکو د پر وخت جګړې او را رسېدو متاثره کړې وو. افغانانو به ویل چې امریکایان هر ځای ویشتلای شي، هغوی هر ډول جګړه کولای شي.
وروسته پته ولګېده چې د شمال له لوري تر جګړې او بمبارۍ وروسته د جنوب له لوري هم د ترینکوټ ښار ته طالبان پر لار وو، هغوی غوښتل چې ښار ته



ننوځي، خو دا ځل یې د تېر په پرتله ډله وړه وه. کرزی د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې په اړه وارخطا و. هغه امیراین ته وویل دا ځل له خپل قوت څخه کار واخله چې ملکي کسان پکې ونه وژل شي. پر دې سربېره د امریکایانو ورځینو بمباریو او هوایي عملیاتو جریان لاره. د کندهار او ترینکوټ پر لویه لار په سلګونو طالبان و وژل شول.
کرزي له خپلو خلکو سره په خپل تلیفون اړیکې ټینګولې. یوه شبهه به یې د طالبانو د کوم کس سره د مذاکرې خبرې کولې، بل ځل به د شمالي ټلوالې سره په تماس کې و، او کله به یې له خپل ورور احمدولي سره هم خبرې کولې. هغه ته به ډېر خلک ور تلل. یوه ځایي کروندګر ترې د یو خره غوښتنه کړې وه تر څو یې ورسره په مقاومت کې ونډه اخیستې وای. کرزي له دې ډول چارو سمبالولو څخه خوند اخیست. کرزي به سترګه هم وهله، امیراین ته به یې د خلکو خبرې ژباړلې، هغه ته به یې ډېر خوند ور کاوه. دا ورته یو نندارځای جوړ شوی و. کرزي به هر کله غږ کاوه چې جګړه دې پای ته ورسېږي.
کله چې امیراین او ملګرو یې لومړۍ جګړه پای ته ورسوله، خبر ورته راغی چې د اروزګان مقاومت د بوش لپاره ډېر اړین کار و، هغه دا کار په لومړیتوبونو کې نیولی و. امیراین ته به د دې عملیاتو وروسته رتبه هم ور کول کېږي. دې سیمې ته به د درېیمې لیکې کمانډو هم راځي چې پکې به د لومړیو لیکو د درېیو ډلو درې افسران هم وي. له دې افسرانو څخه یو یې د ډاوېډ فوکس په نوم به د امیراین د دندې د همغږۍ چارې پر مخ وړي. دا افسر به په عین وخت کې د لومړۍ لیکې د کمانډو د یوې بلې ډلې مشري هم په غاړه ولري چې په دې وروستیو کې د کرزي له سیال ګل اغا شیرزي سره یو ځای شوي وه. دا ډله د سویل ختیځو سیمو څخه د کندهار پر لور روانه وه. دا مهال په سویل کې کرزی یوائځنی ملاتړ کوونکی مشر نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

## په بُن کنفرانس کې ناڅاپي غږ

د درېیمې لیکې کماندو کسان چې کله ترینکوټ ته راورسېدل د امیراین لاسته راوړنې یې خوښې شوې. یو افسر پکې (میجور ډونالډ بولډوک) و، هغه د لوکونیا، نیو هامپایر سیمې د یو ښاروال زوی و. دې سرتېري چې ټیټه ونه یې وه، له ځان سره وویل دا هماغه ځای دی چې باید پکې خپله دنده پیل کړم. هغه د خپلو دوو نورو ورونو په څېر له کلونو د امریکا په پوځ کې کار کوي، خو دا ځل یې دلته دنده له نورو سره توپیر لري. د ډېرو تجربه لرونکو سرتېرو لپاره هم دا دنده پېچلې وه. د درېیمې لیکې کماندو د شمالي افغانستان د جګړې په اړه معلومات لرل، خو د سویلي سیمو په اړه یې معلومات نه لرل. هغوی په کویټه کې هڅه کوله چې په کندهار کې د طالبانو د ځواک اصلي انځور ځان ته معلوم کړي. د کرزي نوم هم ورته اړین نه ښکارېده، تر هغه چې سي ای اې بیا ورته د کرزي په اړه معلومات ورکړل. دنده ورته ستونزمنه وه، له لږو استخباراتي معلوماتو سره یې کار پیل کړ.

له دې وړاندې چې د درېیمې لیکې کماندو اروزګان ته ولاړ شي، هغوی د پاکستان د کویټې ښار ختیځ لور ته د امریکایانو په یوه محفوظه هوایي نظامي اډه کې وو. غوښتل یې وختې ولاړ شي، خو خرابه هوا یې پر وړاندې لوی خنډ شوې وه. کله چې د افغانستان خاورې ته دننه شول، د طالبانو د ځواک په اړه ورته معلومات وشول. په شمال کې د طالبانو ځواک له سقوط سره مخ شوی و، خو په سویل کې لا هغوی ځواکمن وو. د درېیمې لیکې د کماندو پر چورلکو



برید شوی و. بوبلډوک د راکټونو برید خپله لیدلی و. الوتکو د برید څخه په مهارت ځانونه ساتل او تر هدفه لا نه و رسېدلي چې بولډوک د سپرۍ چورلکه له تخنیکي ستونزې سره مخ شوې وه. د الوتکې ستونزه د تېلو د څڅېدو وه. هغوی په ستونزه کې وو، او دا ستونزه ورته ځکه لویه وه چې له بل لوري د طالبانو تر برید لاندې وو. د پیلوټ په خوښه یې د ترینکوټ پر لور په لار کې په یوه لوړه سطحه ښکته ناسته کړې وه. بولډوک له ځان سره جي پي ایس اله هم لرله، هغه اله یې په فعاله کړه او ژر تر ژره یې غوښتل له دې ځایه ولاړ شي. تیاره وه، هغوی په لومړي سر کې څه نه لیدل، وروسته یې له لرې د موټرونو څراغونه تر سترګو شوي وو، هغه موټرونه چې پکې افغان ملګري وو، مخامخ د امیراین د اوسېدو ودانۍ ته تللي وو.

د درېیمي لیکې له کماندو سره اضافي شیان نه وو، ورسره جامې، د اړتیا وړ څېزونه او تجهیزات وو، له هغوی سره( ۲۵۰۰۰۰ )امریکایې ډالر هم و. دا پیسې له کوم حساب کتابه پرته باید لګول شوې وای، دوی کولی شول چې په خپله خوښه دا پیسې ولګوي.

کله چې بولډوک د امیراین د اوسېدو ودانۍ ته ننوت، هغه په بېړه له خولې یو غږ ووت:"زما خدایه!" په دې ځای کې نه اوبه وې، نه برېښنا او نه هم نورې د ژوند اسانتیا وې.کړکیو ته پلاسیک ورکړل شوی و. بولډوک د جوړدن له صحرا راغلی و، هلته ورته په محرمه توګه روزنه ورکول شوې وه. هلته یې په خیمو کې ورځې تېرې کړې وې، خو له دې ځای څخه هغه خیمې ډېرې مستریح وې.

کله چې د درېیمې لیکې کماندو د کرزي کلا ته راورسېدل لا هم د ترینکوټ د وروستۍ بریا څخه وروسته د کرزي لیدو ته قومي مشران او ولسي خلک راتلل. بولډوک ټول هغه ولسي خلک ولیدل چې د طالبانو په څېر ښکارېدل، خو په اصل کې طالبان نه وو. ځینې داسې خلک هم وو چې د رژیمونو سره خپل دریځ هم بدلوي، بولډوک له وړاندې داسې څه نه و لیدلي چې خلک د رژیمونو په بدلیدو سره خپلو دریځونو ته هم بدلون ورکوي. دې کار هغه ووېراوه. تېره ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کسان طالبان وو، نن بیا د کرزي تر شا وخوا را ټول او د کرزي ملاتړي وو. سبا به څه کېږي؟ هغه به په چا باور وکړي؟ ټول قومي مشران، کروندګر، او پخواني طالبان اوس د هغه سره په یوه ودانۍ کې را ټول شوي وو. د ژبې او کولتوري توپیرونو له کبله بولډوک نه توانېده چې په ودانۍ کې روانه ګڼه ګوڼه خاموشه کړي. د هغه د روزنې کومې برخې له دې ډول چارو سره اړخ نه لګاوه.

یو سهار د پنځه سوه کسانو په شاوخوا کې د امیراین د اوسېدو د ودانۍ ترمخې ټول شوي وو، بولډوک یې په لیدو هېښ شو. ژباړن ورته ویلي و چې باید اندېښمن نه شي، ځکه دا کسان اوس له هغوی سره وو. هغه وخندل او ورغی، په حویلۍ کې هغه د پخلنځي ترمخې ولاړ و. لوبې افغاني ډوډۍ او پاخه چرګان یې خوراک وو. دا ځل بولډوک هڅه وکړه چې ولسي خلکو ته د امریکایانو د فعالیتونو په اړه وواییي. یو کس چې په اصل کې د دهراوت و، هغه په نیمه ګوډه انګریزي پوهېده، له بولډوک سره یې په ژباړه کې همکاري کوله:"موږ دلته راغلي یو چې ستاسې له یوه مشر حامد کرزي سره همکاري وکړو. موږ غواړو طالبانو ته ماتې ورکړو، او په دې چاره کې ستاسې همکاري اړینه ده." خلکو ورته په مینه غوږ اېښی و، هغه پوه شو چې له خلکو سره یې اړیکه ټینګه شوه. هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ:"اوس باید په لومړیو کې تاسې ته ډوډۍ درکړو، تر څو مو ګېډې مړې شي. تاسې خپل د نومونو لېست ونیسئ، او تاسې به ځینې توکي تر لاسه کړئ. تاسې ته به وسلې هم درکول شي، تاسې خپلې وسلې هم وګورئ، بیا به له موږ سره د سرتېرو په توګه کار وکړئ."

د افغانانو او امریکایانو ترمنځ به خبرې او اړیکې په خوښۍ ترسره کېدې. د افغانانو نومونه یادول ورته ستونزمن وو. نو ځکه یې په نورو نومونو یادول. یوه ته به یې ایلویس، بل ته به یې د لوژستیک مسوول، بل ته به یې افسر او نور داسې نومونه کارول. ګریګ چې د سي ای اې مامور و، نوم یې افغانانو ته اسان و، که څه هم ځینو ورته کریک، ځینو ورته ګرایګ نور ډول ډول تلفظونه جوړول، بیا هم ټولو ته اسان و. له ولسي خلکو څخه یوه پوښتنه تري وکړه چې هغه غواړي له



کوم قوم څخه اوسي، هغه ورته وویل چې غواړي یو حقیقي پوپلزی واوسي، د هغه په شاوخوا کې ناستو ټولو خلکو په لوړ غږ او خندا سره هغه بدرګه کړ. ټولو ته د هغه دې ټوکې خوند ورکړ. ګریګ به هره ورځ له افغانانو سره ورځنی روغبړ په دې توګه کاوه:"ته څنګه یې؟" او په مقابل کې به یې په ځواب نه پوهېده، ټولو ولسي خلکو به پرې خندل.

له ترینکوټه بهر د هغو هېوادونو په پلازمینو کې چې په افغانستان کې ښکېل وو، د افغانستان د راتلونکي په اړه به ډیپلوماټانو طرحې جوړولې. تر هغه وروسته چې کابل سقوط وکړ، پرېکړه وشوه چې د ملګرو ملتونو له لوري به یو کنفرانس جوړ شي چې پکې ټولې افغان مخالفې ډلې ګډون وکړي. په دې کنفرانس کې به د سیمې هېوادونه او نور لوبغاړي هېوادونه هم ښکېل وي، لکه پاکستان، ایران او روسیه. تر دې وړاندې چې د افغانستان د ستونزې په اړه وغږېږي، د کنفرانس د ځای په اړه مشورې روانې وې. په سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو کې ځکه کنفرانس دایر نه شو، چې هغوی د طالبانو ملاتړ کړی و. د ملګرو ملتونو ډیپلوماټانو د برلین ښار خوښ کړ، خو هغه ځکه ونه ټاکل شو چې پکې د رسنیو ګڼه ګوڼه ډېره وه. بالاخره د جرمني د بون په ښار کې د (کونیګزوینټر) ښارګوټی د دې کنفرانس لپاره وټاکل شو. د ښکلي هوټل مشر ته وویل شول چې ټولې کوټې خوشې کړي، او د افغانستان د مهم کنفرانس لپاره چې په نومبر کې به دایر شي، چمتوالی ونیسي.

نړیوالې ټولنې غوښتل په کابل کې روان هرج و مرج څومره چې ژر ممکنه وي پای ته ورسوي. شمال ټلواله له وړاندې د امریکایي او نړیوالو ځواکونو له حضور پرته کابل ته ننوتې وه، کابل ښار په هرج و مرج کې راګېر و. رسنیو د ټلوالې سرتېري چې په خپلو موټرو کې به د ښار په کوڅو کې ګرځېدل، ښکاره کول. په عین حال کې په کابل ښار کې چور او چپاول روان و، قتلونه کېدل، تر ډېره یې قربانیان عربان او پاکستانیان وو. دا کار د نړیوالې ټولنې د اندېښنې وړ و. جګړه د یو بې هدفه حرکت په توګه روانه وه. شمالي ټلوالې یوازې د پخواني ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباني په خوښه کړنې تر سره کولې. هغه د طالبانو د واکمنۍ څخه وړاندې د افغانستان ولسمشر و، فکر یې کاوه چې تر اوسه د افغانستان رسمي ولسمشر و. طالبان د نړیوالو له لوري په رسمیت نه وو پېژندل شوي، ځکه نو رباني لا رهبر و، که څه هم واک یې یوازې تر پاڼو محدود و. د طالبانو تر سقوط وروسته رباني کابل ښار ته ځان ورساوه، هغه غوښتل په ولسمشرۍ ماڼۍ کې پاتې شي. رباني چې په خټه تاجک و، په کابل کې ورسره ډېر خلک خوښ نه وو. نور اقوام د پښتنو او هزاره وو په څېر وېره لرله چې د روسانو تر ماتې او د کمونیست رژیم تر نړېدو وروسته چې څه پېښ شول هغه بیا پېښ نه شي. هاغه وخت همداسې هر ډول ملېشه ځواکونه کابل ښار ته ننوتل او له دې سره هرج مرج پیل شو چې پایله یې د کورنۍ جګړې پیل و. نړیوالې ټولنې له شمالي ټلوالې غوښتنه کړې وه چې کابل ته یوازې داخل نه شي. خو بیا هم د واک غوښتنه او د طالبانو تر سقوط وروسته د واک تشه ډکولو ته یې ځانونه ور وړاندې کړل.

د جرمني  د بُن کنفرانس پرېکړه د یو موقت حکومت پر جوړولو صلاح شوه چې په پایله کې به یې ازادو ټاکنو ته لار هواره شي او انتخابي حکومت به رامنځ ته شي. د نړیوالو ځواکونو د شتون غوښتنه هم کېده چې د کابل امنیت وساتلی شي. دکنفرانس ډېر تمرکز پدې و چې څوک به د موقتې ادارې رییس ګمار کېږي.

د سپټمبر تر ۱۱مې ډېر وړاندې هم ملګرو ملتونو له طالبانو وروسته افغانستان په پلان کار کاوه. په ۲۰۰۰زکال کې پر امریکایي بېړۍ(USS Cole) باندې د القاعدې تر برید وروسته، ملګرو ملتونو وپتېیله چې د افغانستان په لانجه کې د امریکایانو مداخله کېدونکې وه. دا اټکل هغه وخت نور هم ټینګ شو چې د یونسکو له لوري ساتل شوې د بودا مجسمه په بامیان کې ورانه شوه. د ملګرو ملتونو لوړ رتبه مامورینو وېره لرله که امریکا د افغانستان په لانجه کې مداخله وکړي، نو ښایي هغوی د شمالي تلوالې څنګ ټینګ کړي او یوازې د هغوی په ملګرتیا تکیه وکړي. ملګرو ملتونو له شمالي ټلوالې سره په دې برخه کې کار کول او یوازې پرې تکیه کولو فرصت تنګ ولید، هغوی پوهېدل چې لوی اکثریت



پښتانه به د راتلونکو چارو استازیتوب وکړای شي. دا چې پښتنو د طالبانو ملاتړ کاوه، او طالبانو هم باید ماتې لیدلې وای، په دې برخه کې د پښتني مشرانو ملاتړ او د طالبانو پر ضد ودرېدو ته اړتیا وه.

ملګرو ملتونو د روم ډلې ته هم پام کړی و، دا ډله د پخواني باچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ملګري وو، هغوی له ۱۹۷۳زکال را پدېخوا د ایټالیې په پلازمینه روم کې اوسېدل. له ډېرو کلونو په افغانستان کې نه و اوسېدلي. غوښتل یې چې اعلیحضرت بېرته افغانستان ته ولاړ شي او هلته په واک کې راشي، له دې سره به دا کسان هم په لوړو څوکیو ګمارل شوي وای. تر هغې وروسته چې شمالي ټلواله یې په مخالفت کې و دریدله، د افغانستان لپاره د یو مناسب مشر د ګمارلو لپاره پوښتنه بې ځوابه پاتې شوه.

امریکایانو پر هغو کسانو چې د شاه تر شاوخوا ټول شوي وو، او ډېر وخت له هېواده بهر پاتې وو، باور نه لاره. هغوی یې نه غوښتل چې واک ته ورسیږي، په تېره بیا هغه مهال چې شمالي ټلوالې د شاه بېرته هېواد ته تګ ویټو او رد کړ. تر ډېرو ډیپلوماتیکو مشورو وروسته امریکایانو پر کرزي لاس کېښود. په افغانستان کې د طالبانو ضد تر ټولو لویې ډلې –شمالي ټلوالې له وړاندې له کرزي سره د طالبانو ضد مقاومت په اړه خبرې کړې وې. دا هم له وړاندې څرګنده وه چې کرزی د پاکستان او ایران لپاره ستونزمن کس نه و.

نړیوالې ټولنې له وړاندې پر کرزي غور کړی و او هغه یې د موقتې ادارې د ریاست لپاره د نوماند په لېست کې له ځان سره لاره. په کابل کې د برتانیې سفیر بي بي سي ته د کرزي نوم ښودلی و، او امریکایانو هم د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخضر ابراهیمي ته ویلي و چې کرزی د موقتې ادارې د رییس په توګه یو مناسب کس و. په دې کنفرانس کې د امریکا ځانګړي استازي جیمز ډابنز ویل چې د کرزي بدیل شتون نه لاره او هغه د افغانستان ګاونډیانو، ایران، پاکستان او روسیې ته هم منلی شخص و.

په کنفرانس کې د طالبانو پر وړاندې حقیقي مخالفینو چې په دې برخه کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزه کړې وه د پښتون ولسمشر سره څکه مخالفت وښود چې ګني د تاجکو، ازبيکو او هزاره وو لپاره يې تضمين ته اړتيا احساسوله. څکه نو له کنفرانس څخه يوه اوونۍ وړاندې ملګرو ملتونو د شمالي ټلوالې لپاره په موقته اداره کې ډېرې د وزارت څوکۍ منلې وې. د شمالي ټلوالې مشر احمدشاه مسعود د سپټمبر له ۱۱مې لږ وړاندې وژل شوی و. د هغه ځای ناستی جنرال فهيم به په موقته اداره کې د دفاع د وزير په څوکۍ ګمارل کېږي. د داخلې وزير يونس قانوني او د بهرنيو چارو وزير عبدالله عبدالله ګمارل شوي وو. عبدالله او قانوني په شمالي ټلواله کې مهمې څېرې وې.

په دې ډيپلوماتيکو هڅو کې د روم د ډلې اراده ونه لوښېدله، که څه هم د افغانستان د راتلونکي لپاره د اعليحضرت محمد ظاهرشاه لپاره ځانګړی رول په پام کې نيول شوی و، د روم په ډله کې هم د ولسمشرۍ د څوکۍ لپاره د ازبيک عبدالستار سيرت په څېر نوماندان وو، د اعليحضرت د واکمنۍ پر مهال ستار سيرت تر ټولو ځوان وزير و، او اوس اعليحضرت ته تر ټولو منلی او نږدې کس و. امين ارسلا چې د اعليحضرت د واکمنۍ پر مهال د ماليې وزير و، له طالبانو وروسته په موقته اداره کې د لوړې څوکۍ په لټه کې و. هغوی په سختو خبرو بوخت و، خو په پايله کې ورسره هېڅ هم ونه شول. دواړو مشرانو د هغوی پر وړاندې د ملګرو ملتونو او امريکا دريځ يو سپکاوی وباله، او بيا يې هم د کرزي پر وړاندې خپلو سياسي هڅو ته ادامه ورکړه.

کرزي په دې کنفرانس کې ګډون ونه کړای شو، هغه وروسته وويل چې هيله يې لرله چې پکې ګډون وکړي، خو په عين وخت کې يې نه شوای کولای. ځينو ډيپلوماټانو په ښېړه دهغه د نه شتون په اړه پوښتنې پيل کړې:"هغه يو ډيپلوماټ دی، هغه پدې ډول کنفرانسونو کې ډېر ګډون کړی، هغه ولې نشته؟" راتلونکی رهبر په اروزګان کې و، او هغه د تګ هېڅ پلان نه لاره. د هغه نه شتون ورته ستونزه نه پېښوله، څکه هغه په دې کنفرانس کې ملاتړي لرل. د کنفرانس تر پيل وړاندې مانښام هغه ته د کنفرانس د يوه ګډونوال له لوري اړيکه نيول شوې



وه. هغه کرزي ته ويلي و چې ښايي کرزی به په پام کې وي.

تر دې وړاندې چې په پترزبرګ کې کنفرانس پيل شي، د روم ډلې ځينې نيوکې لرلې. د ملګرو ملتونو استازي ابراهيمي د روم د ډلې له مشر ستار سيرت سره وکتل. ستار سيرت له الجزاير الاصله ابراهيمي سره په عربي ژبه خبرې کولې، هغه شکايت وکړ چې د شمالي ټلوالې څوکۍ په بُن کنفرانس کې زياتې وې، او د روم د ډلې څوکۍ کمې. ابراهيمي يې خبرې ته غاړه کېښوده، خو سيرت دا نيوکه هم لرله چې ګني ولې شمالي ټوالې ته درې کليدي وزارتونه ور کول شوي وو. سيرت وويل:"له دې سره ولسمشر ته هېڅ واک نه پاتېږي." ابراهيمي ورته ويل چې دا پرېکړه نه بدلېدونکې وه. سيرت يې خبره ومنله او ژمنه يې وکړله چې له هغوی سره به د موقتې ادارې د رييس په انتخاب کې همکاري وکړي.

ستار سيرت وويل:"زه بايد پښتون واوسم؟" دا خبره يې هغه مهال وکړه چې د ابراهيمي خبرې د ولسمشر په اړه وشوې، ستار سيرت ازبيک و، ورته جوته شوه چې د هغه د رييس کېدو فرصت کم و. سيرت وويل:"ته څنګه دا خبره کوې، او څوک دا پښتون په څوکۍ ګماري؟" ابراهيمي په ځواب کې ورته وويل:"کرزی يادوم، هغه ستاسې ملګری دی." سيرت خبره پسې ور غبرګه کړه:"هغه زموږ ملګری نه دی، او د روم ډلې هغه نه دی خوښ." د سيرت په اند چې د کرزي پلار يو رښتينی مشر و. د هغوی ملګری و، او د سيرت ياد دي چې د کرزي پلار په سويل کې ډېر پوپلزي ملاتړي لرل. خو د هغه له زوی (کرزی) سره د سيرت نه وه جوړه. دې کس هغه څه کول چې زړه يې غوښتل، هغه ابراهيمي ته وويل:"موږ دلته د څه لپاره يو؟ داسې ښکاري چې زموږ ارادې په دې انتخاب کې نشته."

پدې کنفرانس کې پر نوي رهبری، ملي نظامي ځواک، او د اساسي قانون پر مسودې پرېکړه کېده. کنفرانس د شپږو ورځو لپاره و، او بايد په همدې موده کې يې دا کارونه ترسره کړي وای. په کنفرانس کې چې د هوټل په يوه لوی تالار کې روان و، څلورو ډلو ګډون کړی و. د روم ډله، شمالي ټلواله، د پېښور ډله – (چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو يې له پاکستان سره لار وړله)، او د قبرس ډله چې له ايران سره يې ښې اړيکې وې. د کنفرانس ګډونوال نارينه او لږ ګډونوالې ميرمنې په يوه توافق ورسيدل. هغوی لاسونه سره ورکړل، رښتيني روغبړونه يې وکړل او د يوه ميز تر شا کښېناستل. دې کنفرانس ته طالبان نه وو، ورغوښتل شوي، شمالي ټلوالې چې په کنفرانس کې يې د نورو پښتنو ګډون نه غوښته، د طالبانو په ګډون بنديز ولګاوه.

کنفرانس د جرمني د بهرنيو چارو وزير (جوشيکا فيشر) په وينا پيل شو. هغه د غونډې ګډونوالو ته وويل چې کنفرانس په يوه اوونۍ کې تاريخي پرېکړه کوي چې هر څه به د مذاکراتو له لارې سمبالېږي، هغه هيله وښوده چې کنفرانس به ښه پايله ولري.

راتلوکې وينا د ملګرو ملتونو استازي لخضر ابراهيمي وکړه. هغه نړيوالې رسنۍ له کنفرانس څخه لرې ساتلې وې، نه يې غوښتل چې د رسنيو له کبله کنفرانس له ځنډ سره مخ شي. هغه په دې کنفرانس کې د لږو غيرې افغانانو شتون ته هم هرکلی ويلی و. امريکا د دې کار سره مخالفت وښود، ځکه هغوی د"افغانستان جګړه د ځان بلله" ابراهيمي هم په دې کنفرانس کې يوه اغېزمنه وينا وکړله چې په ترڅ کې يې هيله وښوده چې په جرمني کې يې دا برخليک ټاکونکې خبرې پايله ولري.

افغاني استازيو وروسته خبرې وکړې چې ټولو يې مثبتې خبرې وې. هر يوه اوږدې خبرې وکړې، او د هېواد په اړه يې خپل نظريات وړاندې کړل. هغوی د بهرنيانو له زيات شتون سره مخالفت کاوه، خو په کابل کې يې د نړيوالو ځواکونو شتون اړتيا بلله.

کله چې ټولو څلورو ډلو خبرې وکړې، يوه حيرانوونکې پېښه شوه. ابراهيمي د غونډې د مشر پر اوږه لاس کېښود او هغه يې وښوراوه، ورته ويې ويل که د لنډو خبرو وخت ورکړي. هغه اجازه ورکړه، هغه له شمالي ټلوالې سره و، پوهېده چې څه به پېښ شي. زوړ الجرايري ابراهيمي مايک ته ور ټيټ شو، ويې ويل:"يو بل



ځوک هم له افغانستان څخه له موږ سره خبرې کول غواړي." دې خبرې د کنفرانس ډېر ګډونوال حيران کړل. هغوی فکر کاوه چې ځوک به خبرې وکړې؟ يو دم د کرزي غږ کنفرانس ته له اروزګان څخه په ژوندۍ بڼه راورسېد.

د کرزي شپږ دقيقو خبرو د کنفرانس ګډوال هېښ کړل. هغه پر ځانګړيو مسايلو خبرې ونه کړې، په عمومي توګه يې هغه څه وويل، چې پکې د کنفرانس پر بريالي پای ته رسېدو او بيا وروسته په افغانستان کې د لويې جرګې په دايرېدو ټينګار شوی و. کرزي په کنفرانس کې ګډون نه لاره، خو د خپل سټلايټ تليفون له لارې يې په کنفرانس کې ګډون وکړ.

د کرزي د خبرو له پای ته رسېدو سره په کنفرانس خونه کې غږ لوړ شو، په ځانګړې توګه د روم ډله اندېښمنه شوه. د پوځ پخوانی مشر امين وردګ چې دنګه ونه يې وه غوښتل له کنفرانس څخه بهر ووځي، خو امين ارسلا پرې نه ښود چې بهر ووځي. امين له کرزي سره د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د امريکا د ملاتړ د جلبولو په موخه ګډ کار کړی و، خو د دواړو نظرونه سره مخالف وو. له اروزګان څخه دا غږ ورته حيرانوونکی و، امين ارسلا هم زړه بدی او اندېښمن شو. هغه د کرزي د پلار ښه ملګری و. هميشه به يې ورته ويل که يې د افغانستان د راتلونکي زعيم په اړه چا نظر غوښت هغه به ورته د ده ملاتړ کوي.

ستار د کرزي تر خبرو وروسته په غوسه و. هغه فکر کاوه چې دا يې د هغو خبرو تاييد و چې له وړاندې يې ابراهيمي ته ويلې وې. هغه داسې چې د روم ډله دې کنفرانس ته د هېڅ ډول رول لپاره نه ده راغوښتل شوې. هغه په دې هم باور نه لاره چې کرزی دې په اروزګان کې وي. ويل به يې چې دا هر څه ناسم روان دي. د کرزي خبرې په کنفرانس کې اړينې وې. په سبا يې ستار سيرت خپل لومړی مطبوعاتي کنفرانس ورکړ، هغه په خپلو خبرو کې د کرزي نوماندۍ ته هېڅ اشاره ونه کړه.

که څه هم په جرمني کې ډېرو دا باور نه لاره چې کرزی دې په ارزوګان کې و، خو په حقيقت کې هغه په همدې ولايت کې و. هغه دا مهال ډېر بوخت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې شپې به یې درې ساعته خوب کاوه. هغه پر تلیفون ډېرې خبرې کولې، او له ځایي خلکو سره یې ډېرې ناستې لرلې. غوښتل یې له یوه پیاوړي ځواک سره د طالبانو وروستي مرچل کندهار ته ولاړ شي. په ټول ولایت کې د هغه ملګرو او قومي مشرانو ته ویل شوي وو چې له هغه سره یو ځای شي. د ملګرو یوځای کېدل ورسره د تېرو اوونیو په پرتله اسان کار و. هغه ځینې پخواني طالبان هم استخدام کړي وو. دا کسان یې کندهار ته د تلو لپاره ساتلي وو. له کرزي سره د دې کسانو ملګرتیا د پناه په معنا وه، هغوی په دې کار سره په ترینکوټ کې خپل سرونه په امن کې غوښتل. هغه کسان چې له پخوا څخه له کرزي سره په اړیکه کې وو، او د هغه ملګرتیا یې کوله، د نویو کسانو په راتګ سره خوښ نه وو. هغوی به ویل چې دا کسان څو اوونۍ وړاندې چېرې و؟ کله چې به کرزي خپل پیغام وړونکی ور ولېږه، ډېر به له وېرې نږدې نه ورته راتلل. خو اوس هر څه بدل شوي و.

د کرزي ورور د نورو ولایتونو همغږي او تنظیم له کویټې څخه کنترولاوه. له کندهار پرته دا مهال د سویل ټول ولایتونه د کرزي په لاس کې وو، او د هغه د ډلې له لوري پکې واک تنظیمېده. د شوروي اتحاد د یرغل په اوږدو او د کورنۍ جګړې پر مهال د واک پر ګډې ناست کسان په فساد بوخت وو، خو ډېر ژر پرې وخت تېر شو. احمدولي هڅه وکړه هغه مشران چې د طالبانو له را پیدا کېدو سره له هېواده بهر وتلي وو، بېرته خپلو سیمو ته ولېږي. هغوی هم په خپل وار هڅه وکړه چې بېرته ملاتړ تر لاسه او پر خپلو پخوانیو څوکیو پاتې شي. په ارزوګان کې امریکایانو بېله کوم حساب کتابه خلکو ته پیسې ورکولې، احمدولي هم ډالر، پاکستانۍ کلدارې او تلیفونه خپلو ملاتړو ته ورکول، خو له امریکایانو سره یې توپیر دا و چې هر چا ته به یې څه ورکول نو هغه به یې له ځان سره یاددښت کول. له ځان سره به یې په کتابچه کې لیکلي و، چې دې کس ته مې ۱۰۰۰۰ امریکایي ډالر، بل ته ۸۰۰۰۰ او داسې نور لیکل.

شیر محمد اخندزاده هم یو مشر و چې د احمدولي سره یې شناخت لاره. په



پخوا کې د هغه پلار د هلمند والي و، خو د طالبانو د رژیم پر مهال و وژل شو. د سپټمبر له ۱۱مې وړاندې هم د شیر محمد اخندزاده له کرزي سره ملګرتیا وه، او له هغه سره به جوړه د امریکا سفارت ته د همکارۍ په موخه ورتلو. کله چې د امریکا پر دنګو ودانیو برید وشو، امریکا یې غوښتنه ومنله. د احمدولي په غوښتنه یې په هلمند کې فعالیت پیل کړ. کرزي پیسې ورکړې او هغه ته یې ویلي و که یې د امریکایانو مستقیمې همکارۍ ته اړتیا لرله هم شونې وه:"که دې امریکایانو ته اړتیا لرله، غږ کوه." ملا شیر محمد اخندزاده په خندا کې ورته وویل:"زه امریکایانو ته ضرورت نه لرم."هغه لومړی کجکي ته ولاړ او له هغه وروسته موسی کلا ته ننوت. همداسې بیا د هلمند مرکز لښکرګاه ته ولاړ. د طالبانو ځواک نور مات شو او هر څه یې دې کسانو ته پاتې شول.

د پښتنو له سیمو پرته طالبانو بل ځای ژوند نشو کولای. شمالي ټلواله او نورو جنګسالارانو عرب، پاکستانیان، او نور طالبان نیول. سي ای اې د هر القاعده پر سر پیسې د انعام په توګه ورکولې. هغوی به په ګوانټېنامو کې زنداني کېدل. طالبان هم له نویو چارواکو په تېښته وو. هغوی د هېواد په هره څنډه کې په تېښته وو او د پټېدو په ځای پسې ګرځېدل. هغوی پوهېدل چې شمالي ټلوالې ته تسلیمېدل یې په وژلو تمامېدل. هغوی ملګرو ملتونو او د سره صلیب نړیوالې کمیټې ته هم د تسلیمېدو زړه نه ښه کاوه. دې او نورو سازمانونو نه ورته ځای لاره او نه یې هم امکانات لرل چې دا کار ترسره کړي. د سره صلیب د سازمان یو استازی امریکا ته ولاړ چې د طالبانو د درملنې او پالنې په اړه خبرې وکړي، خو د امریکا پوځ یې خبرې ور رد کړې. د طالبانو رژیم چې د غرب ترې ډېره کرکه وه، همکارۍ ورسره چا نه کوله.

د ډېرو طالبانو لپاره د کرزي اړخ تر ټولو مصوون ځای ګڼل کېده. د طالبانو تسلیمېدو ته د کرزي لېوالتیا له هغه وروسته بدله شوه چې ملا داد الله تسلیم شو. هغه په یوه پښه ګوډ و، د طالبانو دا مخکښ قومندان ظالم هم و. هغه په اصل کې د څهار چینو اصلي اوسېدونکی و. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته هغه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمالي ټلوالې او امریکایانو سره تر خپله وسه جګړه وکړه. کله چې طالبانو سقوط وکړ، هغه هم جګړه پرېښوده د خپل دوښمن ازبیک جنرال دوستم په ډله کې یې لار پیدا کړه، او سویل ته د تلو هڅه یې وکړه. دوستم په دې وروستیو کې طالبان په شا تمبولي وو، خو دا مهال له امریکایانو سره یو ځای مزار شریف ښار ته ستون شوی و. ملا داد الله له دوستم سره معامله وکړه، چې ګنې هغه به ورته عربان په لاس ورکوي چې پر سي ای اې یې په پیسو وپلوري او دوستم به د دې معاملې له مخې دادالله ته لار ورکوي چې تر کندهاره ورسېږي.
کله چې ملا داد الله خپل پلرني ولایت ته ورسېد، له کرزي سره یې ونه لیدل. هغه دا سمه وګڼله چې له افغاني لارې له کرزي سره وګوري، نو ځکه یې له هاشم خان سره وکتل، نوموړی په خټه غلجی او د کرزي ملګری و، کرزي ته یې دوې ولسوالۍ هم په لاس ورکړې وې. هغه له کرزي سره د طالبانو په تسلیمېدو کې هم همکاري کوله. هغه ملا داد الله له ځان سره کرزي ته ور ویست. کرزي هغه ته یو لیک ورکړ چې له مخې به یې پر ملا داد الله څوک کار نه لري. هغه همداسې کویټې ته ولاړ. داد الله په کویټه کې له نورو طالب مشرانو سره یو ځای شو. کرزي، ګل اغا شیرزي، شیر محمد اخندزاده او نورو مشرانو کویټه پرېښوده او دا ځای اوس طالب مېشتی ښار و.
که څه هم یو پر پل پسې طالبانو ته ښښنې کېدې، خو دا کار له ټولو سره ونه شو. کرزي لا هم له خپلو سیالانو سره سیالي نه وه پرې ایښې. کله چې کرزی د هوا له لارې د پاکستان جیکب اباد اډې ته ولاړ، هلته یې د ملا شفیق له پښو د غورځېدو خبره کړې وه. ملا شفیق د طالبانو یو قومندان او د پوپلزیو سیال و چې له جان محمد خان سره یې لویه شخړه وه. خپله جان محمد خان راته وویل چې هغه د ملا شفیق له لوري زندان ته اچول شوی و او له دې لارې یې ورسره دوښمني کوله. دا خبره وه چې باید ملا شفیق یې اوس قیمت پرې کړی وای. اصل خبره د هغه د مذهبي دریځ، او د ښځو د حقونو نه وه، بلکې اصل رېښه د دوښمنۍ وه. امریکایان چې په دې لانجو خبر نه وو، له بارکزي روزي خان سره



یې د ملا شفیق په اړه خبرې کړې وې. له هغه سره یې نږدې ژوند کړی و، د روسانو ضد جګړه کې هم یو ځای اوسېدل. روزي خان ملا شفیق ته خالي کورونه ورکړي وو، او کله چې به د هغه اړتیا پیدا کېده نو بیا به ملا شفیق ورته همکاري ورسره کوله. کله چې طالبان واک ته ورسېدل، ملا شفیق یې په لیکو کې ور ګډ شو، خو روزي خان په حاشیه کې پاتې شو.
کله چې امریکایانو د شفیق پر کور د برید چمتوالی نیوه، روزي خان له خپلو سرتېرو سره یو ځای له امریکایانو سره ملګری او هغوی ته یې د شفیق کور وښود. امریکایي کماندویانو لا هم اوږدې افغاني جامې په تن وې، هغوی بګړۍ هم تاو کړې وې، خو د ځینو یې لا خپلې سپورتي خولۍ په سر وې. له امریکایانو سره کوم ژباړن نه و، کرزي ورسره په دې برخه کې همکاري کوله. کله چې رزوي خان د شفیق کور امریکایانو ته ور وښود، هغه له کرزي سره پر تلیفون خبرې وکړې او بیا یې تلیفون امریکایانو ته ورکړ. د شفیق کور امریکایانو په بمونو و ویشت، خو وروسته معلومه شوه چې هغه له وړاندې کویټې ته تښتېدلی و.
کله چې کرزي د لویې جرګې لپاره هڅه کوله او د افغانستان له هر ولایت څخه یې قومي مشران ورغوښتل، په دې برخه کې اروزګان بې برخې پاتې شو، ځکه هلته لا قومي مشران سره وېشل شوي وو، او په دې برخه کې یې خپل شتون نه شو سمبالولای. له طالبانو وروسته پوپلزیو او باکرزیو په اروزګان کې ډېر واک واخیست. له کرزي سره همکار کسان چې له نورو قومونو څخه و، لکه هاشم خان، په حاشیه کې پاتې شول. که څه هم هاشم خان له کرزي سره همکار و، بیا هم د هغه قوم د ستونزې په توګه پاتې و. د پوپلزیو او بارکزیو د قوم واک د ارزوګان ټولو سیمو ته ونه رسېده. په شمال او ختیځ کې ډېرې سیمې بې برخلیکه پاتې وې. هغوی لرې پرتو ولسوالیو ته پام هم نه کاوه. کرزي او د هغه کماندو ملګرو یوه غوښتنه لرله هغه دا چې کندهار ته ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوولسم څپرکی

## د کندهار سفر - د طالبانو له وروستي مرچل سره مقابله

کله چې کرزی له خپلو سرتېرو سره د کندهار پر لور روان شو، ملاتړي یې خوښ وو. د هغوی هدف د طالبانو له منګولو د کندهار ښار خلاصول و. هغه زاړه موټرونه چې ځینې یې نوي رنګ شوي وو، ځینو موټر چلوونکو د خپلو موټرونو پر سرونو لوډسپیکرونه تړلي وو او کندهار ته پر لاره یې افغاني سندرې پکې غږولې. هر موټر چلونکي هڅه کوله چې خپل موټر د کرزي موټر ته نږدې کړي، په دې کار سره یې خپل ملاتړ څرګنداوه. د موټرونو لیکه له غرونو او غونډیو څخه تېرېدله. په دې موټرو کې لوی او واړه موټرونه او تراکتورونه هم وو، چې پکې پر ولسي قومي مشرانو سربېره عامو خلکو او کروندګرو هم ونډه لرله. د موټرو پر سر امریکایي الوتکې وې، هغوی له امریکایي نظامي اډو سره په تماس کې وو. هغه قومي مشران هم له کرزي سره وو چې لا یې په کوم ولایت کې څوکۍ نه وې اخیستې.

(امیراین) د موټرو د لیکې په مخکنۍ برخه کې د یوه زاړه جیپ په باډۍ کې ناست و. د هغوی د موټرو لیکې یو ډول نمایشي انځور جوړ کړی و، که څه هم هغوی د کندهار د نیولو لپاره روان وو، امیراین هېڅ کله داسې څه نه و لیدلي. هر و ګړي خوښي کوله، بګړۍ وال، ان ځینې یې پر خپلو خرونو سپاره وو. له کرزي سره یو بل کس په سفر کې نه و ملګری هغه نوی والي چې څه باندې



شپږ فوټه دنګه ونه لرله، (نوی والي معلم رحمت الله) و، کرزي ورته ویلي و:"تاسې به د اروزګان امنیت ساتئ، له موږ سره مه ځئ، که اړتیا وه موږ اړیکه درسره ټینګوو."

سید هم د کرزي له پخوانیو ملګرو سره په دې سفر کې شامل و. سید پر دې لاره په تېرو دوو اوونیو کې ډېر سفرونه وکړل، چې د کرزي په غوښتنه یې ځینې چارې سمبال کړې وای. هر چا فکر کاوه چې سید د ترینکوټ په جګړه کې وژل شوی و. د هغه پوښتنه شوې وه، خو هېڅ داسې څه نه و ښکاره شوي چې ګنی هغه دې ژوندی وي. کله چې له طالبانو سره تللی و، په چالاکۍ یې ځان ترې خلاص کړی و. هغه له یو لوري د طالبانو له ګواښ سره مخ و، بل لور هوایي بمبارۍ هم روانې وې، خو سید هڅه کړې وه چې یو مصوون ځای ته ځان ورسوي. هغه و چې د کرزي ترینکوټ ته له ورتګه خبر شو. په بېړه او لوڅو پښو په غرونو کې د کرزي تر کلا ورغلی و. پښې یې هم سختې ژوبلې شوې وې. دا ځل له کرزي سره یو ځای کېدل یې احساساتي وو، کرزي ترې وپوښتل:"ملګري دې چېرته دي؟" هغه دروغ ورته وویل:"هغوی ونیول شول." هغه فکر کاوه چې ملګري به یې وژل شوي وي. اوس هغه پوهېدلی و چې نور د طالبانو نظام ختم شو، او د هغه وخت و چې باید خپله د ښاروالۍ څوکۍ ونیسي. خو کرزي ورته ویلي و چې په ولایت کې یې ټولې څوکۍ وېشلې وې، نو ځکه سید ته پکې کومه څوکۍ نه وه پاتې شوې. سید له کرزي سره شخړه کړې وه او هغه ته یې ویلي و:"تاسې ناځوانه یاست. زه نه غواړم نور له تاسې سره اوسم." له دې سره د کرزي له کوټې وتلی و. کرزي هغه پرې نه ښود، او هغه ته یې دوه سوه زره پاکستانۍ کلدارې ورکړې او له ځان سره یې په سفر کې یو ځای کړ.

کندهار ته پر لاره د تېرو دوو اوونیو جګړو نښې تر سترګو کېدې. په بمونو ویشتل شوي موټرونه د غرونو تر څنګ پراته وو. پر لوړو څوکو به بیرغونه هم رپېدل. ځینو طالب جنګیالیو بیا هم ننګ کړی و خپل ملګري یې د سړک تر څنګ خاور ته سپارلي وو. (امیراین) هر څه ته د پام کولو وخت نه لاره، هغه باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، خپلو کورنيو ته بربښناليکونه لېږلي و، هغوی ته يې ويلي و چې ښايي تر کرسمس جشن وړاندې يې ونه ګوري.

هماغه ماښام چې د ټولو سترګې د کندهار لور ته وې، د جرمني په پيټرزبرګ کې د کرزي د راتلونکې په اړه خبرې روانې وې. د ملګروملتونو دا کنفرانس په يو عصري هوټل کې و، يوه اوونۍ يې تېرېدونکې وه، لا هم د پام وړ پرمختګ نه و رامنځ ته شوی. د کرزي ملګرو هغه ته په ځېر کتل، دا مهال هغه له جرمني سره پر ټيليفون خبرې کولې. د هغوی فکر دا و چې ايا هغوی به کرزي ته ووايي چې د افغانستان راتلونکی زعيم دی او د دې کسانو هم اميد و چې ګڼي کارونه به يې ورسره سم شي. کرزي نابېره ورته وويل چې ستار سيرت به د افغانستان راتلونکی رهبر اوسي.

په کلا کې ټول کسان پرېشان شول، په هغوی باندې د کرزي خبرو ناوړه اغېز وکړ. له هغوی سره ځينې پوښتنې پيدا شوې، ستار سيرت به راتلونکی زعيم وي؟ کرزی به واک ته ونه رسي؟ ايا کرزي څو ورځې وړاندې هم له بُن کنفرانس سره پر ټيليفون خبرې نه کولې؟ هر چا له وړاندې دا تمه لرله چې کرزی به هرو مرو د افغانستان راتلونکی زعيم وي. ستار سيرت له نشت څخه يو څه شو او واک ته ورسيد. هغوی لا کندهار ته نه و رسېدلي چې له کرزي څخه د هغه ګټلي بل چا واخيستل. کرزي هغوی ته وويل:"زه به دويم کس يم." د عزيز په څېر د کرزي نورو پلويانو په لوړ غږ شکايتونه پيل کړل، هغوی ويل:"ستار سيرت پښتون نه دی، هغه له کلونو په افغانستان کې نه دی اوسېدلی. هغه په ختّه ازبيک دی." عزيز چې له طالبانو سره په دې ورستيو کلونو کې سخت په ټکر کې و، فکر يې کاوه چې ټول پلانونه يې په اوبو لاهو کېدونکي وو. کرزي ډېر څه ونه ويل، هغه فکر کاوه چې کرزی به نېغ کابل ته ولاړ شي او دويم مقام به ومني.

کرزي مشوره ورکړه چې د طالبانو له يوه پياوړي ملګري ملا نقيب الله سره اړيکه ټينګه شي او هغه له کندهاره ور وغوښتل شي. کرزي له هغه سره د طالبانو د



احتمالي بريدونو په اړه متوجه واى. کندهار ته په لويه لاره يې يو ځل بيا د کمپ په څېر مېشت ځای جوړ کړ، هغوی نورو وسلو او غذا ته اړتيا لرله چې بايد د هوا له لارې ورته راوړل شي. د (فتاوک) په واړه کلي کې يې د يو هوټل په څېر ځای جوړ کړ، کرزی د کلي کوڅو ته ور ننوت. هغه له خلکو سره کتل، له هغوی سره يې د لاس روغبړ کاوه. مخې ته يې ډېر ماشومان هم ورغلل. خلکو له کرزي سره داسې رويه کوله لکه له وړاندې يې چې له کرزي سره پېژندل. (بولډوک) له نږدې دا هر څه څارل، هغه پوه شو چې د دې خبرو لړۍ تر دې واړه کلي هم رسېدلې وه. د هغه په خپله سيمه (لوکونيا) کې هم ورته څه پېښ شوي و.

په هماغه ماښام د سي ای اې د مامور ګريګ له لوري ورته پيغام ورسېد چې پرې د طالبانو د بريد احتمال و. شپاړس موټرونه فتاوک ته پر لار وو. کرزي يې وسله وال مخې ته ور ولېږل چې ورسره خبرې وکړې، د طالبانو اووه موټرونه تم شوي وو او کسان يې نيول شوي وو. هغوی سمدستي د کرزي ملګرتيا غوره کړه. کله چې هر څه سم شول، کرزي د اروزګان له نوي والي معلم رحمت الله سره اړيکه ټينګه کړه، او ورته ويې ويل:"هګۍ، غوښې، او نور غذايي توکي راوړئ، چې موږ وږي يو." د روژه ماتي پر مهال افغانانو ته اجازه وه چې څه وخوري او څه وڅښي. رحمت الله خوښ و چې غذايي توکي ور وړي او له کرزي سره د کندهار په سفر کې يو ځای شي.

د روژې اغېز پر امريکايانو هم و، هغوی هم هڅه کوله چې د روژې له مهال وېش سره سم د خپلو ملګرو خيال وساتي. اميراين په دې باور و چې بايد افغاني ارزښتونو ته درناوی وشي. هغوی ټوله ورځ وږي نه شول پاتې کېدلی، نو ځکه به يې له پخو او چمتو شويو غذاوو (MREs) څخه کار اخيست. چې پکې به ورجې، سابه، قورمه او ميوې هم موجودې وې.

په همدې وخت کې له وسلو، تجهيزاتو او غذايي توکو ډکې چورلکې راورسېدې. ځينو امريکايانو ته خصوصي بربښناليکونه هم راتلل. امريکايان له تېرو دوو اوونيو راهيسې په سيمه کې وو. ځينو يې تر دې وړاندې چې اروزګان ته ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمنۍ پر مهال هم اړیکې لرلې. د سپټمبر له ۱۱مې وروسته یې هغه ته یو تلیفون برابر کړ، په دې پلمه به د طالبانو په اړه معلومات ترې اخلي. کرزي فکر کاوه چې هغه د کندهار لپاره جوړ سړی و، ځکه یې غوښتل هغه د کندهار والي شي. د کرزي کسانو دا نه وه خوښه چې هغه دې له ولسمشرۍ پرته بله څوکۍ واخلي، عزیز په لوړ غږ وویل:"که چېرې تاسې دا کار ونه کړئ، زه د طالبانو ملګرتیا کوم. همدا اوس له اعلیحضرت سره اړیکه ټینګه کړه." د کرزي کسانو خپله هم د ځینو کسانو سره اړیکې ټینګولې، ان ځینو یې په بُن کنفرانس کې له ملګرو سره هم اړیکې نیولې. هغوی له سټلایټ تلیفونونو سره هوسا کوله.

په عین وخت کې قیوم کرزی چې په بُن کنفرانس کې و، هم په غوسه شوی و. قیوم کرزی د حامد کرزي مشر ورور دی، او په څېره کې هم ورته دی. په تېرو دوو کلونو کې هغه په امریکا کې اوسېده او هلته یې د هلمند په نوم خوړنځایونه (رستورانتونه) پرانیستي وو. هغه د امریکا له بهرنیو چارو وزارت، سي ای اې او پنټاګون سره د خپلې کورنۍ د خبرو استازیتوب کاوه. هغه په کنفرانس کې د روم د ډلې د مشاور په توګه ګډون کړی و. د هغه په ناوسۍ کې هغه لیدل چې د ورور پلانونه یې بې ځایه تلل. د خبرو یوه اوونۍ بشپړېدونکې وه، افغانانو روژې هم نیولې، نورو ډیپلوماټانو هم د روژې د درناوي په موخه ځانونه ورسره سمبال کړي وو. د ورځې به یې ناوخته خوب کاوه، او له ماښامه پیل د شپې به یې مجلسونه کول.

د قیوم په وینا چې سیرت د روم د ډلې له نورو غړو سره ژمنه کړې وه چې که یې رایې ورکړې، نو هغوی ته به وزارتونه ورکړي. یو له هغو کسانو څخه پاچاخان ځدران و، کله چې هغه رایه ورکړه، پر خپله رایه پښېمانه شو، وروسته ولاړ او د کنفرانس د رییس تر څنګ ودرېد او په لوړ غږ یې وویل:"سیرت راته وویل چې ده ته رایه ورکړم او په بدل کې یې ژمنه راسره وکړه چې زما ورور ته به د وزارت څوکۍ ورکړي. له دې سره ما کرزي ته دوکه ورکړه." قیوم کرزی پوهېده چې روانې خبرې د ډیموکراسۍ پیل و. هغه په خپله یوه مرکه کې وویل:"له ماشومه



باید په لومړۍ ورځ د تګ هیله ونه کړو."

د رایو شمېر څرګند و، یوولس رایې ستار سیرت ته ورکول شوې وې، دوه رایې کرزي ته او یوه رایه هم امین ارسلا ته. ځینو استازیو په بیړه سیرت ته مبارکي وویله، خو نورو په سوالیه نظر کتل. ډېر ژر د کنفرانس د مجلسونو نورو خونو ته خبره ور ورسېده، د روم ډلې ستار سیرت چې په خټه ازبیک و انتخاب کړی و. له دې سره لنډه وېره خپره شوه. هغه پلان چې له مخې به یې کرزی واک ته ورسېږي، ناکام شو. د کنفرانس ګډونوال هېښ وو، ځکه هغوی ته دا مناسبه نه ښکارېدله چې د زړو پاچاهي پلوو کسانو په واک کې دې د افغانستان برخلیک ورکړل شي. که چېرې داسې پرېکړه وشي، دا به د کنفرانس د نورو ګډونوالو استازیو له غبرګون سره مخ شي. په تېره بیا د واک پر ګډۍ د ناست ولسمشر رباني لپاره هم ستونزمنه وه چې خپله ګټلې څوکۍ چې دعوه یې کوله یوه ازبیک ته خوشي کړي. د شمالي ټلوالې استازي چې لا په کابل کې وو، ژر پر تلیفون په اړیکه کې شول. عبدالله عبدالله پر تلیفون په لوړ غږ وویل:" دا زموږ لپاره یو لوی ناورین دی. پرېکړه ژر لغوه کړئ."

د څو شېبو لپاره د ملګرو ملتونو تر ټولو لوړپوړی مامور ابراهیمي هېښ و. نه پوهېد چې څه وکړي. د کنفرانس نورو ګډونوالو هڅه وکړه چې د روم د ډلې او ستار سیرت نظر ته تغیر ورکړي. لومړی کس زلمی خلیلزاد و چې پدې برخه کې یې هڅه وکړه، هغه یو افغان امریکایی و، او د امریکا له ملي امنیت ادارې سره یې ډېر کار کړی و. د روم ډلې ادعا وکړه چې هغه له څو میاشتو را پدېخوا د کرزي لپاره کار کاوه. ستار سیرت سر زوري کوله، هغه وویل:" دا ستونزه ما نه ده جوړه کړې. تاسې باید دا ستونزه حل کړئ. ما هېڅکله د دې نظریې ملاتړ نه دی کړی، چې دا کس باید هرو مرو پښتون وي. زه له قومي وېش سره مخالف یم. موږ ټول افغانان یو، نور ستاسې خوښه ده."

وروسته د شمال ټلوالې غړي یونس قانوني خبرې وکړې. له هغه سره له وړاندې د کورنیو چارو وزارت ژمنه شوې وه. نړیوالو ډیپلوماتانو چې کله له یونس قانوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه غوښتنه وکړه، هغه ناڅاپه ځواب ورکړ:"دا سمه ده، سیرت وګمارئ، دا یو ښه انتخاب دی." لویدځوال له دې سره هېښ شول. د شمال ټوالې غوښتنه یوه، او قانوني بله، دا ځکه چې قانوني ستار سیرت اخیستی و.

د اعلیحضرت د دفتر له رییس سره یې اړیکه ونیوله. هغه ته یې وویل:"دلته چارې سمې روانې نه دي." اعلیحضرت نه غوښتل چې خبره ورانۍ ته ووځي، لکه له وړاندې چې د روم ډلې همداسې څه ترسره کړي و. دا ځل هم کوم بدلون را نه ویستل شو. د دفتر رییس اعلیحضرت ته وویل:"وایي چې دا کس باید پښتون وي، ځکه موافقه هم پر همدې شوې." اعلیحضرت له ابراهیمي سره هم پر تلیفون اوږدې خبرې وکړې، خو کومه اغېزناکه پایله یې ونه لرله. څو شېبې وروسته د پاچا د دفتر رییس له هغه سره یو ځل بیا اړیکه ټینګه کړه او اعلیحضرت ورته وویل:"کرزی انتخاب کړئ، هغه زما د زوی په څېر دی. هغه په افغانستان کې یواځنی کس دی."

بیا هم په ساعتونو له سیرت سره خبرې وشوې چې په پایله کې هغه د اعلیحضرت خبرې ته غاړه کېښوده. سیرت په لوړ غږ وویل:"ابراهیمي د امریکا ګوډاګی دی. د دې تر شا د سي ای اې لاس دی." سیرت او د روم د ډلې غړیو ته هغه مهال غوسه ورغله چې پر کرزي له هوکړې څخه خبر شول. په کنفرانس کې د جرمني ګډونوال په پایله کې وتوانېدل چې هغه ته قناعت ورکړي. هغوی وویل کنفرانس له وړاندې ډېر اوږد شوی و، دوی اړتیا لرله چې د نوي اساسي قانون مسوده هم چمتو کړي. په کابل کې حالات خرابېدونکي و. د شمال ټلوالې کسانو له وړاندې وژنې کړې وې، هغوی باید مهار کړی شوي وای. په پایله کې سیرت وویل نور نه غواړي خنډ جوړ شي. دوه ورځې وروسته خلیلزاد هغه ته د درېیو څوکیو وړاندیز وکړ، لومړۍ څوکۍ د سترې محکمې د ریاست وه، دویمه د ولسمشر د مرستیالۍ څوکۍ او په عین وخت کې د عدلیې وزارت څوکۍ هم ورسره وه، د درېیمې څوکۍ وړاندیز ورته د راتلونکې افغاني لویې جرګې ریاست و. سیرت له ټولو څخه ډ ډه وکړه.



په پایله کې پر کرزي پرېکړه وشوه، او لومړی زېری برهان الدین رباني پرې وکړ، هغه په کابل کې په ارګ کې و. رباني کرزي ته پر تلیفون وویل:"زه موافق یم چې خپله څوکۍ تاسې ته وسپارم، تاسې څه پکې وایاست؟" کرزي خپلو ملګرو ته چې له هغه سره کندهار ته په سفر روان و د رباني د اړیکې په اړه وویل. له هغوی یې وپوښتل:" ایا زه دا کار وکړم؟" هغوی سرونه له مایوسۍ وښورول. له هغوی څخه عزیز په خبرو شو:" تاسې باید دا کار وکړئ. تاسې ولې پکې شکي یاست؟" کرزي تلیفون را واخیست او غوښتل یې له روم سره اړیکه ونیسي. له څو شېبو وروسته د کرزي په ملګرو کې ساه وچلېده، کرزي خپله پرېکړه وکړه.

د کنفرانس ګډونوال په خپلو چارو بوخت وو، کرزی او ملګري یې کندهار ته یو ځل بیا روان شول. هغوی په کراره سفر کاوه، د امریکایانو په وینا له یو لوري موټرونه زیات وو، له بل پلوه به د لمونځونو لپاره افغانان ډېر تم کېدل. په لومړیو کې امریکایان ورسره عادت نه وو، خو وروسته ورسره بلد شول. کله چې به افغانانو لمونځونه کول، امریکایي کمانډو به یې امنیت ساته. له لمونځونو وروسته به یې سترګې پټې کړې او دعاګانې به یې کولې. کله چې به یې لمونځونه خلاص کړل، سفر ته به یې ادامه ورکړه.

امیراین به د دهراوت له خلکو سره د موټر د لیکې په سر کې روان و. مشري یې د دېرش کلن (باري ګل) په غاړه وه، هغه په خټه بابوزی و. له دې قوم سره د طالبانو د مشر ملا محمد عمر هم ټینګې اړیکې وې. باري ګل هم د هغو اوو کسانو له ډلې څخه و چې کرزي کویټې ته ورغوښتي وو. هغه د دهراوت د یو مشهور قومندان زوی و. هغه به په وړوکوالي کې په خپل کور کې په هغه روسۍ چورکه کې لوبې کولې چې له روسانو را لوېدلې وه. هغه به هڅه کوله چې د خپل پلار پر قدمونو قدم کېږدي.

کله چې د موټرو اوږده لیکه شاولي کوټ ته ورسېده امیراین، ګل او ډېر نور سرتېري مخکې ولاړل. دا ولسوالي د اروزګان او کندهار ترمنځ د سړک پر سر پرته ده، پکې ختین کورونه، فصلونه او اوبه تر سترګو کېږي. پدې ولسوالۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه حالات خراب ښکارېدل. په هماغه ماښام امیراین، ګل او ملګري یې له دېرشو څخه تر پنځوسو طالبانو سره مخ شول. له هغوی سره یې سخته جګړه وکړه، امیراین د غره په یوه څنډه کې و، دا د امیران له طالبانو سره لومړی مخامخ نښته وه. هغه خپل یو شاجور خالي کړ، ګوري چې افغان ملګرو یې تېښته کوله، له دې سره یو ځل بیا په غوسه شو. ګل او امیراین طالبانو ته ټینګ شول، هغوی له طالبانو سره سخته مقابله وکړه او دوی هم پرې سختې ډزې کولې. له څو دقیقو وروسته حالات د سمېدو پر خوا شول، امیراین د اړیکو پر مسوول غږ وکړ:"هوایي ملاتړ نه غواړو، هوایي ملاتړ نه غواړو." امیراین نه غوښتل د هوایي ځواک پر مټ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واوړي. څو شېبې وروسته طالبانو تېښته وکړه او حالات بېرته سم شول. امیراین د بریا احساس وکړ، هغوی لږ وړاندې یوه واړه کلي ته ورسېدل. نور نو کندهار ښار ته نږدې کېدونکي وو.

شاه ولي کوټ ولسوالي په بشپړه توګه د طالبانو تر واک لاندې نه وه. پدې ولسوالۍ کې ځینې ځایونه د (دامانه) کلي په څېر د طالبانو د مخالفو وسله والو په لاس کې و، چېرې چې کرزی هم ورسره و. راتلونکی رهبر بې له کوم پلان څخه د دې کلي په شا و خوا ګرځېده. هغه اوس باید یوازې تم شوی وای. له تېرو څو اوونیو راهیسې هغه د ترینکوټ د کلاوو د دېوالونو تر شا اوسېده، اوس یې لږ تر لږه څه ازادي خپله کړې وه، او ازاد ګرځېدلی شو. د دامانه کلي یوه اوسېدونکي ورته یوه توشکه ورکړې وه، پر هغه به کرزی کښېناسته. دا ځل د کوڅې هغو ماشومانو چې لوبې یې کولې د نوي رهبر هرکلی ونه کړ. ښځې او ماشومان به په ډلو روان وو، هغوی د کرزي د کسانو او طالبانو ترمنځ له جګړې تېښته کوله.

د کرزي کسان یوه وچ سیند ته ورسېدل چې پرې یو پل هم تړلی و، دا سیمه د کندهار له ښاره اتلس کیلومتره لرې پرته وه. د پله له څنګ باغونو پرې په سلګونو طالبانو برید وکړ. امیراین رڼا خپرونکې وسله وکاروله، چې د دوښمن موقیعت پرې معلوم کړي. د هغه ډېر افغان ملګري و تښتېدل. دی پوهېده چې



له طالبانو سره یې جګړه نه شوی کولی، نو ځکه یې له هوایي ځواک څخه مرسته وغوښته. د طالبانو پر دغه وسله والې ډلې ټوله شپه بمبار وشو. هغوی د بمونو لمبې کتلې، چې پکې کورونه، دوکانونه، او نور ویجاړ شول، باغونو او بوټو هم پکې اور واخیست.

د دې شخړې له پای ته رسېدو وروسته امریکایانو کرزی شاولي کوټ ولسوالۍ ته بوتله. کله چې هلته ورسېد، یو ځل بیا یې له خپل ملګري ملا نقیب الله سره اړیکه ټینګه کړه. هغه پدې وروستیو اوونیو کې له کرزي سره په اړیکه کې و، او هغه ته یې پر تلیفون معلومات ورکول. دغه ملا د کرزي په استازیتوب هڅه کړې وه طالبان وهڅوي، چې جګړه بس کړي. ملا نقیب الله د کرزي او طالبانو ترمنځ منځګړیتوب کاوه، کرزی خپلې بریا ته رسېدونکی و. طالبانو له ملا نقیب الله سره اړیکه ټینګه کړې وه او ویلي یې وو چې ګني هغوی تسلیمېږي، خو وروسته بیا پښېمانه شول. ملا نقیب الله له کرزي سره اړیکه ټینګه کړه او ورته ویې ویل چې هغه به یو ځل بیا د طالبانو د تسلیمېدو په اړه هڅه وکړي.

د کرزي ملګرو راتلونکې ورځ په خیر پیل کړه. هغوی په روغه پیشلمی وکړ، چې سبا ورځ روژه بېله سختۍ ونیسي. هغوی (سید عالم) کلي ته نږدې پراته وو. اوس د کرزي د جنګیالیو شمېر درې زره کسانو ته رسېدلی و، کرزي پر تلیفون د سي ای اې له مامور ګریګ او نورو افغانانو سره خبرې کولې. دا وخت حاجي بهادر هم هلته حاضر و، له هغه څخه ډېرو کسانو مننه کوله چې د طالبانو پر وړاندې یې جګړه کړې وه، اوس یې پردې خبرې کولې چې د حاجي بهادر د شپږو کسانو جسدونه به څنګه د طالبانو له منګولو وژغوري. همدا وخت یې یو دم د یوې لویې چاودنې غږ تر غوږ شو، بهادر پر ځمکه ونښته، نور یې هېڅ نه لیدل، په غوږونو کې یې بنګهار و. د کوټې کړکۍ ماتې شوې وې، کوټه له دوړو ډکه وه، هغه غوښتل کرزی ووینې، څو شېبې وروسته یې هغه تر سترګو شو، ویې لیدل چې د کرزي مخ هم ټول په وینو ککړ و.

د نویو کمانډو کسانو د اړیکو مسوول غوښتل د هوا له لارې پر ۹:۳۰ بجو د پل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ځنګ پر کم شمېر طالبانو هوايي برید وکړي، د غلط ادرس له کبله (B52) الوتکو پر هغه سیمه (1000 kg) کیلو ګرامه بم وغورځاوه چې کرزی او ملګري يې پکې وو.

ژر په څو شېبو کې د بم دوړې نه تېتېدې، امیراین يې هم یوې څنډې ته غورځولی و، هغه نه پوهېده څه شوي وو. کله چې هغه له ځایه پورته شو، ويې لیدل چې د الوتکې بم څومره ورانی پېښ کړی و. له غره څخه هر چا نارې وهلې چې څه پېښ شول؟ وروسته يې وکتل چې شاوخوا وژل شوي کسان وو. امیراین ولیدل چې هر لور ته مړي پراته وو، دومره وينې توی شوې وې، چې فکر يې نه کېده. په دې برید کې د دهراوت د باري ګل کسانو ته ډېر زیان اوښتی و. هغوی به تل د امیراین تر څنګ وو. له ترینکوټه د سفر د پیل خوښې يې په ویر بدله شوه. امیراین په لوړ غږ وویل:"موږ څه کوو؟"

ژغورونکې چورلکې را ورسېدې، ځينې ژوبل افغانان پکې د درملنې تر ځایونو ورسول شول. کرزی لا په خاورو کې پروت و، سر او د سترګې اړخ يې ژوبل شوي وو، هغه نېکمرغه و چې له دې ډول نابودې بلا څخه وژغورل شو. امریکایانو هغه سمدستي د یو بل غره اړخ ته بوتله او هلته يې د هغه درملنه پیل کړه. امیراین هم الوتکو ته د ژوبلو کسانو په پورته کولو بوخت و. هغه ولیدل چې ورسره د لومړی لیکې کمانډو له کسانو څخه دوه يې غیب شوي وو. وروسته معلومه شوه چې د بولډوک د دربېیمې لیکې له کمانډو کسانو څخه هم یو کس وژل شوی و. امیراین هم جرمني ته د درملنې په موخه روان شو، هغه ژوبل نه و، خو د غوږونو پردې يې ژوبلې شوې وې، په پښه کې يې هم یوه پارچه لګېدلې وه. په جرمني کې د امریکایانو یو نظامي روغتون د لانډسټول په نوم شته، نوموړی تر خپلو ملګرو وړاندې هلته  ورسېد.

افغانان نه پوهېدل چې په هغوی څه وشول. ځینو يې ویل القاعدې پرې راکټ توغولی و، خو ګریګ او کرزي ورته ویلي وو چې دا د امریکایانو خپله تېروتنه وه. هغوی ویل دا یوې ښځې تېروتنه کړې وه. حاجي بهادر ته يې ویلي و چې هغې



د افغانستان په اړه کافي معلومات او تجربه نه لرله. کسانو يې پرې باور نه کاوه، دا خبره ناڅرګنده پاتې شوه چې څه پېښ شول.

بل بد خبر دا و چې کرزي ته د ګل اغا شیرزي خبر ور ورسېد، چې ګڼي هغه د سویل له لوري کندهار ته ننوتونکی و. له شیرزي سره هم د امریکایانو د لومړۍ لیکې د کمانډو ملاتړ و، هغه په تېزۍ سره د ښار پر لور روان و. شیرزي په خپل مټ کار کاوه، کرزي هڅه وکړه هغه پرې نه ږدي چې خپل سري کارونه وکړي، خو هغه يې خبرو ته غوږ نه ایښوده.

کله چې شیرزی د کندهار ښار ته ننوت، د بون کنفرانس هم د ډېرو ستونزو له ګاللو څخه وروسته په بریالیتوب سره پای ته ورسېد.  په وروستۍ ورځ د شپې تر ناوخته د وزارتونو پر څوکیو سختې خبرې روانې وې. ولسمشر رباني راضي نه و چې له څوکۍ څخه په اسانۍ کوز شي، هغه د ډېر واک غوښتنه کوله. نوموړی تر هغه راکتي برید وروسته چې د کور تر څنګ يې ونښت، له څوکۍ لاس پر سر شو. د وزارتونو او لوړو څوکیو شمېر نهه ویشت ته ورسېد، وروسته شمال ټلوالې د کرزي انتخاب ته غاړه کېښوده. د کنفرانس تر پای ته رسېدو وروسته د بي بي سي خبریالې، (لیس دوسیټ) له کرزي سره اړیکه ټینګه کړه او هغه ته يې د مبارکۍ تر څنګ وویل:" تاسې د افغانستان نوی زعیم شوی." که څه هم کرزی خبر و، خو له هغې سره يې داسې خبرې وکړې، ته وا لومړی ځل د هغې له خولې خبر شوی و.

د کندهار ښار له دوو اړخونو ایسارېدونکی و، طالبان پوه شول چې نور يې وروستی مرچل هم له لاسه وتونکی و. تر دوو ورځو مقاومت وروسته ملا نقیب الله ته د ټولو طالبانو په استازیتوب لس کسان د خبرو لپاره ورغلل. ملا نقیب الله د یوې بهرنۍ موسسې لخوا په راغوښتل شوې غونډه کې و چې د خبرو موضوع يې پر روغو ځایونو د بمونو د نه غورځول غوښتنه وه. ملا نقیب الله طالبانو ته ویلي و چې ملا محمد عمر ولې نشته ورسره، هغوی ورته ویلي و چې د هغه په استازیتوب ورسره خبرې کوي. له طالبانو څخه ځينو يې له کرزي سره ښه روابط

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرل، د بېلګې په توګه ملا عبدالسلام راکټي یادولای شو، هغه له روسانو سره د جګړې پر مهال د راکټي تخلص خپل کړی و. نوموړی د طالبانو له مهمو قومندانانو څخه و چې د ننګرهار واک یې په لاس کې و. هغه د اړیکو له لارې کرزي ته تسلیم شوی و، او اوس په خپل کور کې کندهار ته نږدې و.

د طالبانو په جلسه کې ملا عبدالرزاق او ملا خیرالله خیرخوا هم ونډه لرله. هغوی دواړه مشهور پوپلزي وو، چې له کلونو له کرزي سره په تماس کې وو. ملا برادر چې په اصل کې د اروزګان و، هم پدې مجلس کې ګډون درلود. د ازادۍ خبره له هغه وروسته پیکه وه چې د طالبانو په خپلو منځونو کې لرېوالی راغی. ځینو یې جګړه غوښته، ځینو نورو به یې له جګړې ډ ډه کوله. تر یوې ورځې سختو خبرو وروسته هغوی پرېکړه وکړه چې تسلیم شي. ملا نقیب الله ته یې چې دا مهال په شاه ولي کوټ ولسوالۍ کې له کرزي سره و، وویل چې اړیکه ونیسي.

ملا نقیب الله کرزي ته خبر ورکړ چې طالبان د یوې استازې ډلې له لارې غواړي تسلیم شي. د دې استازې ډلې مشري د ملا محمد عمر د دویم مرستیال ملا عبیدالله اخند په غاړه وه. هغه د دفاع د وزیر په توګه هم دنده ترسره کړې وه، بله دنده یې د طالبانو له لوري له ای ایس ای سره اړیکې ټینګول و. پدې ډله کې د ملا محمد عمر اوښی هم و. د طالبانو مشران خوشي شول او د کرزي ملاتړ یې پیل کړ.

تر هغې مخکې چې کندهار د کرزي په واک کې کېنېوزي او له طالبانو سره د سولې خبرې وشوي، امریکایانو مداخله وکړه. لومړی یې کرزي ته اجازه نه ورکوله چې له طالبانو سره په شاه ولي کوټ کې وګوري. کرزي پر سټلایټ تلیفون ملا نقیب الله ته وویل:"هغوی ته ووایه چې دلته رانه شي." هغه په ځواب کې ورته وویل که تاسې له طالبانو سره مستقیمې لیدنې ته چمتو نه وئ، نو احتمال یې شته چې طالبان له تسلیمېدو لاس په سر شي. په پایله کې کرزي امریکایي سرتېري وهڅول هغه ته اجازه ورکړي چې له طالبانو سره په شاه ولي



کوټ کې وګوري. د طالبانو لومړۍ استازې ډله پر کرزي او ډلې یې د بم له اچول کېدو پنځه ساعته وروسته ورغله. کله چې د طالبانو استازې ډله راورسېده، د نابلدو امریکایانو چورلکې کېنېناستې او پر طالبانو یې وسلې را وایستې. د ملا نقیب الله زوی له دې سره حیران شو. هغه وویل:" مخکې له دې چې هغوی پرې ډزې وکړي، د کرزي کسانو په اشاره ورته وویل چې دا ښه خلک دي، باید ونه ویشتل شي. په دې معنا چې موږ ته اجازه راکړئ." کرزي د طالبانو له استازې ډلې سره د روزي خان، عزیز اغا او عبدالرحیم اخندزاده په شتون کې خبرې وکړې، دا کسان کرزي ته د اعتبار وړ وو. د تسلیمېدو خبرې اړینې وې، د کرزي ملګري هم په دې پوهېدل چې دا یې واک ته د رسېدو په برخه کې مهم ګام و. کرزي عبدالرحیم اخندزاده ته ویلي و چې هغوی کوټې ته له ورتګه وړاندې تلاشي کړي. اخندزاده له وړاندې، ملا عبیدالله، ملا عبدالرزاق، ملا اختر محمد اخند، طیب اغا، او د باغران رییس پېژندل. وروسته بیا اخندزاده وویل چې دا یې مناسبه نه ګڼل چې پېژندویه کسان دې تلاشي کړي، ځکه دا هغوی ته یو تحقیر و.

د طالبانو له استازې ډلې سره یو لیک هم و، په دې لیک کې د کرزي په وینا چې لیکل شوي و:"د ملګروملتونو د کنفرانس له پرېکړې سره سم تاسې موږ ته هم د راتلونکي زعیم په توګه د منلو وړ یاست." ځینې نور کسان چې په هغه مجلس کې یې ګډون کړی و، د کرزي له خبرې سره توافق نه لري، د طالبانو استازې ډلې راوړی لیک د هغوی د تسلیمېدو نه و. عزیز اغا هم دا خبره تائیدوي او وایي:"ملا محمد عمر لیکلي و: دا په کابینې پورې اړه لري چې د واک د انتقال په اړه څرنګه پرېکړه کوي." دا څرګنده وه چې ملا محمد عمر نه غوښتل واک په څرګنده او مستقیمه توګه انتقال کړي. د کرزي د ملګرو په وینا چې کرزي یې په پایله کې غوښتنه ومنله. پر دې یې خبرې وکړې چې وسلې او موټرونه ملا نقیب الله ته تسلیم کړي. د کرزي له کسانو یوه ورته ویلي و چې پیسې هم باید تسلیم کړي، خو ملا عبیدالله په ځواب کې ورته ویلي و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې یې ټولې له لاسه وتلې دي، د هغه په وینا چې طالبانو ژوند اوس په پټاټو (کچالو) تېراوه. په دې مجلس کې یې پر کندهار باندې د امریکا د بمبارۍ د بندېدو په اړه هم خبرې وکړې، او کرزي ورسره ژمنه وکړه چې دا خبره به تعقیب کړي. کرزی وایي طالبانو پر راډیو ومنله چې هغوی نور تسلیم شوي، او جګړه دې نوره پای ته ورسېږي.

همدارنګه کرزي پدې ډېر ټینګار کاوه چې د طالبانو په زندانونو کې زندانیان دې خوشي شي. په ځانګړې توګه یې د خپل ملګري جان محمد خان د خوشي کېدو هڅه کوله. جان محمد د کرزي پخوانی ملګری او د اروزګان پخوانی والي و. کرزي په هغه باور لاره، اوس چې تر کرزي کوم کسان ور ټول وو، پر هغو یې هم اعتبار پوخ و. جان محمد یو غښتلی جنګیالی و، کرزي نه غوښتل له هغه پرته کندهار ته ننوزي. دا څرګنده شوه چې طالبان تسلیم شول، خو هېڅوک نه پوهېدل چې په راتلونکي کې به نور څه پېښ شي؟ ښار لا د هرج و مرج په خوله کې و. کله چې د طالبانو استازې ډله روانېدله د طالبانو وزیر ملا عبیدالله په خصوصي توګه ژمنه کړې وه چې د کرزي ملګرو ته به ډوډۍ ور ولېږي، رښتیا هم چې ماښام شو ۲۵۰۰ ډوډۍ یې ورته را ولېږي. داخبره عزیز اغا تاییدوي. ملا عبیدالله هم ویلي و چې کندهار د کرزي لپاره امن ځای نه و. هغه عزیز اغا ته ویلي و:"لا هم په کندهار کې پاکستانیان او عربان شته. که چېرې پر تاسې برید وشو، له موږه یې مه انګېرئ، موږ هېڅکله نه غواړو پر تاسې برید وکړو، عربان او پاکستانیان دا کار کوي."

طالبانو جان محمد خان له زندانه خوشي او د کرزي ډلې ته تسلیم کړ. ملا عبیدالله هم ورسره و چې په یوه زاړه ټویوټا موټر کې راغلل. د جان محمد خان څېرې په زندان کې ډېر تغیر کړی و، کسانو یې څېره هېره کړې وه. رنګ یې زېړ، د ږېرې وېښته یې سپین، او لویه شوې وه. کله چې هغه د کرزي لور ته ور روان شو، هغه ته یې وویل:"ټول طالبان و وژنه." کرزي هغه اړخ ته کړ، او په ټولو خبرو یې خبر کړ. په دې ډول حساسو شېبو کې چې کرزی د کندهار پر لور



روان و، جان محمد خان ورته وویل:"زه باید خپل کور ته ولاړ شم، ځکه د کورنۍ غړي مې فکر کوي چې زه وژل شوی یم." کرزی چې د جګړې یو قدم یې لا په مخ کې و، یوه ورځ نور هم باید هغه ته تم شوی وای. بل سهار جان محمد خان بېرته له کوره راورسېد او د کرزي له نورو ملګرو سره چې سل موټرونه کېدل ملګری شو، او د کندهار پر لور وخوځېدل.

په حقیقت کې کندهار د هرج و مرج په اوج کې و. ملا نقیب الله له کرزي سره د کندهار د والي کېدو خبره خلاصه کړې وه. کله چې ملا نقیب الله پر مخ تله د ګلا اغا شیرزي کسان یې په مخ کې خنډ شول. د شیرزي کسانو د ملا نقیب الله له کسانو سره جګړه پیل کړه. شیرزي نه غوښتل کندهار بل چا ته تسلیم کړای شي، هغه غوښتل خپله د کندهار والي شي. دا د کرزي او امریکایانو په منځ کې یوه لوبه وه، چې غوښتل یې له شمال څخه ښار ته ننوځي، او بل اړخ ګل اغا شیرزي غوښتل چې له خپلو ملګرو سره د کندهار ټول کنټرول په خپل لاس کې واخلي. له هغه سره هم امریکایان وو. کرزي له خپلو امریکایي ملاترو سره یو ځای وویل:" ملا نقیب له عربانو او خپلو طالبانو سره کار کوي." دا خبره یې په داسې حال کې وکړه چې هغه په دې پوهېده چې ملا نقیب نور طالب نه و. د سپټمبر له ۱۱مې وړاندې یې هم د طالبانو پر خلاف مجلسونو کې برخه اخیستله. خو دا مهال شیرزي له حقیقته سر غړاوه. هغه هڅه وکړه چې خپل امریکایي ملګري وهڅوي چې ملا نقیب د ځان او امریکا د دوښمن په توګه وپېژني، او په شا یې کړي. شیرزي امریکایانو ته وویل:"هغه به له تاسې سره د طالبانو په نیولو کې مرسته ونه کړي، پر ځای به یې ستاسې په مقابل کې له طالبانو سره مرسته وکړي." ملا نقیب الله په تند غږ وویل:" ولاړ شئ زما په اړه پوښتنه وکړئ، زما کور وپلټئ، څه چې غواړئ پرې پوه شئ، کولای یې شئ، خو زه طالب نه یم." اوس ډېره ناوخته شوې وه، کرزي له شیرزي او له هغه سره لومړۍ لیکې له امریکایي کمانډو سره څه نه شو کولای. کله چې کرزي له شیرزي سره پر تلیفون خبرې کولې، هغه د کرزي توهین وکړ:"زه نه حامد کرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژنم، او نه هم ملا نقیب، کندهار زما دی." ډېر ژر د سولې هغه ژمنه چې کرزي له طالبانو سره منلې وه، له منځه ولاړه. د نقیب الله د زوی په خبره چې هغوی له خپل کوره ځکه وتښتېدل چې امریکایانو یې ورته پلار واژه. په خبره یې چې کرزي یې له پلار سره تماس نیولی و:"له خپل کوره ولاړ شه، امریکایان به دې پر کور بمونه وغورځوي." نقیب الله ته هم معلومه وه چې د کندهار د تسلیمېدو خبره نوره د ورانۍ خواته تللې وه.

د افغانستان راتلونکي ولسمشر د خپل واک په پیل کې د افغانستان له ډېرو مهمو ولایتونو څخه یو له لاسه ورکړ. امریکایانو په سوله او تسلیمۍ باور نه لاره، په ځانګړې توګه د کندهار په څېر د یو مهم ولایت په اړه چې ډېر مقاومت یې وکړ. امریکايي ډیپلوماتانو او جنرالانو باید خپل کارونه کړي وای، ځکه هغوی د افغانستان په اړه ډېر معلومات نه لرل او دلته په ټولنیزو ترونونو هم نه پوهېدل. کرزی د حزب اسلامي، او شمال ټلوالې په څېر له حقیقي طالبانو سره هم په تماس کې و. هغه په پښتني سیاست پوهېده چې څنګه یې پر مخ یوسي. که څه هم کرزی هېواد مشر و، خو بیا هم امریکایانو تر هغه غټه ور اچوله. ګل اغا شېرزي د خپل واک لپاره د امریکایانو له طالبانو سره د اختلاف پر ټکو کار وکړ. له دې ناندریو وروسته کرزي د افغانستان د موقتې اداري د رییس په توګه خپله لومړۍ رسنیزه مرکه وکړه. د سي ان ان خبریال کرستیاني اومانپور په یوه جیپ موټر کې راغی، پر موټر یو وړوکی کاغذ لګېدلی و، پرې لیکلي و:" زه له نیویارک سره مینه لرم."

له هغه وروسته کرزی یوې چورلکې ته پورته شو، او د کابل پر لور روان شو. که څه هم د هغه ملګرو غوښتل چې له هغه سره پلازمېنې ته ولاړ شي، او له شمال ټلوالې څخه هغه وساتي، خو هغه له ځان سره لږ کسان بوتلل. کرزي ټول کسان یې بېرته اروزګان ته ولېږل. هغه نه غوښتل چې شمالي ټلوالې ته دا روحیه ورکړي چې ګني په هغوی باور نه لري.



# د پاې خبرې

له ولسمشر کرزي سره زما د وروستیو خبرو پر مهال هغه په پلازمېنه کابل کې په ولسمشرۍ ماڼۍ کې لرګین میز تر شا ناست و. سپینو زرو ته ورته قلم دانۍ کې قلمونه د میز پر سر تر یو روښانه څراغ لاندې ایښي وو. میز پاک او روڼ و. پر میز نه چټلې، نه ګڼه ګوڼه او نه هم کمپیوټر ښکارېده. له هغه سره مې د هغه د اروزګان د ملاترو په اړه اوږدې خبرې وکړې. کله چې مې د ابراهیم پوښتنه ترې وکړه، راته ویې ویل چې ابراهیم په کابل کې دی. ویل یې غواړي له هغه سره د یوې خبرې په اړه وغږېږي. ولسمشر تلیفون ور واخیست او ژر یې له ابراهیم سره اړیکه ونیوله:"څنګه یې؟ کله اروزګان ته ستنېږې؟" په ۲۰۰۱ز کال کې ابراهیم په هلمند کې د یوې ولسوالۍ ولسوال ټاکل شوی و، خو دا مهال د اروزګان د ولایتي شورا له مهمو غړیو څخه و.

کرزي په لېوالتیا راته وویل چې خپلو ملګرو ته یې له ۲۰۰۱زکاله تر اوسه کومې مهمې څوکۍ ورکړې وې. کرزي خپل سیال ته کندهار ځکه پرېښود چې له هغه سره امریکایان ملګري وو. هغه نور پر خپلو ملګرو تکیه وکړه. دا هم معلومه وه چې نور ولایتونه یې خپلو هغو خلکو ته په لاس ورکړل چې ورته وفادار وو، که یې وړتیا لرله او که نه. ما ته دا ترتیب مفسد ښکاره شو. د کرزي سیستم پر سلیقې او ملګرتیا ولاړ و. خو کرزی ورته اندېښمن نه و. هغه ماته وویل چې تکیه یې بیا هم پر هماغو کسانو وه. د هغه ملګری محمد شاه د امنیت مسوول ګمارل شوی و، او په ولسمشرۍ ماڼۍ کې به په کلیوالي بوټونو کې ګرځېده. د محمد شاه دندې ته رسېدل هغه هم د امنیت په برخه کې د وړتیا او زده کړو پر بنسټ نه بلکې د ملګرتیا پر بنسټ ترسره شوي وو. هغه د کرزي لپاره خدمت کړی و، چې نن یې بدیل ورکول شوی و. کله چې په ۲۰۰۱زکال افغانستان ته پر پوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښت، حاجي حفیظ الله هم ورسره و. هغه اوس په ابو ظبۍ کې لومړی منشي و. د کرزي دربېیم ساتونکی همدا مهال د هغه له ورور احمدولي کرزي سره په کندهار کې د امنیتي ساتونکو د مشر په توګه کار کاوه.

هغه کسان چې له پیله له کرزي سره و، له څوکیو اخیستو وروسته به یې د کمي احساس هم کړی وي، ځکه هغوی به ښايي د وزارتونو او لوړو څوکیو تمه لرله، خو کرزي او ورور یې د ولسوالۍ په کچه څوکۍ ورکړې وې. عزیز هم د یوې لوړې څوکۍ چې د وزارت په کچه وي حساب کړی و، خو وروسته هغه په اروزګان کې د کرنې د رییس په توګه وګمارل شو. عبدالغني ماما هغه کس و چې کله کرزی د لومړي ځل لپاره اروزګان ته ورغی، د هغه په کور کې مېلمه و، هغه هیله لرله چې د اروزګان والي به شي، خو هغه ته د ډېره ټیټه څوکۍ ورکړل شوه. د احمدولي رول مناسب او بد نه و. په لومړیو کې یې په سویل کې واک محدود و، ځکه هلته ګل اغا شیرزی هم موجود و، خو په ۲۰۰۵ز کال کې یې ځان د سویل نائب الحکومه احساس کړ، هغه هم مهال د کندهار د ولایتي شورا رییس و. تر هغې چې په ۲۰۱۱زکال وژل کېده، په غیرې رسمي توګه د کندهار پاچا و.

هغه طریقه چې کرزي کاروله او له خپلو اروزګاني ملګرو سره یې پرې چلن کاوه، کرزي او د هغه بهرنیو ملاتړ ته یو ځانګړی ډول ورکوي چې څنګه یې هېواد رهبري کاوه، خو بیا هم نه توانېدل چې پر ټول هېواد حکومت وکړي. د کرزي د ملاتړو قدمونه مې تعقیب کړل، له هغوی څخه مې هم په دې اړه وپوښتل چې ولې کرزی او نړیواله ټولنه تر دې دمه د هېواد په کنټرول کې ستونزې لري. د روان بحران لاملونه څه دي؟ په افغانستان کې اداري فساد څه ته وايي؟

د ۲۰۰۱زکال په وروستیو کې د افغانانو هیلې د یو سوله ییز او پرمختللي افغانستان لپاره ژوندۍ شوې وې. د کرزي هغه ژمنه چې هر کس به د طالبانو له واکمنۍ وروسته یو ځل بیا واک ته رسېږي په ښه توګه تطبیق شوه. نوي زعیم چې په انګریزي ژبه یې هم روانې خبرې کولای شوې، تر ډېره پر خپلو



لویدځوالو ملګرو تکیه کوله. د طالبانو مشران یو په بل پسې حامد کرزي ته تسلیم شول، او جګړه یې پرېښوده. کرزي له ډېرو طالبانو سره ژمنه وکړه چې هغوی به په نوي حکومت کې ونډه ولري. خو پدې کار کې د امریکایانو مداخله د دې لامل شوه چې هغوی یو ځل بیا د جګړې کرښو ته ولاړ شي. د کرزي هغه پلان چې د طالبانو په شمول به ټولې غاړې په نوي حکومت کې ونډه ولري ناکام شو. وروسته د هغه له خوښې پرته د امریکایي ځانګړو ځواکونو پر مټ کندهار د هغه سیال ګل اغا شیرزي ته ورکړل شو چې دا په خپله د ورانۍ یو بل ور پرانیستل و.

په کابل کې له شمالي ټلوالې سره د واک پر سر زړه بدی و. د کرزي د ولسمشرۍ څوکۍ د ملاتړ په بدل کې شمال ټلوالې په بُن کنفرانس کې د وزارتونو ډېرې څوکۍ واخیستې. د ۲۰۰۲زکال په مارچ کې د ولسمشر له پنځو مرستیالانو څخه یو یې و وژل شو، او تر شا یې ډېرې ناحل پوښتنې پرېښودې. کرزي د ډېرو هغو جنګسالارانو په منځ کې ژوند کاوه چې د هغه په څېر د طالبانو د واکمنۍ پر مهال له هېواد څخه تښتېدلي وو، او اوس د امریکایانو په مرسته واک ته رسېدلي و. ازبیک جنرال دوستم چې د روسانو پر ضد هم جنګېدلی و، د کرزي سره په اختلاف کې و، هغه هم یوه کلیدي څوکۍ غوښتله. خو کرزي غوښتل د خپلو پښتنو لپاره په پښتني سیمو کې کار وکړي. د نورو ولایتونو په څېر په اروزګان کې هم د نوي افغانستان لپاره د کار کولو روحیه موجوده وه. کرزي خپل ملګری او ولسي مشر معلم رحمت الله د والي په توګه وګماره. هغه په لومړیو کې د کرزي په غوښتنه له طالبانو سره د خبرو لېوالتیا لرله. هغه راته وویل:" هغه مهال په اروزګان کې امنیت ډاډمن و. کومه جدي پېښه نه وه شوې، د طالبانو له لوري نوي بریدونه نه و شوي." د طالبانو ځینې لوړپوړي کسان لا په اروزګان کې زندانیان وو، خو کرزي معلم رحمت الله ته ویلي و چې باید هغوی خوشي کړي. هغه وایي:" ما ټول خوشي کړل، هغه ډېر ښه وخت و، سوله وه او هر څه سم روان و، او موږ په همدې حالت ډاډه و."

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رحمت الله څوکۍ ډېر دوام ونه کړ، او د هغه کړنو پر طالبانو کوم مثبت اغېز ونه کړای شو. څو میاشتې وروسته هغه کابل ته ولسمشرۍ ماڼۍ ته ور وغوښتل شو، او هغه ته وویل شول چې له دندې تبدیل شوی دی. هغه وویل:"ولسمشر راته وویل چې زما پر ځای به جان محمد خان وګمارل شي، او ماته به کومه بله څوکۍ راکړي." د جان محمد خان ګمارل په دې معنا و چې د سولې اړوند رویې ته بدلون ورکړل شوی و. دا هغه کس و چې کله په کندهار کې له زندانه خوشي شو، کرزي ته یې وویل:"ټول طالبان و وژنه." ورته تبدیلۍ په هلمند او نورو سیمو کې هم ترسره شوې چې کرزي د خپلو ملګرو پر ځای نور ملګري وګمارل، اکثرو یې د کورنۍ جګړې له وخته تند شالید نه لاره. ځینو یې له طالبانو سره ستونزې لرلې، او ښایي غچ ته یې زړه و. په عین حال کې د بشر حقوقو د څار ادارې نړیوالو ته خبرداری ورکړی و چې دا ډول والیان به ستونزې وزېږوي، خو امریکایي پوځیانو ورسره د کار کولو کومه ستونزه نه لرله. جون بولډوک چې په اروزګان کې د امریکا د ځانګړو ځواکونو سرتېری و، هغه مهال چې جان محمد خان د ارزوګان والي وګمارل شو، هغه د ولایتي ادارې او امریکایي مېشتو سرتېرو ترمنځ پر همغږۍ خبرې وکړې:"موږ له هغه سره ښې اړیکې جوړې کړې. موږ د هغه سرتېري وروزل او وسلې مو ورکړې چې د طالبانو مقابله وکړای شي. هغه ته امریکا متحده ایالاتو ځواک ورکړ."

د جان محمد خان په څېر والیانو به امریکایانو ته د طالبانو د نیولو په اړه معلومات ورکول، همدا والیان د امریکایانو هم سترګې وې، هم غوږونه. د ښښنې خبره چې کرزي ته یې په هماغو لومړیو کې مشروعیت ورکاوه، اوس دې کسانو له پامه وغورځوه او د غچ اخیستو په اړه یې فکر کاوه. ځینې وختونه به د پولیسو مشر عزیز چې اوس د کرنې رییس و، او جان محمد خان له امریکایي سمندري ځواکونو سره کلیو او بانډو ته تلل او هلته به یې ورته د پخوانیو طالبانو استوګنځایونه ور ښودل. د هغوی په غوښتنه امریکایانو پر کورونو او مېلمستونو چاپې ووهلې او د خلکو د کورونو دروازې یې ماتې کړې.



په دهراوت کې پر طالبانو د امریکایانو برید د جان محمد خان له تایید پرته ترسره شوی و، هر څه چې و امریکایانو خپله کړي و. په دهراوت کې پر یوه واده په دې موخه برید وشو چې ګني په هغه کې ملا برادر ګډون درلود. هغه چې کرزي بښلی و، اوس له پامه وتی و. ملا برادر د کرزي د ښښنې په خبره باور کړی و، او په دهراوت کې له نورو ملګرو او ولسي قومي مشرانو سره اوسېده، کله چې امریکایانو د هغه د نیولو هڅه وکړه، هغه پاکستان ته وتښتېد، او هلته د طالبانو د یو مهم قومندان په توګه راڅرګند شو.

په ۲۰۰۱زکال کې کرزي د امیراین په مشرۍ د لومړۍ لیکې کماندو ته خبرداری ورکړی که امریکا د غچ اخیستو طرحه پلې کړي، لرې به نه وي چې هغوی به له ماتې سره مخ شي. ډېرو افغانانو هڅه کوله امریکایان وهڅوي چې پر هغو طالبانو بریدونه وکړي چې دوی ورسره خصوصي دوښمنۍ لرلې. کله چې مې له کرزي سره په ۲۰۰۸زکال خبرې کولې، هغه راته وویل چې امریکایان د غلطو استخباراتي معلوماتو له مخې په خپلو بریدونو کې ولسي وګړي وژني. د ولسمشر کرزي دا خبره حقیقت و، ځکه امریکایانو له کره معلوماتو پرته اقدام کاوه چې دا یې د ناکامۍ یو مهم لامل ګڼلای شو، خو کرزي پر خپلو حکومتي چارواکو او مامورینو نیوکه ونه کړه چې د همدې ستونزې اصلي جرړې وې.

که چېرې د طالبانو پر بیا را پیدا کېدو او د دې کار پر عواملو غږېږو، نو باید د کرزي د هغو ملګرو کړنې چې ورسره یې په ۲۰۰۱زکال همکاري کړې وه، تر مطالعې لاندې ونیسو. له افغانستان څخه بهر به خلکو فکر کاوه چې امریکایان طالبان نیسي، خو په افغانستان کې خبره بل ډول وه، هغوی یوازې پر شخصي دوښمنیو راڅرخېده. د بېلګې په توګه غلام نبي خان یادولای شو، هغه د طالبانو له واکمنۍ وړاندې له جان محمد خان سره شخړه لرله، اوس چې جان محمد خان واک ته ورسېد، خلکو به فکر کاوه چې ښایي اوس غلام نبي خان ته خطر وي. هغه اندېښمن و او د والي له قدرته یې وېره لرله. هغه له طالبانو سره کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه، خو له ۲۰۰۱زکال وروسته یې لېوالتیا د نوي حکومت پر لور وه. هغه د والي تر څار لاندې و، غلام نبي خان فکر کاوه چې امریکایانو خپلواک عملیات کول، خو خبره هغسې نه وه، کله چې هغه د امریکا د ځانګړو ځواکونو اډې ته ورغی، هغوی زنداني کړ. دا د غلام نبي خان تېروتنه وه، ځکه امریکایانو په والي باور لاره. هغه یې بګرام ته بوتلو، بګرام د ګوانتنامو به څېر زندان لاره، دا ځای کابل ښار ته نږدې پروت دی. هغه شپږ میاشتې وروسته خوشې شو، له ولسمشر کرزي سره تر کتو وروسته غیب شو، ښایي هغه هلمند ته تللی و.

د ترینکوټ په شمال کې یوه پېښنه وشوه چې پکې بهرنیان هم ښکېل وو، دا شخړه د جان محمد خان او هاشم خان ترمنځ وه. هاشم خان له کرزي سره د هغه د ۲۰۰۱ز کال په مقاومت کې همکاري کړې وه، ځکه نو کرزي ورسره په ۲۰۰۲زکال کتلي و، او هغه ته یې ډاډ ورکړی و چې ګني څوک به هېڅ هم نه ورته وایي. ډېر ژر دا معلومه شوه چې جان محمد خان په دې اند نه و، هغه هاشم خان تنګاوه، له هغه یې پیسې او د خلع سلاح په پروګرام کې وسلې غوښتلې. له هغه وروسته هاشم خان زړه تنګی شو او کندهار ته وتښتېد، د هاشم خان په سیمه کې د نورو قومي مشرانو له جان محمد خان سره د شخړې کولو توان نه و. هاشم خان بیا په ۲۰۱۰زکال کې په مرموزه ډول و وژل شو. جان محمد خان خپلې شخړې پاللې، کرزي او امریکایانو پرې باور کاوه.

په غیرې مستقیمه توګه د جان محمد له کرزي سره مخالفت کال په کال زیاتېده. ملا شفیق د طالبانو یو قومندان و، هغه له جان محمد خان سره هم شخړه لرله، جان محمد خان داسې فکر کاوه چې ګني ملا شفیق هغه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال زنداني کړی و. د کرزي له راتګ سره په ۲۰۰۱زکال ملا شفیق پوهېده چې واک به یې جان محمد خان ونیسي. والي به له خپلو ملېشه کسانو سره (میر اباد) ته تللو او هلته به یې د ملا شفیق او د هغه د پلویانو پر وړاندې له سختو کړنو کار اخیست. د دې پر ځای چې د ملا شفیق او جان محمد خان تر منځ شخړه حل کړي، امریکایانو د والي پلوي کوله. هغوی له



والي سره د شفیق پر کلي د بریدونو په برخه کې همکاري کوله. هغو ډیپلوماټانو چې په اروزګان کې یې کار کاوه، وایي چې له زندانیانو سره به سخته رویه کېدله او ان له مړو سره به هم له ښه چلند نه کار نه اخیستل کېده. له دې کبله د شفیق ملګري او ملاتړي پاکستان ته وتښتېدل. له کویټې به شفیق په اروزګان کې د نوي حکومت پر وړاندې وسله واله جګړه کوله.

جان محمد خان یوازې د خپلو دوښمنیو د پاللو له کبله خپل شهرت له لاسه نه و ورکړی، بلکې هغه د نشه یي توکو له کر څخه هم لویه ګټه پورته کوله. اروزګان د تریاکو یو مهم تولیدونکی ولایت دی، له تریاکو اپیم، مورفین او هیروین جوړېدلای شي. د تریاکو له کر څخه به جان محمد خان ډېرې پیسې لاسته راوړلې، د مالیې په نامه به یې د خپلو ولسوالانو پر مټ دا کار تر سره کاوه. د بېلګې په توګه  چورې ولسوالۍ ولسوال به ورته د کال د یو نیم میلیون ډالرو معادل پیسې برابرولې. دا هر څه یې د یوې فاسدې شبکې پر مټ سمبالول. د کروندګرو لپاره تریاک تر ټولو ښه او ګټور کښت ګڼل کېده.

له طالبانو وروسته اروزګان د نابودۍ پر لور روان و. د جان محمد خان کړنو د حکومت پر حیثیت او مرکز کابل باندې چې کرزی یې په سر کې و ناوړه اغېز کړی و. هماغه و چې پنځه کاله وروسته په ۲۰۰۱زکال کې بیا هم په ارزوګان کې جګړه او شخړې روانې وې. خو جګړه یوازې د طالبانو ایډیالوژیکه جګړه نه وه.

که څه هم اروزګان یو وړوکی ولایت دی، په ستراتېژیک لحاظ هم دومره مهم نه برېښي، خو د امریکایانو پر مټ یې ځینې مشران لویو څوکیو او واکونو ته ورسېدل. د جګړې لمن په نورو ولایتونو کې هم پراخه ده. په کندهار کې هم ورته خبره وه، په دې ولایت کې طالبان په ۱۹۹۴ز کال کې واک ته ورسېدل، هلته تر طالبانو وړاندې هم د کرزي قومیانو واک لاره، خو د طالبانو د واک تر ختمېدو وروسته چې کومه ښښنه شوې وه، هغه له پامه وغورځول شوه. امریکایي ژورنالیست (اناند ګوپال) د افغانستان د سویل د پرمختګونو په اړه مطالعه کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم ورته خبره کوي:

"له ۲۰۰۱زکال وروسته یو ځل بیا د طالبانو راپیداکېدل او د دولت پر وړاندې مقاومت کول کوم پلان شوی کار نه و. طالبان له مشره تر کشره ټول نوي حکومت ته تسلیم شول او خپلو کورونو ته ستانه شول، د هغوی پر وړاندې له زغم او د ښښنې پر بنسټ کار وانه خیستل شو. بهرنیانو او د هغوی نیابتیانو طالبان نیول، ځکه نو هغوی اړ شول پاکستان ته ولاړ شي، یو ځل بیا د دولت پر وړاندې جګړه پیل کړي."

ګوپال د پنجوایي ولسوالۍ د موشان سیمې د ملا احمد شاه قضیه هم مطالعه کړې، په دې سیمه کې تل د طالبانو د شتون راپورنه ورکول کېږي. ملا احمد شاه چې د طالبانو د وخت یو قومندان و، هغه نوي حکومت ته تسلیم شو، خو د شیرزي په وخت کې هغه له ځینو نورو کسانو سره ونیول شو، او د کندهار د ملي امنیت په زندان کې په دې پلمه چې ګني له هغوی سره وسلې وې، زنداني شو او په زندان کې شکنجه هم شول کېده. د پنجوایي یو قومي مشر حاجي فضل محمد چې له نورو قومي مشرانو سره یو ځای د احمدشاه د خوشي کولو په موخه تللی و، داسې وايي:

" موږ له هغوی سره په زندان کې وکتل، د هغوی پښې پړسېدلې وې. له ډېر وخته یې لاسونه او پښې تړل شوي وو. هغوی ورته ویلي و چې د زندان ساتونکو پر ځمکه پرې ایستل، او په کیبلونو به یې وهل. دوی راته وویل چې د زندان ساتونکو ته ووایو چې هغوی و وژني له روان ناورین څخه به خلاص شي."

ملا احمد شاه درې اوونۍ په زندان کې و، تر هغه وروسته یې د کورنۍ غړو وسلې په پیسو واخیستې او حکومت ته یې د ملا احمد شاه د خوشي کولو په موخه ورکړې، دا کسان بیا ونیول شول، د شاه کورنۍ اړه شوه چې خپل ټول مالونه خرڅ کړي او دولتي چارواکو ته د هغوی د خوشي کولو په بدل کې رشوت ورکړي. څو ورځې وروسته د درېیم ځل لپاره شاه او د هغه د کورنۍ غړي ونیول شول، ۴۴ ورځې زنداني شول او په پایله کې د قومي مشرانو په غوښتنه خوشي



شول. شاه او ورونه یې پاکستان ته وتښتېدل، هلته د دولت له مخالفو طالبانو سره یو ځای شول، بېرته پنجوایي ته را ستانه شول، او د وسله والو طالبانو په توګه یې جګړه پیل کړه. اوس ملا احمد شاه د پنجوایي د موشام د محکمې مشر و. د هغه ورونه قاري علا والدین او قاري محمد صادق له خپلو نورو کسانو سره د طالب قومندانانو په توګه فعالیت کاوه.

کله چې زه د کرزي په اړه فکر کوم، نو د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په اړه لوستې کرښې مې رایادېږي. هغه هم چې کله واک ته ورسېد تکیه یې پر څو قومي مشرانو، مذهبي متنفذینو او سوداګرو وه. هغه په دې کار سره په خپله هم ایسار شوی و. عبدالرحمن خان په دې پوه و چې د دې فرضیې پرمټ واک تداوم پیدا کاوه او دا خبره یې له انګریزانو سره هم شریکه کړې وه. دې رویشونو د یو څه وخت لپاره واکمنۍ ته ثبات او ژوند ورکړ. په ټیټه طبقه کې داسې فکر کېده چې امیر نا خپلواک و، نو ځکه یې د واک رنګ پیکه و.

عبدالرحمن خان انګریزانو ته ویلي و:"زه د هېچا نه دوښمن یم او نه هم دوست، زه به هېڅ مقام وانه خلم او نه به هم کوم سند لاسلیک کړم، تر هغه چې د قومي مشرانو خوښه نه وي." کرزی هم ورته درېځ لري، پر دې سربېره چې د غرب ملګری دی، پر خپلو هغو ملګرو یې ډېره تکیه کړې چې ښه شالید هم نه لري. دا کسان د کرزي ځاني امنیتي ساتونکي وو، لا هم هغه ورسره خپله وفاداري پالي. د کرزي په خپله کورنۍ کې هم ځینې کسان شته چې وايي ایساف به اصلاحات راولي. په دې کورنۍ کې شخړې او دوښمنۍ پخوا په اتیایمو کلونو کې پیل شوې وې، هغه مهال چې د کرزي د پلار ناسکه ورور د کورنۍ د بل غړي چې د یار محمد په نوم و، و وژل شو. په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ز کلونو کې دا شخړې یو ځل بیا تازه شوې. لومړی خبره د یارمحمد د زوی وحید د پټې وژنې وه، چې ښايي هغه د کرزي د پلار د ناسکه ورور د زامنو څخه یوه یې دا کار کړی وي. په ۲۰۱۱ز کال کې ایساف په یوه کور چاپه ووهله چې پکې یارمحمد خپله و وژل شو. په لومړیو کې ناټو ویل چې د یو طالب پلار یې وژلی و، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یې وښودله چې هغه یارمحمد و او په لاس کې یې ( AK 47 ) وسله وه. د کرزي ویاند ژر ځواب ورکړ:"ولسمشر پر ایساف غږ کوي چې د ولسي خلکو ساتنه وکړي، نه دا چې ولسي وګړي و وژني." ژر دا څرګنده شوه چې خبره د ولسي خلکو او یا هم طالبانو د وژلو نه وه. د کرزي کورنۍ ایساف ته ناسم استخباراتي معلومات ورکړي و چې په پایله کې یې ایساف د یار محمد پر کور چاپه ووهله.

کرزي د خپلو وفادارو کسانو ننګه کوله، هغه مهال چې ایساف غوښتل د هغه یو مفسد ملګری په سویل کې له دندې لرې کړي، د انګریزانو په وینا چې کرزی یې په سر ودرېد، او دا یې هم نه منله چې ګني هغه دې مفسد وي. په پایله کې کرزي د هلمند والي شیرمحمد اخندزاده له دندې لرې کړ او هغه یې په کابل کې سناتور کړ، کرزي انګریزانو ته اخطار ورکړ چې ګني هلمند به یې له لاسه ووځي. د یوه کال په اوږدو کې کرزي د شیر محمد اخندزاده په غوښتنه نوی والي له دندې لرې کړ. یو برتانوي ډیپلومات وایي:"ولسمشر د خپل والي ننګه کوله، دې ته یې نه کتل چې موږ دلته څه کوو؟"

جرمنیانو په اروزګان کې ورته تجربه لرله. کله چې هغوی غوښتل د اروزګان والي جان محمد خان له دندې لرې کړي، کرزي یې د ملګرتیا له کبله ننګه کوله. کله چې هغوی له کرزي سره خبرې کولې، هغه پرې تور ولګوه چې ګني جان محمد خان نه پېژني. کرزي هغوی ته وویل:"جرمنیانو د یو څو په قهر شویو افغانانو د خبرو په اساس پرېکړه وکړه. موږ دې ډول کسانو ته اړیتا لرو." دا خبره جرمنیانو ته د دې په معنا وه چې ګني مداخله ونه کړي.

د جان محمد خان پر ځای په اروزګان کې عبدالحکیم مُنیب د اروزګان والي شو، هغه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د یو وزارت مرستیال و. د نویمې لسیزې په منځ کې هغه مهال چې کرزي لا غوښتل له طالبانو سره کار وکړي، مُنیب له هغه سره په اسلام باد کې د امریکا سفارت ته تلو. هغه په ۲۰۰۱ز کال کې ولسمشر کرزي ته تسلیم شوی و، هغه د اروزګان د والي په توګه غوښتل هغه



قومي اختلافات چې د جان محمد خان له وخته را پاتې و له منځه یوسي. د بېلګې په توګه هغه په دهراوت کې د بابوزیو د قوم ځینې مشران وهڅول چې ارام ژوند وکړي. یو کال یې هڅو دوام وکړ. د هغه طالبي شالید ته یو ځل بیا د جان محمد خان د خواخوږو پام شو. جان محمد خان یې په اړه راته وویل:"هغه له موږ سره ژمنې کړې وې چې دا به وکړي هغه به وکړي. خو هغه لا طالب دی." امریکایانو ځکه منیب نه خوښاوه چې جان محمد خان یې په اړه څه ورته ویلي و. که څه هم هغه لا والي نه و، خو امریکایانو ورسره اړیکې ساتلې، هغه په اروزګان کې لا ملېشه کسان لرل. په اروزګان کې حکومتولي په هرج و مرج کې ور ښکېله شوه. د کمزوري والي، او جان محمد خان د قدرت ترمنځ انډول نه شو راتلای، نو ځکه د امریکایانو او جرمنیانو هم پر دې خبره لانجه شوه.

په ۲۰۰۷ز کال منیب دنده پرېښوده. هغه الوتکې ته پورته شو، له اروزګان څخه یې په غبرګ کې له ځان سره د اروزګان د خزانې څه شته هم یوړل. اروزګان یې په ستونزه کې تر شا پرېښود. کرزي د اروزګان لپاره اسدالله همدم د والي په توګه وګماره. هغه د زابل ولایت و. جان محمد خان راته وویل:"همدم را باندې ګران دی. هغه له طالبانو سره خلاف دی. هغه زما له ملاتړ پرته څه نه شوی کولای، زه د اروزګان پلار یم." همدم چې د پوپلزیو له قدرت سره ډېر په اختلاف کې شوی و، په ۲۰۱۰ز کال پر کور کښېنول شو. پر هغه باندې د یوې لویدیځې موسسې له لوري د فساد تور و. پر کرزي هم د غربیانو له لوري د فساد له کبله نیوکې کېدې، بالاخره دا دی جان محمد خان د اروزګان بل والي همدم هم له دندې لرې کړ.

د جان محمد غیرې رسمي پاچاهي ناټو ته هم د سر خوږی وه، ناټو اوس او پخوا له سختو حالاتو سره مخ وه. تر هغه وروسته چې جان محمد خان د جرمنیانو تر فشارونو وروسته له دندې لرې شو، پرځای یې عبدالحکیم منیب وګمارل شو، جان محمد خان پرې امر وکړ چې د (چورې) ولسوالي مخالفو مشرانو ته خوشي کړي. دا د حمایت یو ځانګړی ډول و چې پر مټ یې پخواني والي غوښتل وښیي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه تر نوي والي فعال او لا یې هم واک کار کاوه. دا سیمه ورځ تر بلې په بد حالت کې ښکېلېدونکې وه. د هغو قومي مشرانو لاس ته ولوېده چې له یو بل سره یې سیالۍ پاللې، ځینو یې له طالبانو سره همدردي لرله او ځینو یې نه لرله. د چورې ولسوالۍ ولسوال عبیدالله امر ته غاړه کېښوده، په ۲۰۰۷ز کال کې بیا هم شخړې تر سترګو کېدې. یو ځل بیا سیمه د ګړنګ پر غاړه وه، او د جان محمد خان د ملېشه کسانو لاس ته ولوېده. د اروزګان په مرکز کې شپېته جرمني سرتېري وو، هغوی د روان حالت له کبله حیران وو. هغو له کمپ هولانډ سره هم په دې هکله اړیکې نیولې وې. افغانانو پوځي پوستې، او د پولیسو دفترونه په ښار کې پرې ایښي وو، په همدې وخت کې د جرمني سرتېرو شمېر پنځه سوو(۵۰۰) ته جګ شو چې په پایله کې د پنځلس سوه مخالفینو له مقاومت سره مخ شول چې اکثریت یې دهراشان او میراباد وو. په چورې ولسوالۍ کې یې د مخالفینو پر وړاندې جګړه پیل کړه، که څه هم پر رسنیو خبر داسې خپور شو چې دا له طالبانو سره جګړه وه، خو پدې سترګې نه شي پټېدلای چې د دوست او دوښمن ترمنځ یو توپیر وي. جګړې ځو ورځې دوام وکړ، خو له جرمني سرتېرو سره د ځایي ځواکونو له لوري کومه همکاري ونه شوه. یوازې له جرمنیانو سره سیمه ییز مشر روزي خان چې په خټه بارکزی و مرسته وکړل. دا په داسې حال کې و چې هغه د پولیسو د قومندان په توګه یو کال وړاندې د جرمنیانو د فشارونو له کبله دنده پرې ایښې وه، په همدې مهال جان محمد خان هم له دندې لرې شوی و. څه امن راغی، د ځایي ادارې د جوړښت په موخه رایې واچول شوې، چې په ترځ کې یې روزی خان وړونکی اعلان شو.

همدارنګه مطیع الله چې په خټه پوپلزی و په کندهار کې یې پر ایساف باندې د اړتیا له مخې برید وکړ. په ۲۰۰۹ز کال کې له هغه سره د جرمنیانو اړیکې خړې پړې شوې، دا هغه مهال و چې هغوی پوه شول چې پر موټرونو یې د اروزګان او کندهار پر لویه لاره هغه برید کړی و. داسې ویل کېدل چې مطیع د کندهار او



اروزګان تر منځ د لارې امنیت په غاړه و، هغه به لاسي ځینې کسان د لارې د امنیت د خرابوالي په موخه هڅول تر څو وښیي چې د لارې امنیت خوندي نه و، او له دې کار څخه به یې ګټه پورته کوله. کله چې رسنیو خبر خپور کړ چې پر ایساف د طالبانو برید وشو د کرزي حکومت یې ملاتړ کاوه، له دې سره نورې خبرې راپیدا شوې. هغه مهال چې جرمنیانو د مطیع الله له امنیت څخه پرته غوښتل خپل موټرونه تر کندهاره ورسوي، او ویې نه غوښتل چې هغه ته د هر موټر د امنیت پر سر ۳۰۰۰ امریکایي ډالر وکړي، او په خپله موټرونه ورسوي، په دې وخت کې د لارې امنیت خراب شو، په لاره کې نیم درجن ځمکني ماینونه وچاودېدل، چې په ترځ کې یې اووه جرمني سرتېري ژوبل شول.

ځانګړي امریکایي ځواکونه د خبر په لوستو په غوسه شول، هغوی ویل چې دا طالبان دي کوم بل څوک نشي کېدای. د امریکایي ځانګړو ځواکونو قومندان پرېکړه وکړه چې مطیع الله له ځان سره د جرمنیانو ملکي استازي ته ور ولي او له هغه سره له نږدې خبرې وکړي. هغوی ته کوم ځانګړی هرکلی ونه شو ویلی، د مطیع الله په شتون کې امریکایي قومندان پر جرمنیانو په تند غږ پټکې وکړې چې ګني پر مطیع الله دې تورونه نه لګوي. له خبرو پای ته رسېدو وروسته مطیع الله د جرمنیانو له کمپه ووت، او اووه جرمني ژوبل سرتېري او برخلیک یې همداسې پاتې شو.

د اروزګان، کندهار او هلمند تېرو دیارلس کلنو جګړو ته په کتو سره ویلای شو چې کرزي تر ډېره پر خپلو کسانو تکیه کړې، هغوی بیا پر خپل وار د امریکایانو پر مټ خپل مخالفتونه پاللي. د حکومت د ناکامۍ او فساد یو دلیل همدا د ملګرتیا پالل ګڼلای شو.

اوس له مخالفینو سره دسولې خبرې هم ستونزمنې شوې، په لومړیو کې د سولې د خبرو لپاره یو لوی فرصت و. که فکر وکړو د طالبانو تر ماتې وروسته د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې لپاره ډېرو سرتېرو ته اړتیا نه لیدل کېده. د طالبانو له واکمنۍ څخه وړاندې د ځینو کورنیو ترمنځ شخړې او اختلافات وو. د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سویل کې گرځېدو ماته دا وښوده چې ډېر واک د بهرنیو سرتېرو په لاس کې و. په اروزگان کې هرې شخړې او جگړې له پخوانیو خصومتونو سره په یو ډول نه یو ډول اړیکه لرله. په حقیقت کې بهرنۍ مداخلې دا ځایي شخړې نورې هم سره ولړلې. د کومو جنگسالارانو نومونه چې پورته یاد شول، هغه کسان وو چې بهرنیان یې د خپلو خصومتونو پالنې لپاره کارول.

د بهرنیانو شتون او مداخلې نوی نسل هم پرې نه ښود چې پخواني خصومتونه پرېږدي او د راتلونکي په اړه فکر وکړي، چې د زړو په پرتله د نویو له شخړو لروالی له ورایه ځرگندېږي. دا دی دیارلس کاله بشپړېدونکي دي، امریکایان په ۲۰۱۴ز کال کې افغانستان خوشي کوي، د واک برخلیک د کرزي د ملگرو لاس ته لوېدونکی دی. په ۲۰۱۱ز کال کې کرزي او امریکایانو خپل دوه ډېر مهم کسان له لاسه ورکړل، یو جان محمدخان او بل احمدولي کرزی و چې و وژل شول، ښایي دا به یې هم د مخالفینو له لوري ترسره شوې وژنې وې، ځکه طالبانو یې پړه پر غاړه نه ده اخیستې. هغه کسان چې پر ځایونو یې گمارل شوي، هماغه نظریات پالي چې پخوانو یې پالل. په کندهار کې د احمدولي کرزي تر وژل کېدو وروسته عبدالرازق د کندهار د امنیه قومندان په توگه وگمارل شو. که څه هم رازق د کندهار والي نه دی، پر هغه د بشر له حقونو څخه د سرغړونې تور دی. هغه د افغانستان په سویل کې یو پیاوړی کس دی. کله چې په ۲۰۱۰ز کال کې جرمنیان له اروزگانه ووتل، مطیع الله د اروزگان د امنیه قومندان په توگه وگمارل شو، هغه هم د رازق په څېر له واک او شهرت څخه برخمن شو. په ۲۰۱۲ز کال کې مطیع د کرزي په همکارۍ امیر محمد اخندزاده د اروزگان د والي په توگه مقرر کړ. امیر محمد اخندزاده د شیر محمد اخندزاده ورور دی، شیر محمد اخندزاده په ۲۰۰۶ز کال کې د هلمند له ولایته د انگریزانو پر مټ لرې شو.

کرزي او امریکایانو له هغو هڅو سره چې د واک په نوم یې لوبه روانه کړې وه او غوښتل یې خپل پلویان واک ته ورسوي او یا یې وساتي د ولسواکۍ هغه ایډیال



زیانمن کړ چې لویدځوالو له ځان سره راوړی و. د ملگرتیا کوم نیټورک (شبکه) چې کرزي او امریکایانو پرې تکیه کوله، واسطه بازیو او خپلوۍ پاللو ته لاره هواره کړې وه. له دې سره دوښمن ځواکمن او حکومت کمزوری شو.

د پایلې په توگه باید ووایم چې په روان حالت کې په جگړه کې د غربیانو شتون تر سوال لاندې دی. ایا هغه څه مو چې کړي د همدې ارزښت یې درلود؟ کله چې سرتېرو جگړه کوله هغوی فکر کاوه چې له ځواکمنو طالبانو سره جگړه کوي، خو دا فکر یې ډېر غلط ثابت شو. د ترهگرۍ پر وړاندې جگړه له هغه مغشوشونکې وه چې ورته د سیاستوالو او پوځې جنرالانو له لوري ویل شوي و. ایساف د یوې ناکامې ستراتیژي تر تطبیق وروسته بله ناکامه ستراتیژي تطبیقوله. هغه جنرالان چې د دېوالونو شاته ناست وو هم حیران وو. ایا بد خلک په زندانونو کې دي، که د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې؟

پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library